



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زيارت په زيارت

په افغاني ټولنه د حاکمو خرافاتي،شرکي او بدعتي باورنو

تمسخوري رازونه

ليکوال: محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | زیارت په زیارت |
| لیکوال: | محمدنعیم وردګ |
| واتساف نمبر: | ۰۷۴۷۷۴۳۰۹۱ |
| فسبوک پاڼه: | نعیم جان بوډا |
| ډېزاین: | هلمند اخږ ۰۷۷۸۰۱۴۲۸۳ |
| چاپ وار: | لمړی |
| د چاپ کال: | ۱۴۰۴ لمریز کال |

**مالي همکاران:**

انجینر فضل محمود (سلیمي)

انجینر نعمت الله (نوری)

سیف الدین (افغان)

انجینر صدیق الله (امید)

انجینر محمدانور (مایار)

**ددې کتاب ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ليک لړ


سر ليک ........ 3
د ناروغۍ لومړۍ حمله........ 6
(د جنسي غړو وهمناک پړسوب)........ 6
سپين کلينک ........ 10
نعيم چوره دی ........ 12
ډېر نجس سړی يې ........ 18
شفاء بخشه چينه ........ 23
د شينوارو شپه ........ 27
جنيات ډاکتران ........ 43
په ريګ کې خښېدل........ 54
کوچی ملا........ 58
پېښنوری درملنه ........ 63
امريکايان دې ولي........ 69
شکسته بند سخي ........ 74
د کشف هڅۍ ........ 77
د زينو په کونج کېناستم ........ 80
د مچانو لښکر ........ 84
د شهيد حاجي فضل الربي زيارت........ 90
د لوړ بزرګه ........ 93
د شيخ اعظم زيارت........ 96
د زمانخېلو زيارت ........100

(c) ketabton.com: The Digital Library




خر پټې ........................................................................................ 103

تورو سترګو خوړلی ................................................................................ 105

بربنډې ښځې ...................................................................................... 110

د تور سپي پوست ................................................................................ 122

دوکانداري ....................................................................................... 125

نداف ملا ......................................................................................... 128

د باغ داود پيرخانه ............................................................................... 133

د نيازبيک کوچۍ .................................................................................. 136

د ګردېز زيارت او ملا ............................................................................. 140

داغ لګول ........................................................................................ 150

د شکر درې ملا ................................................................................... 154

د لنګر نجلۍ ...................................................................................... 157

ملا ګونګي ته دويم ځل ورتګ ..................................................................... 162

د مرګ غوښتنه .................................................................................... 167

د سينې چاق کول .................................................................................. 184

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سر لیک

استاد اسدالله غضنفر صاحب دې الله ج تر ډېره ژوندی لري، دده چاپي اثار، لیکنې نه یوازې د مفهوم، نثر د روانیت او په خورا ښایستګۍ سره د موضوع راټولېده له اړخه ډېرې ښکلې وي، بلکې خپلو لوستونکو ته د پوهاوي او لوی درس ورکولو تر څنګ، پاڼه په پاڼه د لیکلو لپاره ډېرې مهمې او ښکلې سوژې، فکر، د لیکلو حوصله او انرژي هم ورکوي.

څولپې فکرونه کتاب یې نوی چاپ شوی و، په ځینو انترنیتي صفحو یې اعلانات او توصیفونه کېدل، لوستلو ته مې یې ډېره تلوسه و، خو له تاسو یې څه پټه، هغه شپې ورځې ډېر بې جیب خرچې وم، ومې نشوی کولی چې سم د لاسه یو کتاب پلورځي ته ورشم، ترې رایې وړم، نه پوهېږم د چاپ څلورمه، که پنځمه ورځ یې وه، چې یو کس په خپله فسبوک پاڼه لیکلي و: که د څولپې فکرونه کتاب pdf مو پکار وي ماته پیام وکړئ.

زر مې یې د مسینجر صفحه راخلاصه کړه، له سلام او جوړ پخیر وروسته، د خپل واتساف نمبر په ورلېږلو سره مې د څولپې فکرونه کتاب د pdf غوښتنه ترې وکړه.

کور یې ودان، ماښام مې چې کتل رالېږلی یې و، که څه هم ټول کتاب فکر کړم شاوخوا ۳۰۰ صفحه دی، دې هلک یې یوازې د ۱۶۳ صفحو عکسونه اخیستي و، بیا یې د pdf بڼه ورکړې وه، له ښېخي نشته نه ښه و. په مزه، مزه مې یې لوستل پیل کړل، څنګه یې چې نوم څولپې فکرونه دی، واقعاً په ښېلا ښېلو برخو کې یې ډېر مهم موضوعات پکې رااخیستي و. یو ځای یې ویلي و: هر انسان د خپل ژوند په اوږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د یو شمېر جالبو تجربو، مشاهدو او پېښو شاهد پاتې کېږي. پس هر څوک که دغه ورسره شته مواد د یو کتاب په بڼه ولیکي او له یو بل سره یې شریک کړي؛ همدغه دي چې د یوې ټولنې د عامه پوهاوي سطحه لوړوي، ژبه یې غني کوي، فرهنګ یې ځلاوي. که څه هم استاذ په عیني الفاظو نه و ویلي، خو مفهوم یې تقریباً همداسې و، پس دده د خبرې اړوند، ما سم له واره خپل ځان مخاطب کړ، چې ښا د غضنفر صاحب په خبره که رښتیا همداسې وي؟ بیا نو زه د خپل دری نیمې لسیزې عمر په لړ کې کومې تجربې، مشاهدې لرم؟ یا داسې پېښې مې له سترګو لاندې تېرې شوې چې د هغه راټولول او لیکل مو د ټولنې، ژبې او فرهنګ لپاره ګټور اوسي، واقعاً په لیکلو او لوستلو وارزي؟

له لږ فکر کولو وروسته مې ناڅاپه راپام شو: اوووو سړیه! تا خو تقریباً دوې نیمې لسیزې یوه ډېره سخته ناروغي تېره کړې، په دې لړ کې له ډاکترانو علاوه، د لسګونه زیارتونو، ملایانو، کوډګرو، فال بینانانو، ټګمارانو، نجومیانو، پیرانو او بزرګانو اړوند بې شمېره عجیبې، غریبې له بدعت، خرافاتو، طنز او درد ډکې خاطرې لرې. د کلیوالي یا پخوانیو خلکو نه د رامیرات باورونو له مخې لسګونه ډوله غېرې علمي، غیرې انساني دوګانې او طریقې دربانديې کار شوې. که خدای ج وکړي چې په سم ډول یې راټولې او خپلو هېوادوالو ته ورسولی شې، دا به یقیناً د ټولنې د پوهاوي او فرهنګ لپاره زیات مفید تمام شي. همغه و چې د لیکلو لپاره مې یې دومره زیاته تلوسه راوپارېده، چې د غضنفر صاحب د کتاب مطالعه مې په نیمه کې ورته پرېښوده، د خپل کتاب په لیکلو مې پیل وکړ، چې په پایله کې شاوخوا له یو کال وخت اخیستلو پس، ایله نن وتوانیدم کوم چې ستاسو لاس کې دی ( زیارت په زیازت ) تر نوم لاندې کتاب مې پرې ولیکلو. خدای ج دې وکړي چې د لیکنې طرز او ترتیب مې څه ناڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحيح وي، مفهوم مې رسولی وي، زما له هيلې سره سم، وطن او ټولنې ته مو مؤثر ثابت شي. ددې ټولګې له لوستلو وروسته مو هيوادوال په ناپوهۍ سره زيارتونو کې په شرک، بدعت او خرافاتو کې ښکېل نشي، يا زما په شان د ملايانو په نوم کوډګرو، ټګمارانو، فالبينانو.... په بېلا بېل ډول ښکار نشي، پيسې ترې ونه شکوي، وخت يې ضايعه نشي. دغه راز کتاب کې به مو لوستي وي، يا به يې ولولئ، زما غوندې په نورو هېوادوالو ناروغانو مو د پخوانيو رواياتو يا زموږ او تاسو د ټولنې د ناسمو باورنو لمخې، د درملو په نوم ځينې کثيف، مطلق حرام او بې ګټې شيان ونه خوړل شي. له عقل او انسانيت نه لرې، بعضې کاروايۍ پرې انجام نشي. يا هم حداقل ددې ټولګې لوستل مې د لوستونکو لپاره په خپل صحت يې د شکر کولو باعث شي، هم بسنه کوي.

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناروغې لومړۍ حمله
## (د جنسي غړو وهمناک پړسوب)

له نن څخه ۲۴ کاله وړاندې یعني په ۱۳۷۹ لمریز کال چې شاوخوا د دوولس/ دیارلسو کلونو په عمر وم، پلار مې ایران کې و، سره له دې چې وړوکی وم، د دومره لویو مسئولیتونو جوګه نه وم، لکه را له غاړې شوي چې و، نه پوهېږم زموږ د هغه وخت کورني مجبوریتونه او که څه یې وګڼم؟ پس کولی مې شوی، کنه، د کورنۍ د مشر زوی، مشر ورور په صفت اړ وم، چې د مور په لارښونه او مرسته تر خپله وسه مې ګوډه ماته د کور د سرپرستۍ سربېره، د خپلې ځمکې دهقاني هم کړې وی، همدا و چې د مني موسم و، په پټیو کې د رېبل شوې شفتلې نه مې له خپل توان سره برابرې ګوېندې (د خره بار) جوړولې او کورته مې راوړې.

ټوله ورځ وچلېدم، شفتله مې رانقل کړه؛ مازیګر وروستۍ ګوینده وه، نسبتاً نورو ګویندو ته څه لویه شوه، ځکه شفتله لږه زیاته وه، خو دومره هم نه چې بله ګوینده شوې وی.

په دې وخت کې مو د کشرۍ خاله کوژده شوې وه، واده یې لا نه و شوی، یو ځوان لیور یې میلمه راغلی و، دا ځل مې نوموړی میلمه هم چکري راسره بولی و، کله مې چې ګوینده وتړله، شاوخوا مې وکتل، په بل چا مې سترګې ونه لګېدې چې راسره بار کړې یې وی، سره له دې چې میلمه نوی خېښ و، پاک او اوتو کړی لباس یې په تن و؛ مجبور شوم، د ګویندې د راسره بارولو مرسته مې ترې وغوښته.

نوموړی له ما ډېر مشر له قده لوړ قوي ځوان و. کله مو چې د خره شاته ورجګوله، ګوینده زما په طرف راولوېده، بیا مو هڅه وکړه، دا ځل هم زما زور ونه رسېد، خره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د پورته کېدو په ځای زما په لور رازانګه شوه، که څه هم ځنګه مې چې وړاندې وويل، دا ځل ګوينده درنه وه، مګر دومره هم نه چې له يو بل کس سره په ګډه يې خره ته پورته نکړای شم. هېڅ نه پوهېدم چې ولې مې زور نه رسېږي؟

بزګران او کليوال خلک پوهېږي، د ګويندې پورته کول يوه خاصه طريقه او چل غواړي؛ يو لاس د ګويندې تر ګوينده چوب (لرګي) لاندې کېږي، بل لاس تر ګوينده تاوېږي، وړاندې چربل يا پړی نيسي، بيا يې پورته کوي، چې په دې بڼه اسانه په خره بارېږي. خو زه چې کله په دربيم ځل ورته متوجه شوم، ميلمه مو دواړه لاسونه تر ګوينده چوب لاندې کول، له ګويندې يې لاس نه تاواوه. که څه هم اطرافي کليوال سړی و، طبعاً د ګويندې په پورته کېدو او بارېدو به پوهېده؛ خو فکر کړم دا کار يې له دې امله کاوه، چې جامې يې خيرنې نشي.

همدا و چې د ګويندې زور ټول په ما راتلو او هر ځل راباندې رالوېده.

خو بنه و دی هم ستړی شو، په دې دربيم ځل مخکې له دې چې زه ورته ووايم، له ګويندې يې لاس تاو کړ، په خره مو بار کړه. ده يې جامې ټک وهلې، ما په خره پسې ګوينده نيولې وه، راروان شوو.

د کور او ځمکې ترمنځ مو نسبتاً ډېره لار وه، د هغه سيمې خلکو ته معلومات شته، ځمکه مو صالح خيلو او کور مو انبوخاک کې و، تقريباً پنځه، شپږ کيلو متره فاصيله راځي تر نيمی (دليل چل) پورې چې راغلو، د پښو قات کې تناسلي غړي (مايې) مې څه درنه او پړسېدلي احساس کړل، خو لاس مې بند و، کتلی مې نشوی. کرار کرار يې دروندوالی او پړسوب زياتېده، ان تر دې چې د پښو حرکت مې يې محدود کړ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميلمه شرمېدم، نشوی مې ورته ويلی چې ماته داسې مشکل راجوړ دی، دا ګوينده ونيسه.

د څه نورې لارې په وهلو سره داسې حالت ته ورسېدم، چې هم مې ګوينده تکيه کړې وه؛ هم مې ځان پسې راکاږه، که څه هم درد يې نه لاره، صرف ډېرې درنې شوې او زنګانونه پکې بندېدل، قدم نه ورسره اخيستل کېده.

دا مهال مو مورني بابا په خپل کور کې يو، دوه اطاقونه راکړي و، هلته اوسيدو، خپل کور مو په زاړه کلي کې و، زلزلې وران کړی و. خو بيا هم ځينې اطاقونه لږ پکې جوړ و، شفتله مې همغه زاړه کور ته وړه؛ چې راورسېدو ګوينده مې له خره واړوه، هاخوا کنډوالې ته ولاړم، چې ګنډه کې مې وروکتل، وضعيت مې بېخي خراب و، سره له دې چې درد يې لا هم نه کاوه، خو پړسوب يې بېخي زيات وو.

يقين وکړئ، د مايو (هګيو) کڅوړه مې د يو برابر ديګ يا چايبر په اندازه پړسېدلې وه. له وېرې او وارخطايۍ په ژړا شوم. ورغلم له مور سره مې راز شريک کړ، مور مې هم د حالت په ليدو ډېره وارخطا شوه، سم له لاسه يې سترګې رالندې شوې. خو دا چې يو خوا مې پلار ايران کې و، بلخوا قريب شپه راداخله وه، شفاخانې هم لنډې نه وې، نه د اوس په شان پرېمانه موټر و. پس طبعاً د هرې مور چې زما په شان جوړ، روغ مشر او دست يار زوی يو ناڅاپه داسې سخت او خطرناک ناروغ شي، د مورنۍ عاطفې له مخې د خپګان او وېرې په حد کې به يې د عاجلې درملنې په پار هر خوا ډېرې لالهانده منډې وکړي. په هېڅ صورت نشي کولی چې تر سهاره يا هم ډاکتر ته د تګ زمينې تر مهيا کېدو آرامه کيني. دغه و چې زما مور هم په لمړي قدم کې زموږ په ديوال شريکه ګاونډۍ (..... انا) چيغه ګډه کړه، الله ج دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبښي ډېره مهربانه او د وخت تجربه کاره ښځه وه، نه پوهېږم چې زما ناروغۍ ته يې څه نوم ورکړ؟ مور ته مې يې وويل: جنسي غړي يا پړسېدلي اندامونه يې د غوايه په تازه او تودو خوشايو کې پټ کړه.

سربېره ددې چې زه له ډېر وړکتوبه، د داسې مردارو شيانو په وړاندې خورا حساس وم؛ زښته زياته کرکه به مې ترې کېده، هېڅ مې اروا نه منله، چې په بدن مې لانده خوشايه کېږدم.

خو بدبختانه بله لاره نه وه، زمونږ د دوستانو له جملې، د معلم حضرت الله، خدای ببښلي او هر چا په غم شريکه مورکۍ مو په جريان کې واچوله، چون مونږ مالداري نه لرله، دوی به تل غواوې او د ځمکو د قولبې لپاره جوړه غوايان ساتل، يو ساعت وروسته يې په يوه وړوکي تش کې ښه ډېر تازه او ګرم د غوايانو خوشايه راولېږل، د شپې له ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور په دهلېزه کې د توشکې په سر، د ترپال ټوټه راته هوار کړه؛ له پاسه زه پرې څملاستم، کم او زيات نيم من خوشايه مې يې په مايؤ او سپاخه راکېښودل، ښې يې پکې پټې کړې.

دا چې يو خوا خپله مائې ډېرې پړسېدلې وې، بلخوا نژدې نيم من خوشايه شول، ټوله شپه لکه د غولکې (لندې) لاستی دوه شاخه پروت وم.

دا يې هم په هر حال ډېر بد بوی يې لګېده، تر سهاره مې سترګې پټې نه کړې، سهار مو چې خوشايه لرې کړل، د شيانو پړسوب په همغه خپل حال و، هېڅ کومه بهتري نه وه پکې راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپین کلینک

د خوشیو د شپې له تېرېدو او بې نتیجه ګۍ وروسته یې، سهار مو چې چای وخواړه، مور مې د سیدآباد ولسوالۍ اړوند شنيز په سیمه کې د سپین کلینک په نوم روغتون ته بوتلم، هغه وخت سرک خراب و، نوموړی روغتون زموږ له کوره د موټر په مزل تقریباً یو ساعت یا له دې هم لرې و. د نوبت په رارسېدو سره د ډاکتر معاینه خانې ته ورننوتلو، چپرکټ کې پرېوتلم، ډاکتر مې ناڅاپه پرتوګ وښویاوه، تناسلي غړي مې یې لوڅ کړل، دا چې یو خوا ماشوم وم، بلخوا کلیوال شرم ګیر هلک وم او نه هم له دې مخکې د داسې واقعې سره مخ شوی وم.

د پرتوګ ښویول د ټوپک د ډز غوندې بد راباندې ولګېدل، زر مې لاسونه ورواچول، واپس مې راکش کړ، په ژړا شوم، له چپرکټ نه د راښکته کېدو هڅې مې شروع کړې، ډاکتران دوه شول، په زور یې وکتلم، د بستر یې راته ووېل، ما لا هم ژړل، مور ته مې وېل: کور ته ځو، بستر کېږم نه.

مور مې سره ددې چې سم یې راسره ژړل، کله به غوسه شوه، کله به یې دلاسا کولم، له مور سره په جنجال مې ډاکتران هم راته په قهر شول.

بالاخره بستر یې کړم. سربیره له دې چې د هر ځل پرتوګ ښویولو سره مې د چا خبره له شرمه غوښې توئېدې، د ډاکترانو سره مې جنجال کاوه، خو دوی په زور و، که په رضا خپل کار مخ ته وړه. له پرسېدلو تناسولي غړو یې سپینه طبي بنداژ ته ورته کشي لته کلکه راوپیچله، فشار یې پرې وروړه او ورسره یې عفونت ضد دواګانې راته شروع کړې، تر پنځه ورځې دوا استعمالولو وروسته ښه شوم؛ د مایو کڅوړه کې ټولې شوې اوبه ووتلې، تقریباً خپل نورمال حالت ته ورسېدې. په شپږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ يې له بستر نه راويستلو، د کور لپاره يې يوه نسخه دوا راته وليکه، په ټوله خوشحالۍ له شفاخانې د کور په لور راروان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعيم چوره دی

له بدمرغه د جنسي غړو په پړسوب او روغتون کې د بستر په خبرېدو سره مې کلي، کور کې آوازه راپسې خوره شوې وه، چې نعيم چوره دی. دا خبره د لويانو تر څنګ د همزولو او ملګرو په شمول مې، د ټولو غټو او وړو هلکانو تر غوږونو رسېدلې وه. درحالې کې چې ماته دا د چوره توب خبره هم ډېره له عيب او شرم نه ډکه ښکارېده؛ تنها ماته نه، ددې نورو هلکانو په اند هم يوه ډېره عيبجنه او شرماوره ناروغي وه.

پس چا به چې د چوره توب خبره راياده کړه، يا به په خپلو کې سره وپسنېدل، ځينو خو به له مسخنده دا کار کاوه؛ زما رنګ به له خجالته تک سور واوښت، ورسره په جنګ به شوم. که څه هم له روغتون نه ډېر خوشحاله راغلم، خو کلي کې د چوره توب هنګامې راپسې خورېدو بېخي ډېر خپه کړم؛ تر ماښامه مې له ځينو بې احساسه او شوخو هلکانو سره ناندرۍ پرې ووهلې، چې دوی به په يو او بل رنګ تمسخوري د چوره توب په تور تورنولمه، ما به له ځان نه دفاع کوله؛ چې ګواکي چوره نه يم.

د شپې هم هېڅ خوب نه راتلو، تر نيمې شپې مې دا چورتونه وهل چې څنګه د چوره توب نوم، يا دې هلکانو راباندې کړی شک له ځان نه لرې کړم؟ خو هسې مې شپه شبګيره کړه، هېڅ کومه معقوله طريقه مې ذهن ته رانغله.

سهار شو له چای خوړلو وروسته يعنې په دويمه ورځ چې له کوره راووتم، زما په سن يا څه لويو او وړو کليوالو هلکانو مو د تل په څېر د کلي منځ کې جال درولی و، ولیبال يې واهه، دا چې زه له ناروغۍ مخکې هم د ولیبالرو ددې يو ټيم ښه فعال غړی وم، نو همدا مې ډېره ښه موقع وګڼله، هېڅ قدم مې ونه نيوه، له ورسېدلو سره سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميدان ته ورښکته شوم، څنګه چې يو خوا ماشومتوب هسې هم د بېغورۍ دور دی، پرون که په هر حال وم، نن مې له خيال او فکره وتلي و، بلخوا مې په واليبال کولو سره هدف د خپل چوره توب په اړه د هلکانو ذهنيت بدلول و، ګويا چوره سړی خو سپورت او واليبال نشي کولی، زه چې داسې بې باکه ميدان ته ښکته کېږم، نو دا معنا چې چوره نه يم.

اما بدبختانه تر څو دقيقې توپ بازۍ کولو وروسته مې حالت بيا ښه نشو، د پښو قات کې مې درووند والی احساس کړ، سره له دې، څه وخت نور هم ميدان کې پاتې شوم؛ کله چې ميدانونه تبديل شول، زه د اوبو څښلو په بهانه ترې راووتم. کور ته چې راغلم، مور مې د وضعيت په ليدو هم خفه شوه، هم د راباندې پراته ګرد او دوړو نه پوه شوه چې واليبال يې کړی، چپلکې ته يې لاس کړ، يو څو يې رانه تېرې کړې، سم يې وسونګوم. سبا بيا د شنيز کلينيک ته ولاړو، کوم چې لمړی ځل مې درملنه پکې شوې وه.

لنډه دا چې د آته ورځې بستر په موده کې يې هر څومره خوارۍ راباندې وکړې، دا ځل د سپين کلينک درملنې هم کار ورنکړ، د تناسلي غړو پړسوب په خپل حال و، نااميده کور ته ترې راغلو، ترڅو کابل ته د تلو او په لويو روغتونونو کې د درملنې لپاره مو پيسې پيدا کولې، د کليوالو تجربه کارو ښځو او سپين ږيرو ډول، ډول درلميزې توصيې مو عملي کولې، مګر کومه پايده يې نه لرله، بالاخره کابل ته راغلو، کابل کې مو د دوستانو له جملې يوه زړه ښځه چې اوس وفات ده، خدای ج دې وبښي، راسره همکاره شوه، د وزيز اکبر خان صحت طفل ( ماشومانو روغتون ) ته يې ور روان کړم. د روغتون دروازې ته په رسېدو سره مې له رنګ نه وينه وتښتوه، سترګې مې راډکې شوې؛ چون زه لکه نور معاشومان له پيچکاريو او ترخو دوګانو له خوړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وېرېدم؛ زما يوازينۍ ستونزه دا وه، چې د ډاکترانو لخوا مې د پرتوګ په ښويولو او جنسي غړو په ليدو ډېر زيات شرمېدم، ښځې مې له زغمه پورته وه. خو په هر راز ډاکترانو تر ليدني وروسته بستر خط راکړو، بستر خط په ما ډېر وغمېده، چې ګواکې بستر کې خو که پروت يم، دم ساعت به يو ډاکتر يا ډاکتره راځي، پرتوګ به مې ښويوي، عزت او ابرو به مې وړي.

همدا و له معاينه خانې چې راووتلو، بستر خط مې وشکاوه، د مور مې چې راپام شو، ډېره زياته راته غوسه او وارخطا شوه، چې اوس به څه کيږي؟ خو راسره تللې تکړه سپين سرې انا باجورئته او هر چا سره په خبره پوه، قناعت ورکوونکې ميرمن وه؛ واپس ډاکتر ته ورغله، څه عذر يې ورته وکړ، بل بستر خط يې ترې راوړ، پنځلس ورځې روغتون کې بستر وم، څنګه مې چې وړاندې ووېل، روغتون د ماشومانو لپاره ځانګړی و، نارينه نه و پکې، له هر ماشوم سره يې خپله مور پايواز وه، ډاکترانې يې هم اکثريت ښځې وې، دلته يې هم د عفونت ضد دواګانې او سيروم راته شروع کړل، ولې چې دوی زما ناروغي د وينې د چرک له کبله ګڼله، د دوا تر څنګ يې يو کش طبي نيکر هم راته توصيه کړی و، شاوخوا شل شپې مې روغتون کې تېرې کړې، کومه فايده يې ونکړه، نور ډاکتران هم پوه شول چې تشخيص مو سم نه دی او له دې هاخوا يې څه کولی هم نشوی، دغه و چې مور ته مې يې وويل: دلته يې علاج نه کيږي پېښور ته يې بوځئ.

واپس ناروغ خپل کور ته راغلم، پلار مې لا هم ايران کې و، بل مو داسې څوک نه لرل، چې پېښور ته د بېولو په اندازه مالي او فزيکي مرسته يې راسره کړې وی. که څه هم مورنی بابا مې ډېر مهربانه سړی و؛ ان خپل کور يې راسره نيم کړی وو، دغه راز خپله ځمکه يې نه لرله، د نورو خلکو ځمکې به يې په اجاره نيولې، له همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکونه په لاس ورغلو حاصلاتو نه يې زموږ سره تر خپل نهايي وسه کومک کاوه؛ مګر دومره يې هم په تاوان نه و پوره، چې پښنور ته يې بېولی وی.

پس تر هغو چې پښنور ته د بېولو سږی او مالي توانائي مو پيدا کاوه، ډېر وخت ووتلو. خو الحمدالله څنګه مې چې اولو کې ووېل، د شيانو پرسوب که ورځ تر بلې بدتر کېدو هم، اما له يو نيم وخت پرته چې پام به مې نه و، پښې به مې ډېرې جوختې او نژدې کېښودې، د ورانونو فشار به پرې ورغلو درد به يې وکړ، نور دوام دار درد يې نه کاوه، يو کش نېکر به مې آغوست، مکتب، باغ، جومات ته له تلو راتلو نه وم لويدلی، صرف په يو څه ډېر زهير وم، هغه دا چې ولاړ يا روان به وم، د پښو د قات په برابر لمن به مې په فوکانه وار ډول پورته ولاړه وه، په ډېره اسانۍ يې د خلکو توجو رااړوله، خاصتاً کله به چې باد مخامخ و.

مور مې دا حال نشوی زغملی، نه يې زړه صبر کاوه، پس تر خپله وسه، وسه هره ورځ به مې يې په يو نوعه نه، يو نوعه د صحت يابۍ هڅې کولې، که به چا کومه يوناني يا ګياهي دوا ورښودلې وه، يا به يې زيارت او ملا ورپه ګوته کړی و، په سبا به يې هغه خبرې ته د عمل جامې ورآغوستې.

چې په دې لړ کې يوه ورځ يې په ظاهر جان اخندزاده اودې راته وکړې، شين رنګی نيل يې راته دم کړ، د هر لمر خاته او لمر لويده په مهال به مې د اوداسه په لرلو او کلمې په ويلو سره تر ناروغو او پړسېدلو اندامونو تاواوه؛ شنې کربښې به يې پرې پاتې کېدې، څه غذايي پرهېز مې هم ورسره ساتلو، فکر کړم. يوويشت ورځې مې دا کار تطبق کړ، مګر کومه فايده يې ونکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې د شنيز دره کې په دم او دعا مشهورو آغاصاحب خپلو اودې راته وکړې، دا هم همغه د ظاهر جان اخندزاده غوندې دم شوی نيل و، تقريباً په همغه طريقه کارېده. ددې له بې نتيجه ګۍ وروسته يې د شاه قلندر زيارتونو ته بوتلم، د يادو زيارتونو طريقه داسې وه چې ناروغ ماشوم به د خپلې نسبې او منجاورانو لخوا په زور د څو دقيقو لپاره تکي تنها پکې ايسارېده، دغه قيامت يې په ما هم تېر کړ، ښې بغارې مې پکې وکړې، خو له دې سره مې هم کوم درد دوا نشو.

د څو ورځو تر تېرېدو وروسته يې د خوات درې د ګلي په کلي کې يو فال کتونکي او تعويذ ګر ته وروستلم، فالي ويل: هلک باندې کودې شوې، په ايستلو سره يې يوه توره چرګه او ورسره که څه هم اوس مې دقيق نه دي ياد، ولې چې يو خوا وړوکی وم، بل ډېر کالونه تېر شوي، اما دومره مې ياد دي چې د تورې چرګې سربېره نسبت زموږ وس ته، ډېرې پيسې يې هم وغوښتې.

مګر کله چې پوه شو، زما د مطالبې په اندازه پيسې نشته ورسره؛ له کوډو ايستلو پرته روانېږي.

پس په دې بهانه چې له لرې ځای نه راغلي ياست او يوه سياه سره او ماشوم يئ، زړه مې دربانډې وسوځېده، کني زه چې تاسو ته د کوډو د بې اثره کولو کوم تعويذ ليکم، دا د زعفرانو او آب شوې طلا په ګډ شوي، يا مخلوط رنګ ليکل کېږي، دا رنګونه دلته نه پيداکېږي، له مصر نه راځي، ډېر قيمتي او ندرت دي، دغه پيسې چې ما درنه وغوښتې، زه يې جيب کې نه اچوم، ايله واپس همدومره رنګ پرې وشي، چې تاسو ته يې مصرفوم، په عادي رنګ د ليکل شو تعويذونو خو د کوډو او طلسم په له منځه وړلو او خنثا کولو وس نه رسېږي. مګر اوس مو همداسې هم نشم لېږلی، د خدای ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهر به وشي. په همدې راسر شته ۵۰۰ افغانيو يې قناعت وکړ، د کوډو د له منځه وړلو يا بې اثر کولو تعويذ يې راته وليکه، خوشحاله ترې راروان شو، فکر مو کاوه، چې د درملنې اصلي ځای مو نن پيدا کړو، کوم چا چې په ما کوډې کړې وې، مور مې لحظه په لحظه ښکنځل او ښېراوې ورته کولې، خپلو خپلوانو، ګاونډيانو کې به يې کله په يوه، کله بل کس د کوډې کونکي / کونکې ګومان راتلو، خو زموږ د هيلې خلاف ډېرې شپې ورځې تېرې شوې، مګر په صحت کې مې کومه ذره ښه والی رانغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډېر نجس سړی یې

د زعفرانو او آب شوې طلاء په مخلوط شوي رنګ د ليکلي تعويذ نه مو له طمعې پرې کېدو وروسته، د وردګو اړوند دايمرداد ولسولۍ چتو په کلي کې د ملا خان محمد ډېر صفتونه او توصيفونه کېدل؛ چې ګويا د هر ډول ناروغۍ لپاره ټيک او پټری دی.

لنډه دا چې ورغلو، ملا صاحب ته له لرې، لرې سيمو ډېر ناروغان راغلي و، خصوصاً هغه ناروغان چې بېرانېدل، يعني پېريان به پرې ناست و، نوموړي پېرياني ناروغان به يې چې پايوازانو د ملا اطاق ته ورننيستل، ملا صاحب به په بېلا، بېلو سزاګانو رسول، څوک يې په لښتو وهل، د چا د ګوتو په قاتونو کې به يې قلم ورکړ، پرې تخته به يې کړې، همداسې نور قسما قسم يې مجارات کول؛ غږ يې بېرون انتظار خانې ته راتلو، د ناروغ کس به يې سمې چيغې پرې جګې کړې. البته د ملا په خبره او د خلکو په باور جزا ناروغ ته نه، بلکې په ناروغ ناستو پيريانو ته ورکول کېده، تر څو له ناروغ نه جګ شي، پس چيغې هم که هر څو د ناروغ له خولې وتلې، يا يې له درد څېره توره او شنه کېده، دا هر څه د پيرايانو حال ګڼل کېده.

د نوبت په رارسېدو سره يې زه هم اطاق ته ورننوتلم، څنګه چې د نوموړي ملا په اړه د سيمې په سطحه د عامو خلکو ذهنيت او يقين داسې و: چې علم غيب لري يا يې پېريان ورته وايي، کوم ناروغ چې ورشي، مخ کې يې کېني، د هغه وړاندې، وروسته ټول ګناهونه او اعمال ورمعلومېږي.

عيني حال کې ملا به هم په خپلو سکناتو او خبرو کې ناروغ ته داسې ښوده، چې ګواکې رښتيا هم په ټولو کړو ګناهونو او بديو دې خبر يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کبله کله به چې کوم ناروغ ورغی، ملا به لمړی ښه پوچ او سپک ورته ووېل، ښکنځلې به یې ورته وکړې، چې ګویا ډېر لوی ګنهګار، بد عمله او رزیل انسان یې. ناروغ به سترګې ښکته اچولې وې، پټه خوله غلی به ناست و. چون وېرېدو، زړه کې به ورتېرېده، چې دا ښکنځل، بد او رد یې هم خیر، هسې نه اوس مې ددې پلار، ورور یا مور په مخ کې هغه پلانکی یا بستانکی ګناه رایاده کړي، په شرمو به مې وشرموي. ولې چې طبعاً هېڅ انسان بې ګناه نه دی، زما د لاس په لاس کې نیوه سره یې راته کړل: د کوم ځای یې؟ په ټيټ آواز او عاجرانه لهجه مې د خپل کلي نوم ورته واخیست: د انبوخاک!

ملا راغبرګه کړه: انبوخاکیه! ډېر نجس سړی یې.

په دې خبرې سره مې یې د تېر ژوند خپل ځیني نسبتاً لوی ګناهونه پرله پسې یاد ته راغلل، زړه کې راتېره شوه: ممکن د هغه یا هغه او یا هم هغه ګناه له وجې به راته وایي چې نجس سړی یې.

سترګې مې لا هم ښکته واچولې، غږ مې ونکړ، زړه مې دربېده، چې نور به څه وایي؟ مګر ښه و نور تحقیر مې یې ونکړ، د ناروغۍ په اړه مې یې وېل: ستا یوازنۍ دوا دا ده، چې څلور د پسونو سرونه په یو لوی دیګ بخار کې دومره پاخه کړې، چې ان هډوکي یې هم پکې وشړېږي (نرم) شي، بیا یې له دیګ بخار نه راوباسۍ، په یوه آونګ کې یې غوښه او هډوکي یو ځای د آونګ په سوټي دومره ووهۍ، ترڅو چې ښه سره حل او مخلوط شي، وروسته د څلورویشتو ساعتونو لپاره د پښو له ګوتونه د نامه تر غوټۍ ټول ځان پکې پټ کړه، همداسې دویمه، دریېمه ان تر پنځو میاشتو هره میاشت باید یو ځل دا کار تکرار کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز له موږ سره مو يو سپينږيری کليوال هم تللی و، سترګو يې ديد نه لاره، هغه ته يې وويل: يو دانه بوبوتتی (هدهد) ووله، بيا يې ځلوينښت ورځې تر يوه تيږه لاندې کړه، چې ښه وچ شو، مابښوکه يې ترې غوڅه کړه، سلايي ترې جوړ کړه، د سلايي تر جوړولو وروسته، له څلورو بېلو بېلو لارو يو موټی خاورې راټولې کړه، د اوو ځاه ګانو په اوبو يې خيشتې کړه، بيا يې لمر ته کېږده، چې ښې وچې شوې، اونګ کې يې ميده کړه، څلويښت هفتې سترګې پرې تورې کړه، ديد به دې پيدا شي.

يو بل کس چې ورور يې ايران کې ديدو (لنډغر) شوی و، کورته نه راتلو، ملا تعويذ ورته وکړ، د استعمال د ترتيب او توصېې په پار يې ورته ويل: دا به د يوې لوې ونې تر ټولو جګ شاخ کې راځوړند کړې، څومره يې چې زيات شمال وهي او خوځوي، همغومره به دې د ورور توجه د وطن په لور زياته او زر به کور ته راشي.

همداسې بيلا بېلې دواګانې او طريقې يې خلکو ته ښودې.

زما د دوا جنجال ډېر و، نه مو داسې ديګ بخار پيدا کولی شوی، چې څلور د پسونو سرونه پکې ځای وی، بلخوا مياشت په مياشت تکرار يې هم لانجه مند و، همدا و چې ددې دوا کول هغه وخت رانه پاتې شول، څو کالونه وروسته د سهوليت او امکاناتو په مهيا کېدو سره مې مور دا ارمان هم په زړه پرې نښود، د نوموړي ملا له لارښونې سره سم، د پسونو د سر دوايي يې هم يو ځل راباندې تطبيق کړه، خو دا چې کومه ذره ګټه يې ونکړه، تکرار يې هم ورته بې فايدې ښکاره شو، دغه و چې نور ترې تېره شوه.

معنا د ناروغۍ په لمړيو مراحلو او مياشتو کې تر هغه چې پلار مې له ايرانه راتلو، يا مې پېښور ته د تلو زمينه مساعدې ده، تر خپله وسه همدې خپل چارچاپېر او سيمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مو د درملنې په پار پورته يادو بېلګو ته ورته ډېرې نورې هيله بښوونکې او عقيدوي چارې تطبيقولې، ولې هېڅ شي پايده نه کوله، برخلاف ورځ تر بلې مې ناروغي لا زياتېده.

دغه و چې د کال په تېرېدو سره د جنسي غړو د پړسوب سربېره، لمړی چپه پښه او بيا ځو مياشتې وروسته مې ښۍ پښه هم وپړسېده. په دې وخت کې مې پلار هم له ايران نه راغی، مګر پېښور ته د تلو وس مو لا هم نه لاره.

اما پلار مې د کابل په ډاکترانو يو ځل بيا راتاو کړم، شاوخوا شل شپې د ابن سينا صدري روغتون کې بستر وم، د ښار په بېلا بيلو برخو او باوري صحي مرکزونو کې يې معاينات راباندې کول، د ټولو معايناتو تر کولو وروسته مې هم ډاکترانو ته قاطع تشخص په لاس ورنغی، يوازې د شک او علايمو له مخې يې د (ليور سلېز) ځيګر د ناروغۍ تداوي راته شروع کړه، شل شپې وروسته په مرض کې د کوم مثبت بدلون د نه راتلو له وجې پوه شول، چې تشخيص مو ناسم دی، نور نو دوی ته هم کومه چاره نه وه ورپاتې. بالاخره غيرې مستقيم د خپلې ناکامۍ په منلو سره يې، دوئ هم پاکستان ته د تلو راته ووېل، يو وار بيا هم لکه يو کال وړاندې د کابل له صحي مرکزونو او ډاکترانو ناهيلي د کور په لور روان شو. نور نو تر هغو چې د زردالیو د باغ ميوه مو پخېده او بيا مو پلورله په پيسو يې پېښور ته تلو، په دې هيله چې که پېښور ته له تللو مخکې مو الله ج په همدې خپل وطن يو سبب وکړي، يو ځل بيا مو ملايانو، زيارتونو، حکيمانو..... ته مخه کړه.

خو ښنګه چې د تېر يو کال په جريان کې د خپلې سيمې او نژدې منطقو زيارتونه، ملايان، کوډګر، فال بينان، ټګان او حکيمان... مې مور راباندې راکتلي و، پلار مې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

<u>زيارت په زيارت</u>

د هېواد د لرې ولاياتو او سيمو په سطحه چېرته به چې چا د کوم زيارت، ملا، حکيم.... صفت ورته وکړ، په سبا بله ورځ به پسې ور روان شوو.

تاسو راځئ ملګرتيا مې وکړئ، په نوبت سره يې د هر يوه کيسه درته راخلم، خورا عجيبې غريبې به در واوروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شفاء بخشه چینه

له پلار سره یو ځل بیا ملایانو، زیارتونو... ته د مخه کولو په بهیر کې لمړی د غزني زیارتونو ته لاړو، که څه هم د شیانو او پښو پرسوب به مې نسبت ژمي ته اوړی زیات و، خو په اوړي کې به یې درد نه کاوه، د یخ موسم په رارسېدو سره به یې درد هم شروع کړ، دا مهال هم تقریباً ژمی تېر و، اما لا هم شپې ورځې یخې وې، زما په بدن یې اثر پروت و، پښې مې خوږېدې، له ټککو پرته نشوی ګرځېدلای، ممکن لیدلي مو وي، د غزني زیارتونه یو له بل نه ډېر لرې او هر یو یې جلا، جلا د دنګ غره په سر دی، تر کوم ځایه به چې موټر ورختلی شوی، موټر کې به ورغلو، له هغې وروسته به د ټککو په مرسته کرار کرار په ډېر زحمت ورختلم، یو ځای خو مې بېخي له وس تېره شوه، بیا مې پلار شاه راته ووهله، په شاه یې وروخېژوم، د نوموړو زیارتونو له جملې یو یې د پېریانو په زیارت مشهور و، اکثریت پېریاني او اثري ناروغان ورته راتلل، نه پوهېږم چې اوس به یې هم همغه قاعده وي کنه؟ څنګه مې چې وړاندې د شاه قلندر د زیارت کیسه وکړه، ددې زیارت د کولو اصول او ترتیب هم داسې و، چې ناروغ کس به پرته له پایوازه تک تنها د څو دقیقو لپاره په توره تیاره زیارت کې ایسارېده، ځیني کسان تکړه و، څه به نه پرې کېدل، واپس به له زیارته جوړ راووتل، خو په ځینو کسانو پسې به چې دروازه رابنده او توره تاریکي به یې ځان یوازې ایسار احساس کړ، چیغې به یې کړې ان تر دې چې له ډېرو چیغو به یې نفس پاک ودرېده، بې هوشه به شو، پس له هغو به یې دروازه ورخلاصه کړه، بې حاله په دوو، دریو کسانو ځنځولی به یې له زیارت نه راویست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عام باور دا و، کوم ځوک چې پيرياني، صوبياني نه وي يا مورزادي، له وړوکوالي اثري مشکل ونه لري؛ په زيارت کې د ايساربدو په مهال هېڅ ستونزه نه ورپېښېږي. واپس جوړ او روغ ترې راوځي، ولې کوم کسان چې ياد مشکلات يا ناروغی ولري، په زيارت کې د بندېدو، په وخت د زيارت لوی او زورور پېريان حمله پرې کوي، لمړی په کس يا ناروغ باندې ناست پېريان او جنيات رانيسي، زيارت کې يې ترې او بيا يې د چا خبره شنو لښتو ته اچوي، دومره يې ټکوي، چې په نتيجه کې يې په ناروغ باندې د ناستو پيريانو د چيغو له وېرې ناروغ بې هوشه کېږي، ګواکي فقط له خولې د ناروغ راوځي، کني نور واقعيت کې دا چيغې ناروغ نه بلکې په ناروغ ناست پېريان وهي، کوم چې لاسونه او پښې تړلي د زيارت د پېريانو تر وهلو او ټکولو لاندې دي.

لنډه دا کله چې ناروغ له زيارت نه تر رايستلو وروسته په هوش راشي، نور نو د عامو ذهنيتونو له عينکو ناروغ کس، هغه زيارت ته تر ننوتلو مخکې ناروغ نه دی، مانا پېريان، صوبيان، کافر، مسلمان يا هر قسم جنياتو چې راګير کړی و، زيارت کې د نيکو او ډېرو زورورو جنياتو لخوا ترې جلا شول او ښه جانانه سزا هم ورکړل شوه، ترڅو اينده کې هم نوموړي کس ته د ورتللو او ځورولو جرئت يې ونکړي.

والله علم زيارت کې د ځينو کسانو د لوېدو او بې هوشه کېدو راز به څه و؟ طبعاً هر ځوک به د خپل فکر، پوهې او عقيدې اړوند بېلا بېل تعبيرونه ترې لري.

ولې زه چې فکر کوم، د ياد زيارت په اړه له وړاندې ډېر وهمناک ذهنيت خپور و. کوم خلک به چې ورننوتل مخکې له مخکې به يې مورال له لاسه ورکړی و، پښې به يې لړزېدې، په ډېر وهم او ترس ورداخلېدل، پس د کومو کسانو چې عصاب کمزوري و، يا يې رواني ستونزې لرلې، د دروازې پسې رابندېدو او زيارت کې د تياره کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مهال یې ذهناً ډېرې وحشتناکې بلاوې او پېریان په ځان باندې د حمله کولو په حال کې تصورول. همدا وه چې لمړی به یې له ډېرې وېرې په ټول زور چیغې وهلې، بالاخره عصبي شوک ته تلل او بې هوشه کېدل. چون زه خپله چې هېڅ جنیاتي ستونزې مې هم نه لرلې، له ورننوتلو مخکې ډېر سخت ترې وېرېدم، له ډاره مې زیارته له ننوتلو وړاندې، سره د سختې مریضۍ او تکلف مې لمړی د کوزې په یخو اوبو اودس او بیا دوه رکعاته لمونځ وکړ، خو لا هم په توره تیاره زیارت کې د ایسارېدو په مهال مې گرد چاپېر رانه تاو ډېرې خطرناکې بلاوې او پېریان تصورول، که څو شېبې نور دروازه نه وی خلاصه شوې، زما هم کار خلاص و.

که څه هم زیاتره خلک لا هم د ډېر زورور زیارت په صفت په ټول احترام ورته قایل دي، ډېره قوي عقیده پرې لري، پس طبعاً د دوی د پاخه باور او عقیدې سره ناسم زما نظر به درونډ پرې تمام شي، له دوی بښنه غواړم.

دغه راز یو بل زیارت ته ولاړو، چې دې هم په یو ډېر جگ غره کې موقعیت لاره، د نوموړي زیارت له گومبتې لږ ښکته یوه چینه وه، ناروغان به له زیارت کولو وروسته راتلل، چینه کې به یې حمام کاوه، ځکه د زیارت کوونکو د عقیدې له مخې ددې چینې اوبه عادي اوبه نه وې، شفاء بخش وې، د حمام په کولو سره یې له بدن نه هر نوع مرض مینځل کېده.

زه چې یو خوا ډېر ستړی او مریض وم، بلخوا د یخ په وړاندې ډېر حساس وم، دردونه مې یې زیاتول، دا موسم او د چینې اوبه هم ډېرې یخې وې، ومې نشوای کولای، چې حمام پرې وکړم، صرف مخ او لاس مې پرې پرېمنځل، په لندو لاسونو مې سر، گېډه او تر گونډو پورې پښې مسح کړې، دغه راز ځینې نورو سختو مریضانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښځو چې حمام به يې نشواى پرې کولاى، يوازې مخ او لاسو به يې مينځل، نور بدن يې په لندو لاسونو مسح کاوه. خو ډېرى کسانو ته بيا دې سپک کار خوند نه ورکاوه، يا يې يقين نه کېده، چې يوازې د لاس، مخ په مينځلو او نور بدن په مسح دې، د چينې د ابو له پوره فيض او برکته برخمن او شفاياب شي.

دا و چې لباسونه به يې ورته ويستل، په همدې شنه يخه کې به يې د چينې په يخو زنګکي اوبو کې ځانونه ورواچول، يا به پکې کېناستل، يوخوا يې له ډېره يخه ته وا ساه وځي، لويې لويې سلګۍ به يې کولې، بلخوا به يې ډکه ډکه لوټه يخې اوبه په سر تشوې.

دغه راز په نورو زيارتونو کې هم الله ج دې مغفرت وکړي، زموږ په شمول خلکو په بېلا بېل ډول آزاد او ښکاره شرک، بدعات او خرافاتي ناروا اعمال تر سره کول، د الله ج په ځاى له زيارتونو شفا غوښتل کېده، ناروغانو د سجدې په بڼه خپل تندي په قبرونو لګول، شناختو کې ميخونه وهل کېدل، مړيو ته مو تيرې ورټکولې، په قبر د چارپېرې پنجرې داخل ته پيسې ورغورځول کېدې، د زيارت په سر ايښې مالګه ښکل، وينه تويول، شمعې بلول او ډېرى داسې نورې نامشروع کړنې ترسره کېدې، له بده مرغه تر کومه چې خبرېږم، لا هم همغه زوړ ملا او زړې تراويح دي. خو په هر صورت لنډه دا چې غزني کې مې ټول ټال شپږ، اوه زيارتونه وکړل، مګر د روپۍ درد مې پرې درمان نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شينوارو شپه

د غزني له زيارتونو څه وخت پس د میدان وردګو اړوند نرخ ولسوالۍ ته روان شو، ځکه چې هلته د ملا ګونګي په نوم يو ډېر مشهور ملا و، زيات صفتونه به يې کېدل، ان ويل کېدل به چې پېريان يې تابع دي، د همغه په مرسته د هرې سختې ناروغۍ لپاره ټيک او پترى دى، د ناروغ اړتيا ته په کتو، تعويذ کوي، کوډې اوباسي، دم کوي، که ضرورت وي ګياهي درمل هم توصيه کوي.

خلاصه کله چې ور ورسېدو، د ملا صاحب د کلا د دروازې تر مخ ډېره زياته ګڼه ګونه وه، خلکو نارينه او ښځينه هر ډول ناروغان ورته راوستلي و، ډېرى ناروغان به چې د ملا له تعويذ خانې راووتل، ګوډى به پرې شوې وې، خو په ټولو کې جالبه دا وه، د يو نفر د ملا مهرې (شمزۍ) خوږېده، په خپل نوبت د ملا اطاق ته له ورننوتلو واپس چې راووتلو، د يوه لاس لپه يې د بل لاس په لپه نسکوره نيولې وه، لکه ډېر مهم څه يې چې پکې نيولي وي او هر قدم يې په ډېر احتيات او بسم الله اخيست.

چې پوښتنه مو ترې وکړه، ملامت نه و، ملا صاحب د مرغۍ يوه نازکه او وچه کلکه پښه ورکړې وه، ورته وېلي و چې:

ستا دوښمن په تا باندې ددې مرغۍ په پښه ډېرې قوي کوډې کړې، تر هغو چې دا د مرغۍ پښه سلامته وي، ته به هم نور جوړ وې، يوازې ملا به دې لړ شخوالى او درد لري، اما که د مرغۍ پښه ماته شوه، نور ستا ژوند هم مکمل ختم دى، زر يې يوسه له شړشم تيلو په ډک يو بوتل کې يې واچوه، تر څو نرمه وي، چې ماته نشي.

په دې خبره چا وخندل، چا د همدردۍ له مخې نڅه، نڅه ورته وکړل، سرى ولاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ته ان تقریباً په درېو بجو نوبت راغی، اطاق ته یې چې ورننوتم، څنګه یې چې نوم ملا ګونګی و، رښتیا هم ګونګی و، په خبره یې سړی سم نه پوهېده، تر ډېره یې د لاس په اشاره خلک پوهول، کوم کسان یې چې نه په ژبه پوهېدل، نه په اشاره، د هغوی لپاره به بیا یو بل داسې کس ور وړاندې شو، چې په ژبه یا اشاره یې پوهېده، ترجماني به یې وکړه. مور ته یې ووېل: لمړی ولاړشئ، غزني کې به د شمش بابا زیارت وکړئ، له زیارت کولو وروسته ماته راشئ.

وریاده مو کړه چې: د شمس بابا زیارت مو څه وخت وړاندې کړی.

خو هغه یې ونه مانه، یو ځل بیا یې ورولېږلو، له زیارت کولو پس د دویم ځل لپاره چې ورته راغلو، ملا اسمان ته د سترګو نیوه په حال کې څو شیبې له ځانه سره وپسنیده، داسې یې ښوده چې ګویا له پېریانو سره لګیا یم، یا د ناروغ د تداوی په اړه مشوره ورسره کوم. وروسته مې یې پلار ته مخ ورواړاوه، په نیمه، نیمه خبرو او د لاسونو په اشاره یې څه ورته وېل، د پلار مې سم سر نه پرې خلاصېده، ښه و یو بل سړي د مرستې په پار راودنګل، وېل یې: آغا صاحب وايي چې د ننګرهار ولایت په شینوارو ولسوالۍ کې لمړی د پلانکي صاحب زیارت ته ولاړ شئ، (ښنه غواړم، پلانکی مې ځکه ولیکه چې وخت وتلی، د هغه زیارت اصلي نوم رانه هېر دی، منم ښه خو دا وه، چې د هغه زیارتونو، سیمو، کلیو او ځینې کسانو نامونه او دقیق پتې مې باید دلته راوړې وی، مګر څنګه مې چې لمړیو کې ووېل، یو خوا ډېر وخت وتلی، بلخوا زه هم هغه وخت ماشوم یا نو ځوانی ته نارسېده شاوخوا ۱۵ کلن هلک وم، دومره حساس نه وم، نه مې خوا خاطر کې تېرېده، چې دا هر څه به یوه ورځ د خاطراتو یا هم خپلو هېوادوالو د عامه پوهاوي په پار لیکم او د کتاب بڼه به ورکوم، نو باید نومونه او پتې یې صحیح یاد کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا و چې د ځينو دقيق ادرسونه او نومونه مې له ياده وتلي، ولې بيا هم تر کومه چې ممکن و، ان شاءالله هڅه کوم ترڅو د کتاب راتلوونکو صفحو کې نورې خاطرې په دقيقو پتو او د فاعلينو په خپلو نامونو سره يې راواخلم)

خو په هر حال د ملا ترجمان زياته کړه: د پلانکي له زيارت کولو وروسته به د شپولي بابا زيارت ته ځئ او شپه به پکې کوئ، د سهار تر لمانځه پورې به همغلته اوسئ، په دې سره به دې د زوی له بدن نه دا ظالمه ناروغي لکه د باد سلۍ په هوا شي؛ ستاسو يوازينۍ لار همدا ده، له دې پرته بله هېڅ درملنه او دوا نه لري.

په همدې خبره د ملا له اطاق نه راووتلو، تر دروازه بهر له کومو خلکو سره چې د انتظار په مهال اشنا شوي و، دوی مې له پلار نه د ملا د راته ښودلي اعلاج پوښتنې کولې، پلار مې د ننګرهار په شينوارو ولسوالۍ کې زيارتونو ته د لېږلو مو يې ورته ووېل. په دوی کې ځينو ټينګار کاوه، چې حتماً ورشئ. يو به وېل: پلانکي ځای کې ددې ملا په دم او توصيه د شلو کالونو شل وګرځېده، بل به وېل: سرطان ناروغ ورسره روغ شو، دغه راز چا وېل: يو ناروغ ته يې په هند کې ځواب ورکړی و، د يوه تعويذ سره يې جوړ شو. په دې سره يې زموږ عقيده لا هم پرې پخه کړه، دوې شپې وروسته ننګرهار ته روان شو. جلال اباد کې مو د شينوارو د ولسوالۍ د موټرو اډه راپيدا کړه. د يوې سراچې ډرېور ته مو د دواړو زيارتونو نوم واخيست او د ورتلو مو ورته ووېل.

نوموړی بلد و، زيارتونه ورمعلوم و، وېل يې: ياد زيارتونه له يو بل نه خورا لرې دي، يو خو ښېخي ډېر جګ ان توره بوړه کې دی، هغه سيمو ته ليني موټر نه ځي، بايد دربس يې ونسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې ترې وپوښتل: دربس په څو ځي؟

ډېرې زياتې پيسې يې ووېلې، له وردګو تر ننګرهاره زموږ دومره کرايه نه وه لګېدلې، لکه ده چې غوښته، هاخوا له دوو نورو ډرېورانو سره وغږېدو، دوی هم همدومره لوړه کرايه ووېله، پوه شو چې حتماً ځای لرې دی، لمړي ډرېور چالاکي نه کوله، له همغه اوليني سره سپاره شو، رښتيا ډېره لار وه، سرک هم ډېر خراب او خام و، بلخوا تېول کوتل و، لنډه دا چې د اوړي په اوږدو ورځو کې يې ايله په دريو بجو لمړي زيارت ته ورسولو، ياد زيارت په يوه ډېر لوړ غره کې د يو زاړه غريبانه کلي په منځ کې موقعيت درلود، له پاسه پرې ولاړو لمر وهلو ورستو شناختو، بې شمېره رنګار رنګ زړو بيراغونو له مخې ډېر پخوانی، د تېرو هيرو زمانو ښکارېده، عين حال کې ډېر نور ناروغان هم ورته راوستل شوي و، چې اکثريت يې رواني مريضان يا ليونيان و، موږ هم څو ځل ترې تاو راتاو شو، د صحت يابۍ ډېرې دعاګانې مو وکړې، د زيارت له ړنګې خلور ديوالي چې راووتلو، هاخوا د ونو تر سيوري لاندې، د رڼو اوبو د لښتي په غاړه يو غريبانه مسجد و، ديوالونه يې نه لرل، هسې لږ ځای يې هوار کړی و، دنيم متر په لوړولي سره يې چارچاپېر د تيږو ګرد ګاټي ترې تاو کړي و، مخامخ يې وبدلې فوزی درولی و، د محراب ځای يې پکې جوړ کړی و، له پاسه د ونو څانګو هم سيوری پرې جوړ کړی و، هم يې د چت رول لوباوه، ماشومان پکې ناست و، سپارې يې مخ ته نيولې وې، مخ او شاته يې ټالونه ورسره وهل، په زوره زوره يې سبقونه ويل.

له لمانځه کولو وروسته بيا په خپل دربس کړي موټر کې کيناستو، د دعا په کولو سره، د شپولي بابا د زيارت په لور روان شو، که څه هم غرونه او خوړونه و، لارې ډېرې خرابې او خامې وې، مګر بيا هم موټر نسبتاً تېز تلو، چون ډرېور د همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرنيو سيمو و، له خامه سرکونو سره عادت و، شاوخوا تر يو ساعت مزل وروسته، قضا مازيګر يې د يوې غونډۍ په سر موټر ودراوه، لاندې کم او زيات، د يونيم کيلو متر فاصيلې په لرې والي سره، له يو لوی خوړ هاخوا د بل غره په لمن کې يې يوې لويې هديرې ته لاس ونيوه، ويل يې:

هغه د هديرې په منځ کې چې ببله چته څلور ديوالي کوټه ښکاري، همغه د شپولي بابا زيارت دی، موټر له دې وړاندې نشي ورتللی.

ترې راښکته شو، ډرېور مو يې د کرايې په ورکولو سره رخصت کړو، مورږ پلي زيارت ته ور روان شو، زما خاص شيان او پېښې خو هسې هم پرسېدلي او درانه و، سم نشوی تللی، موټرو کې اوږدو سفرونو به يې ښېخي وضعيت خراب کړ، په دې ورځ هم ټوله ورځ موټر کې ګرځېدلی وم، پړسوب، دردونه او د عضلاتو شخوالی مې ډېر زيات و، خورا په سختۍ تر زيارته لاړم، چې کتل مو يوه ډنګر تک تور لوغړن سپينږيري منجاور يې د زيارت د وره په مخ کې جوړې کړې سپاچه ګۍ نه خپل لمڅی ټولاوه، د تلو په حال کې و، زمورږ د سلام د ځواب راکولو سره سم يې کړل: د زيارت کوئ؟

پلار مې ورته ووېل: هو دا زوی مې ناروغ دی.

سپينږيري کړل: ښا! ورننوځئ زر زر مو زيارت وکړئ، چې ناوخته ده.

پلار مې ورغبرګه کړه: مورږ زيارت کې شپه کوو.

د سپينږيري منجاور چوغۍ سترګې وځلېدې، پلار ته مې يې په حيرانتيا سره وېل: ليونيان خو به نه يې، چې زيارت کې شپه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې کړل: نه ليونيان نه يو، يوه ملا راالېږلي يو، همداسې يې راته ويلي چې شپه به زيارت کې کوئ.

منجاور وېل: دا ځايونه درانه دي، شپه نشئ پکې کولای وېرېږئ، صرف ورننوځئ زيارت وکړئ، نور ولاړ شئ، که شناخته څوک مو نه وي، کوم مسجد کې شپه وکړئ.

پلار مې ورته کړل: دومره زحمت مو تېر کړی ان له وردګو راغلي يو، شپه پکې کوو.

سپينږيري کړل: ما خو درته ووېل، چې دا ځای درونډ دی، شپه څوک نشئ پکې کولی، نور مو خوښه.

پلار مې بيا هم په خپله خبره ټينګار وکړ، منجاور ته يې ويل: دا لمڅی (فرش) مه ټوله وه، د شپې به موږ پرې څملو.

خير دې يوسي. لمڅی يې پرېښود، له پاڅېدو سره يې وېل، زما کور لرې دی، کنه ډوډۍ به مې درته راالېږلې وه.

د منني په کولو سره مو رخصت کړو، که څه هم موږ فکر نه و کړی، چې زيارت به په داسې وچو غرونو او غونډيو کې وي، چې هلته به نه کوم کور درک لري، نه دوکان، له دې کبله مو هېڅ خوراکي څه نه و راسره وړي، عيني حال کې همدا شېبه وږي هم و.

د منجاور له رخصتولو وروسته د زيارت چار دېوالي ته ورننوتلو، نسبتاً يوه لويه کوټه وه، د دېوالونو پېړۍ والي او بارانونو ترې وړو خاورو له وجې د پسخو، کنډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډو کېده يې، د ډېرې زمانې پرې تېرېدو شاهدي ورکوله، په منځ کې يې له عادي قبرونو سره په زيات توپير لوی او د کوټې له غولې کم او زيات د ۸۰ سانتي مترو په لوړوالي جګ قبر و، په کوز او بر سر يې ګېډۍ ګېډۍ لسګونه شناختې ولاړې وې، بې شمېره لوی واړه، رنګا رنګ زاړه او نوي بيراغونه پرې رپېدل، د قبر له پاسه مات بنګړي، مالګې، شمعونه او زرورک پراته و، څلور طرفه اړخونه يې د سپينې خاورې (سپين خاوري) په وسيله خړوب شوي و، څنګه چې په خوا به کليوالو ښځو د خپلو کورونو د خاورينو کوټو ديوالونه پرې سپينول. د څنګونو د خړوبوالي او له پاسه پرې پرتو ماتو بنګړيو، زرورکو داسې ښکارېده، چې ډېرې زړه ماتې، دردمنې او ارمانجنې ښځې هم ورته راځي، خپلو هيلو ته د رسېدو په پار پلونه پکې غوړه وي او دعاګانې کوي.

د منجاور لمڅی مو د قبر دې يوه څنګ ته هوار کړ، که څه هم په دې څنګ کې د قبر له داخله يو لوی سوری هم راخلاص و. داسې معلوميده چې دغه سوری منجاور يا زيارت کوونکو قصداً جوړ کړی و، طبعاً کومه عقيده وي جنبه به يې لرله، د قبر بل طرف ته داسې پراخه او هوار ځای نه و، ترڅو هلته مو لمڅی پکې غوړولی وی، مجبور شوو چې همدا د قبر له داخل نه د راوتلې تور سوري مخکې يې وغوړه و، له پاسه مو څادرونه پرې واچول، د ماښام لمانځونه مو وکړل، کرار کرار شپه پخېده لکه مجسمې پټه خوله توره تياره کې بوخ، بوخ ناست و، څنګه مې چې وړاندې ووېل ښه په خوند وږي هم و، چون ان د ورځې په لسو بجو مو جلال اباد کې چای څښلی و.

ښه و اوړی و يخني نه وه، اما نسبتاً تېز شمال چلېده، د زيارت او له زيارت نه بهر د هدېرې د نورو قبرونو د بيراغونو ترپهار لګېده. منتظر دې ته و، چې د ماخوستن

(c) ketabton.com: The Digital Library



آذانونه وشي، زر لمانځونه وکړو، ولې چې د ماسښین اودسونه مو ساتلي و، که ضایع شوي وی، دلته بیا د اودس کولو اوبه نه وې. خو ځنګه چې د انتظار شېبې تل ډېرې اوږدې شي، په موږ هم هېڅ وخت نه تېرېده، بل طرف دا وخت د بیراغونو پرکهار هم ډېر زیات و، د اذان غږ مو اخیر هم وانهورېده، خو له ساعت نه پوه شو، چې د ماخوستن د لمانځه وخت داخل دی، جګ شو، لمنځونه مو وکړل، ایت کُرسي او نورې کومې کلمې یا اذکار مو چې زده و، په ځان مو چوپ کړل، زه له قبر نه وېرېدم، خاصتاً د قبر له داخل نه د راوتلي سوري څخه، دا و چې د قبر خواته مې پلار څملاست، زه یې دې بلې خواته پرېوتم، خپلې، خپلې څپلۍ مو تر سرونو لاندې کړې، څادرونه مو راباندې کش کړل، څومره چې وخت وتلو، زما په زړه وېره ننوتله، خوب نه راتلو، پلار به مې خدایزده ویده و، کنه؟ خو چې ورته ځیر به شوم، سترګې به یې پټې نیولې وې، کله به یې سر هم په څادر کې پټ کړ، ما هم هڅه کوله چې ویده شم، خو له وېرې خوب نه راتلو، چې سترګې به مې پټې کړې، فکر به مې کاوه، چې ټولې بلاوې زما په لور راروانې دي، یا مې له پښو او سر سره ناستې دي، اخیر مې هېڅ له ډاره سترګې نشوای پټولای، همداسې لوڅې سترګې پروت وم.

یو وخت چې شاوخوا لس بجې وې، زښته زیات تور کارغان (زاغان) راغلل، کغ او پوغ یې کېښود، په هدیره یې دورې وهلې، کله به په دسته جمعي بڼه دومره راټیټ شول، هغه د فضاء کمه رڼا به یې هم رابنده کړه، ته وا د زیارت په چار دیوالي چت کېښودل شو. په پلار مې غږ وکړ: په دې توره شپه کې دا کارغان څه کوي؟

ممکن ده ته به یې هم په زړه کې تشویش یا څه ویره پیدا کړې وه، خو ماته یې وېل: دا سیمې ګرمې دي کارغان د ورځې نشي ګرځېدای، د شپې راوځي، پېښور او پنجاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به هم ډېرى مرغان د شپې لخوا سېل سېل ګرځېدل، په يوه سيمه کې به راټول شول، کغ او پوغ به يې واچاوه.

څه مې ونه ويل، مګر په خبره مې يې قناعت هم ونشو، زړه کې راتېرده: چې د شپې ګرځېده يې صحيح، اما په موږ يا دې زيارت ولې دورې وهي؟ ولې يو، يو ځل داسې يو ناڅاپه ټول راټيټ شي، چې سم تپ تور راجوړ کړي؟

کارغانو څو دقيقې د زيارت په سر دورې ووهلې، ښه وکغېدل، ټېټ او هسک شول، له څو شېبو وروسته کرار کرار کمېدل، بالاخره ببخي يې غږ ورک شو.

د کارغانو له تلو يو ساعت وروسته، په داسې حال کې چې دواړه څنګ په څنګ پراته و، پلار به مې که ويده هم نه و، سترګې به يې پټې کړې وې، مګر ما لا هم له وېرې سترګې نشواى پټولى، همدا و چې ناڅاپه مې د زيارت د څلور ديوالي د پسخو په سر د اور لمبې تر سترګو شوې.

زر مې په پلار غږ وکړ: نانکه! نانکه! ويښ يې؟ دېوالونو اور واخيست.

پلار مې ترڅو ورته متوجه کېده، لمبې ورکې شوې، ده چې څه ونه ليدل، ماته يې ويل: مه وېرېږه اور نشته، وهم دې کړى، يا به له کومې خوا د موټر د چيراغونو رڼا ورته برابره شوې وي، تاته داسې ښکاره شوې، لکه دېوالونو چې اور اخيستى وي، که رښتيا اور وى، ما به هم ليدلى و، وېرېږه مه ارام ويده شه هېڅ خبره نشته.

خو دا چې ما لمبې ښې سمې وليدې، هېڅ شک مې نه پکې لاره، د نانک په خبرو مې ذره تسکين نه کېده، وېره مې لحظه په لحظه زياتېده. مګر دا چې زړه مې لړ درزېده، که ډېر، هېڅ چاره نه وه، څه مې کړي وى؟ صرف نانک پورې مې ځان ښه وچسپاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې پېښې وروسته د نانک په کسو کې هم تر ډېره ستوري ځلېدل، لوخې سترګې پروت و. څه وخت پس چې ورته متوجه شوم خدايزده ويښ به و که ويده؟ خو بيا يې سترګې پټې وې، لږ ځنډ وروسته يې سر هم په څادر کې پټ کړ، شېبه په شېبه به ځکه ورته متوجه کېدم، کله به يې چې سترګې لوخې وې، څه زيات زړه به مې پرې تکيه و، دده د سترګو او سر په پټولو سره به زما ويره لا زياتېده.

نور خو وخت نه رامعلومېده، په لاس مې له هغه پخوانيو ايراني کاسيو ساعتونو يو ساعت و، د هرې ګړۍ په پوره کېده سره به يې په ټيټ غږ يو چنګ آواز کاوه، په همدې مې وخت معلومه ؤ، ان د دولسو بجو زنګ مې يې هم واورېده. نه پوهېږم څو دقيقې به ترې تېرې شوې وې، چې د پښو طرف ته مو د کوټې په کونج کې ډېر ستر اور ولګېده، فوراً مې په پلار منګولې خښې کړې: نانکه! نانکه! کوټې اور واخيست!

زر يې څادر له سره لرې کړ، د اور په ليدو يې لمړی پښې راټولې کړې، بيا پسې راکيناست، اور دا ځل د ديوال په سر غوندې د سترګو رپ کې ورک نشو، څو شېبې يې دوام وکړ، خو ښه و، دې خوا رانغی، لکه تناره کې يوازې همغه کونج کې يې لمبې تاو راتاو شوې، له څو لحظې تاوېدو وروسته د فضاء په لور پورته شوې، زما خو هسې هم مخکې له مخکې وضعيت خراب و، خو دې پېښې مې پلار هم سم ووېراوه، ورته وېل مې: ځه له دې ځای نه وځو.

مګر ده سره له دې چې د زړه د ذربان آواز يې ما محسوسه و، خو بيا هم ماته يې ويل: مه وېرېږه، دا ډيوې دي، د خدای ج د وليانو او شهيدانو په قبرونو ګرځي، موږ ته ضرر نه رسوي، څوک به مو وولي، په دې نيمه شپه او دې نابلدۍ کې چېرې ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب مې نه لاره، څه مې ونه وېل، کنه نور مې دلته هم شېبه طاقت نه کېده.

د معمول خلاف په نيمه شپه د کارغانو راتلو او زمونږ په سر دورې وهلو، دغه راز ناڅاپه اور لګېدنې ښخه له وېرېدو سربېره، د قبر له داخله د راپرانستې تور سورې په خولې کې مې د مړې وحشناکې اسکليټې منګولې تر سترګو، سترګو کېدې، ته وا زړه يې بوټ رانه ويست. خو لا هم ناست و، نه پوهېږم له يوې بجې به څو دقيقې تېرې وې، چې پلار مې بيا ويل: ښمله نور ان شاءالله څه نشته، دی خپله هم پرېواته، خو له بدمرغه لا مو ډډې په ځمکه سمې نه وې لګېدلې، چې ور (دروازه) وټکېده، دواړه په ټوله وارخطايۍ سره واپس راکېناستو، ټول بدن مې يو قسم بې حسه شو، ان خوله کې مې ژبه درنه شوه، ده راته وېل: ور وټکېده؟

د سره په اشاره مې کړل: هو!

نور يې څه ونه وېل، دواړه چوپ ناست و، دوې سترګې مو په وره کې وې، چې اوس به څه بلا راننوځي؟ ځکه چې ور هم د لرګي له دوو زړو او نازکو تختو جوړ و، د ځينځير په ځای يو نری سيم پکې تړل شوی و، د رابندېدو په مهال نوموړی سيم د وره څنګ ته په ديوال کې ټکوهل شوي مېخ بسته کېده؛ يعنې هسې معمولي جټکه چې ورکړل شوې وای، هم ور ماتېده، هم سيم شکېده.

خو څه مو کړي وای؟ د تېښتې لار نه وه، توره تاريکي کې خف او چوپ سترګې په وره کې ښک، ښک ناست و، څو شېبې لا نه وې تېرې، چې بيا وټکېده، په دې سره، زما له حاله خو هسې هم يو خدای ج خبر و، د غږ له بدلېدو يې ښکارېده، چې پلار مې هم ډېر زياتووېرېده، خو چاره نه وه، لا هم همغه شان خف او چوپ د وره راغوځولو او هيبتناکو بلاګانو د راننوتلو په ډېر سخت وهم او ډار کې د قبر څنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو په بل پورې جوخت ناست و، شاوخوا لس دقيقې تېرې شوې، هېڅ شی رانه نه وتل، نه يې وره ته جتېکه ورکړه، خو زموږ په زړونو وېره ننوتلې وه، ټيکه مو نه کېده، په درنه او لړزانده ژبه مي پلار ته وېل: له دې ځای نه ځو، پاتې شپه به چېرته غره کې تېره کړو!

څنګه چې په ده کې هم نور ماته د تسلې راکولو او دلته د وخت تېرولو توان نه و پاتې، وېل يې: ښنو کړه څپلی دې!

څپلی مو ښنو کړې، څادر مو منګولو کې راسره راواخيستل، پلار مي تر مخ، زه پسې شوم، لمړی يې د وره له پاسنۍ لوې چولې بهر يوه خوا بلخوا وکتل، څه يې ونه ليدل، بيا يې په دېوال کې له ټکېدلي مېخ نه د وره بند شوی سيم راخلاص کړ، ورو ورو يې ور راواز کړ، تر نيم کښ وره يې بيرون (بهر) وڅاره، په څه يې چې سترګې ونه لګېدې، ور يې پوره راخلاص کړ، ماته يې کړل: تېز راځه!

په دې سره که څه هم له دې مخکې به مې د ښنو له درده لږ دراز قدم نه شوی اخيستلی، ان زياتره وخت به په ټککو ګرځېدم، مګر دلته يوخوا زيارت کې راباندې د تېر شوي وهم زور و، بلخوا عينې د تېښتې حال کې مو هم داسې انګيرله، لکه ډلې ډلې پېريان، شيشکې او قسما قسم بلاګانې چې راپسې وي.

همدا و چې ټول بدن مي بې حسه و، نه يې په درد پوهېدم، نه يې په پړسوب، ښکته د هديرې په منځ کې مي داسې منډه اخيستې وه، که په لږ مبالغې سره يې ووايم، باور وکړئ له بسته، بسته قبرونو مې ټوپ واهه، ډېر زيات ښکته راوتښوو، يو خوا شپه بل نابلدي وه، دا نه رامعلومېده چې کوم خوا لاړ شو؟ آبادي ته به زر ووځو، همدا لامل و چې تر زښته ډېرو منډو وروسته هم کومې ابادۍ ته ونه رسېدو، کني طبعاً تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هديره چاپېرو غونډيو نه به د کومې يوې شاته نژدې هم کلي او ابادۍ موجود و، ولې چې دې هديرې ته خو مړي له جلال اباده نه و راوړل شوي، خو مورږ مخامخ ښکته د خوړ غاړه نيولې وه، تر څو کيلو متره منډو او مزلو وروسته په داسې حال کې چې نور مو نفس بېخي ولاړ و، د يو کمر څنګ ته ودرېدو، دمه مو وکړه، که څه هم ناآشنا غرنۍ سيمه او خوړونه و، لا مو هم زړونو کې پوره وېره وه، خو نسبت زيارت ته مو څه ناڅه د امن احساس وکړو، هغه شان مو ځان د شيشکو او بلاګانو په منځ کې ايسار نه ګاڼه.

پلار مې د پښو د درد پوښتنه وکړه، ماوېل:

ښې دي هېڅ درد نه کوي، خدايزده ولې؟

زما مخکني حالت ته په پام، چې ډېر په زحمت او تکلف کرار، کرار به ګرځېدم.

پلار مې راغبرګه کړه: څه شکر چې ښې دي، لکه چې زيارت کې دې نيمې شپې تېرولو مو هم فايده ورته وکړه.

ما غږ ونه کړ، بيا يې وېل: ښکته ددې خوړ په غاړه که هر څومره ولاړ شو، فکر نکړم کوم کلی اوسي، راځه تر دې خوړ به پورې وځو، له هغه غونډۍ هاخوا ممکن آبادۍ، کلي کورونه وي، مسجد کې به يې شپه تېره کړو.

خوړ ته چې ورښکته شو، ډېر ژور و، څنګونه يې سيلاب وهلي و، پاڼ پاڼ ولاړ و، زښته زيات ښکته پورته پکې وګرځېدو، هاخوا ته ترې ختلو ځای نه و، بالاخره ډېر کوز يو ځای پاڼ راړنګ و، پلار مې وختلو، ماته يې لاس راکړ، ورکش يې کړم، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره سختئ له خوږه واوښتو، د غونډۍ سر ته چې ورپورته شو، لاندې شنه باغونه او پټي د شپې له وجې تور ښکارېدل، يو لاسي چراغ پکې ګرځېده.

لنډ چې ورغلو چراغ واله بزګر و، اوبه يې لګولې وې، زموږ په ليدو رانه ووېرېده، وارخطا يې کړل: څوک يئ؟

پلار مې ورغبرګه کړه: مسافر يو، يو مسجد راوښيه، چې شپه پکې تېره کړو!

د بزګر زړه ته ونه لوېده، ويل يې: په دې وخت کې مسافر څه کوي؟

پلار مې د قناعت ورکولو په پار واقعيت ورته ووېل: زوی مې ناروغ دی، غوښتل مو پاس له هغه غونډۍ هاخوا شپولي بابا زيارت کې شپه وکړو، تر اوسه پکې و، خو له بده مرغه څو ځل ډېر سخت پکې ووېرېدو، نور مو ټيکه ونشوه، ترې راووتلو.

په دې سره د بزګر له روېه او خبرو ښکارېده، چې څه ناڅه قناعت يې وشو، وروستۍ پوښتنه يې دا وه چې: د کوم ځای ياست؟ پلار مې ورته کړل: د وردګو يو!

ممکن يو څه به مو له لهجې هم پوهېدلی وي، په دې سره يې پوره ومنله، تندی يې وغوړېده، داسې ښکارېده لکه زموږ په حال او له زيارت نه په تېښته چې څه موسکی هم شي.

د مسجد د ادرس راکولو په پار يې کړل: داسې وړاندې ورشئ، له سرک او يولې پورې وځئ، د کلي سر کې مسجد دی.

د مننې په کولو سره ترې راروان شو، څه چې راغلو، ربښتيا سرک او تر څنګ يې يوله مخې ته راغله، د يولې په ژۍ ونې او ځنګل و، هاخوا څه نه ښکارېدل، پُل مو راپيدا کړ، له يولې نه د پوربوتو سره سم مو په کورونو سترګې ولګېدې، د بزګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې اړوند همدې لمړي سر کې مو يو درى ديوالي زوړ جومات وموند، د محراب طرف او دواړو څنګونو دېوالونه يې د خوړ له شنو ګردو ګاټو او خټو ودان و، له پاسه يې د فوزي او آئين چادر چت پرې جوړ کړى و، شاتنى ديوال يې له سره نه لاره، د مسجدونو له پاره ځانګړى د جاينماز په بڼه جوړ شوى پلاستکي فرش پکې هوار و، موږ ډېر ستړي او بې خوبه و، محراب ته نژدې د پلاستکي فرشونو له پاسه غوړېدلي دوه جنډيي جاينمازونه مو راټول کړل، د بالښتونو په پار مو تر سرونو لاندې کړل، يو ساعت لا نه و تېر، چې جومات ته نژدې کوم بل دهکان څه کار شروع کړ، کله کله به يې بېلچه له کاڼي سره ټکر شوه، ډېر جګ او آزارونکى غږ يې کاوه، راويښ به يې کړو، خو بيا هم ښه و، لږ دمه مو جوړه شوه، سهار مې پلار غږ راباندې وکړ، وېل يې: لمونځ وکړه.

چې ځان مې وخوځاوه، ته وا له طيارې رالويدلى يم، ټول بدن مې تيکه تيکه، ځب ځب و، د چا خبره نه لاس راټولېده، نه پښه، لکه مړى شخ پخ، جام پاتې وم، بالاخره د نانک په همکارۍ ډېر تکلف او زګېرويو جګ شوم، د پښنو خو هسې هم خونده نه وه، دلته نو ښېخي قدم نه پرې اخيستل کېده.

اصلاً له هغه ورځې چې ناروغ شوى وم، منډه مې نه وه کړې، نه مې کولاى شوى، نه مې کوم فزيکي کار کړى و.

همدا و چې وجود مې ډېر نازک شوى و، دا لکه کوم بااستراحته سړى چې يوه ورځ ورزشي کلف ته ولاړ شي، ښې ډېرې منډې وکړي، وزنونه پورته کړي، ملاقونه ووهي او بيا کور ته راشي، له دمې جوړولو وروسته يې بدن ټوک ټوک وي، له درده په اړخ نشي اوښتى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خو بيا هسې له مخکې هم وجود جوړ نه و، د لندو ختو خو بېخي لړ اوبه دارو وي، دلته نو زه څه ان نانک هم برېښ برېښ و، له ځان دردئ يې شکايت کاوه.

خلاصه په ډېر تکلف او زحمت مې اودس او لمونځ وکړ، جومات ته يې غړ راتلو، دا وخت له يولې هاخوا په سرک يو نيم موټر هم تېرېده، د لمانځه له دعا کولو وروسته وروتلو، لږ ځنډ پس يوه کرولا راغله، پکې راسپاره شو، شاوخوا نهه بجې يې د جلال اباد ښار کې ښکته کړو، له موټر نه د ښکته کېدو په مهال مې هم پښنو بېخي کار نه کاوه، سمې شلې وې؛ نانک تر لاس ونيوم، يو څه چې ولاړو، وينه پکې وګرځېده، لږ ښې شوې، له پرون لسو بجو راهسې مو څه نه و خوړلي، سخت وږي و، يوه هوټل ته ورغلو، له چايو سره مو چپلي کباب راوغوښت، مرچک يې زيات و، سترګې مې يې له اوښکو راډکې کړې، خو وږی وم، ترې په شاه نشوم، ځان مې موړ کړ، د دسترخوان له دعا وروسته، نانک نسوار واچول، له هوټل نه راووتلو، د کابل اډې ته راغلو، ماسپښين شاوخوا درې نيمې بجې کابل کې موټر ښکته کړو، ماخوستن وردګو ته راورسېدو، په ټول کې زيارت ته د تللو او دومره تکليفونو، تاوانونو نتيجه دا شوه، چې صحت خو مې بلکل ورسره ونه منده، برعکس د خپل پخواني تکلف او ناروغۍ سربېره مې له زيارت نه د تېښتې او منډو له عمله راته پيدا شوې اضافي ځان دردئ، د عضلاتو شخ والی او د بدن برېښنونو څو اونۍ دوام وکړ، ښه پوره يې وکړوم، ان مياشت وروسته ايله خپل پخواني حالت ته راوګرځېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنيات ډاکتران

د شينوارو شپولي بابا زيارت ته تر تلو څه وخت وروسته مو يو سپينږيري ګاوندي چې موږ به هم د اولادونو په خوله يې (کمکی لالا) باله، مور ته مې يې ويلي و: لوګر کې يو ملا دی، ډاکتران پيريان يې تابع دي، د هر نوعه ناروغۍ درملنه کولای شي، کوم ناروغ چې په دم، څاښت او تعويذ نه رغېږي، د هغه عمليات (جراحي) کوي، زه پرون ورغلی وم، زما پښې يې هم عمليات کړې، ډېره فايده مې ورسره کړې، نن دومره نه خوږېږي، څنګه به چې مخکې خوږېدې؛ ملا ويل تر يوې هفتې به ښېخي ښه شي، نو تاسو هم حتماً يو ځل نعيم جان ورولئ.

دا چې کمکی لالا مې په مور ډېر ګران و، چون ټول ماشومتوب يې دده له لورانو سره يو ځای په لوبو تېر شوی و او يو ځای ورسره را رالويه شوې وه، پس کمکي لالا هم د خپلو لوڼو سره برابره مينه ورکړې وه. همدا و چې مور ته مې د لوګري ملا او د پيريانو په وسيله عمليات، د کمکي لالا د خولې خبره نه، بلکې د کاڼي کرښه وه، خورا زيات يقين يې ورته وشوو.

لنډه دا چې دوې ورځې وروسته مې يې زه او پلار پرې ورشارت کړو، هسې په کابل او چاراسيا ورتاو شو، د لوګر مرکز پل علم کې مو د ملا پوښتنه وکړه، ډېرى خلکو نه پېژنده؛ وروسته ښه شو يو سړي يې ادرس راکړ، پسې ورغلو کور مو يې راپيدا کړ، د کلي له نورو کورونو دېخوا جدا کلا يې وه، کوچنۍ شنه ائيني دروازه مو يې ورټک ټک کړه، شاوخوا يو ۲۵ کلن سرتور سرى ځوان راووت، کونډۍ ګيره يې وه، وېښته يې شاته اړولي و، له سلام عليک او ستړي مشي وروسته مې پلار ورته وېل: ملا صاحب ته راغلي يو، دا زوی مې مريض دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان د لاس په اشارې د کور داخل ته په وربللو سره کړل:

- مهرباني!

دی مو تر مخ، موږ پسې شو، یوه نسبتاً وړوکي اطاق ته یې ننه ایستلو، په رنګارنګ طبیعي او مصنوعي ګلانو، منظرو یې ډېر ښکلی او تزنین کړی و، د کړکیو له پاسه په ډېرو ښایسته او نفیسو قفسونو کې دوې کنریانې هم راځوړندې وې، یو نیم خاندن به یې کاوه، ځوان له اطاقه ووت، څو شېبې پس پرته له موږ نه د چای څښلو د پوښتنې یې یو چاینیر چای او یوه ښه لویه تازه له تناره نه رایستل شوې توده ډوډۍ هم راوړه، له چای خوړلو وروسته موږ په دې طمعه و، چې اوس به ملا صاحب راځي، په وره کې مو یې اوږده ګیره او لویه پګړۍ تر سترګو سترګو کېده؛ مګر زموږ د طمع خلاف، یو وخت مو چې ولیدل، همدا ځوان هلک خپله راته ملا شو، هاخوا د کوټې په کونج کې ایښي کوچني میز له سره یې څو دانې سپینې کاغذي پاڼې، قلم او تۆرې ته ورته یوه لویه اوږده چاړه، دغه راز یوه ګرده ذربین شیشه یې هم راواخیسته، موږ ته مخامخ کېناست، کاغذونه، قلم، چاړه او ذربین شیشه یې تر مخ په غولي کېښودل، بیا یې زما پلار ته سترګې ونیولې:

- د زوی مو څه ناروغي ده؟

پلار مې ټوله کیسه ورته وکړه، چې ګویا دوه کاله له مخه یې لمړی جنسي غړي وپړسېدل، بیا یې کرار کرار اول چپه او د څه وخت له تېرېدو وروسته یې ښی پښه هم وپړسېده، سره ددې چې ډېرې دواوې مو پرې وکړې، خو ښه نشو، اوس ستا ادرس چا راکړ.

ملا کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غم مه کوه، صحيح ځای ته ايله اوس رابرابر شوئ. بيا يې ماته سترګې راواړولې ويل يې:

رانژدې شه، په ناستو وروښوېدم، له توشکې غولي ته ورښکته شوم، لمړی يې د يوې سپينې لويې کاغذي پاڼې په منځنۍ نقطه د قلم کونه راته ولګوله کړل يې:

تر هغو چې ما نه دي درته ويلي، په دواړو سترګو او ټوله توجه به د پاڼې په منځ دغه يوې نقطې ځای ته متوجه اوسې، نه به بلخوا ګورې، نه به سترګې رپوې، هر وخت دې چې تور خال پرې وليده، بيا ماته ووايه، د ملا د حکم سره سم، په ټوله ځيرتيا د سپينې پاڼې همغه يوې نقطې ته متوجه وم، تر ډېره مې څه نه پرې ليدل، اخير مې سترګې شخې پاتې شوې، په هغه معينه نقطه کې به مې کله يو تور خال تر سترګو شو، کله دوه درې، چې سترګې به مې ورته کش کړې، واپس به ورک شول، لحظه وروسته به مې بيا داسې احساس کاوه، لکه خال چې وي، عيني حال مې له ملا سره شريک کړ، چې ګويا کله مې يو يا هم دوه درې تور خالونه تر سترګو شي، خو چې سم ورته ځير شم، واپس ورک شي.

ملا په خوشامندو او مکارۍ خندا سره کړل:

- بس، بس غم مه کوه، کار وشو، په سپينه پاڼه د خال درمعلومېده، مانا چې ډاکترانو ستا ناروغي تشخيص کړه او پوره علاج يې کولای شي.

د دې خبرې سره جګ شو، له کړکۍ يې د کور حويلۍ ته ورغږ کړل، څو شېبې نه وې تېرې، چې يوه بدرنګوکې تقريباً نهه، لس کلنه ډنګره نجلۍ د سلام په اچولو سره اطاق ته راننوتله، زما او د ملا تر څنګ کاغذونو ته مخامخ کېناسته، ملا چاړه د کاغذونو له څنګه وريورته کړه، دمونه يې پرې شروع کړل، زر زر په پوزو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډو کې پسنېده، له اوږده دم وروسته يې په نجلۍ ورچوپ کړل، نجلۍ په غولي بوڅه راواوښته، چپه شوه، سترګې لاسونه او پښې يې ټول سره کاږه واږه شول، ملا د کړېږ وږې پرتې نجلۍ له پاسه چاړه د ګوزار پرې کولو په موډ کې ونيوله، په قهرجن او جګ آواز يې ورته کړل:

- په دې ناروغ څه شوي؟

نجلۍ په نارينه ډبل او وېرېدلي غږ د يوې ناآشنا ناروغۍ نوم واخيست، تر ډېره مې ياد و، په غالب ګومان فکر کوم (ټيټاټوټېک) يې ووېل، که مې اشتبا هم کړې وي، په ډېر کم توپير سره، د نجلۍ له دې خبرې وروسته يې چاړه نوره هم د ګوزار پرې کولو په ډول ورته جګه کړه، همغه غوسه ناک انداز کې يې ورته کړل:

- علاج به يې څنګه شي؟

نجلۍ بيا هم په نارينه درانه غږ کړل: علاج يې کېږي، خو عمليات ته اړتيا ده.

ملا ورته کړل:

- څومره مصارف پرې راځي؟

نجلۍ وېل:

- (۱۲۰۰۰) دولس زره افغانۍ!

ملا کړل: ښا سمده! بيا يې په چاړه دمونه شروع کړل، له اوږده دم پس يې چاړه د پرتې نجلۍ په بدن له سره تر پښو کاږله راکاږله، چوف، چوف يې پرې وېل، له څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل چوف، چوف وروسته د نجلۍ کاږه لاسونه، پښې او سترګې کرار کرار سم شول، راکښناسته.

ملا مې پلار ته سترګې ور واړولې:

- د ډاکترانو خبرې دې واورېدلې؟ چې وېل يې جوړېږي، خو مريض بايد عمليات شي، مګر (۱۲۰۰۰) زره افغانۍ مصارف پرې راځي.

پلار مې ورغبرګه کړه:

- که خدای ج يې ښه کړي، دولس نه، شل زره به ورکړم، په دې هلک ما ډېرې پيسې مصرف کړې، دولس زره خو دومره نه دي؛ مګر کله چې جوړ شو بيا پيسې ورکوم!

ملا وېل:

- نه، پيسې لمړی غواړي، کومه دوا يا وسايل چې د ناروغ د عمليات په مهال پکارېږي، هغه پرې اخلي!

پلار مې ورته کړل:

- فعلاً خو له ما سره دومره پيسې نشته، چې ورېې کړم، واپس کور ته د تلو له خرڅ او کرايو مو ايله (۱۰۰۰) زر افغانۍ راسره اضافه شي، دا که اخلي؟ ورکوم يې او نورې يې ځنګه مې چې مخکې ووېل، که هلک ښه شو، په همغه ورځ دولس نه، شل زره افغانۍ ورته راوړم، که کابل يا د لوګر مرکز پل علم کې ضمانت غواړي؟ ضامين هم ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا بيا هم تر ډېره په خپله خبره کلک و، د پيسو په مخکې له مخکې اخيستو يې ټينګار کاوه، ولې چې پوه شو، رښتيا پيسې نشته ورسره، يا يې نه ورکوي، هغه (۱۰۰۰) افغانۍ يې هم غنمت وګڼلې، همغه په چک کې د ګلي د فالبين ملا خبره يې وکړه، ويل يې:

- دا چې تاسو له لرې ځای نه راغلي يئ، بلخوا وردګ ډېر ښه خلک دي، خير کومې پيسې چې لرئ، هغه ورکړئ، نور به د دوو، دريو ورځو لپاره، د ډاکترانو لاس زه درنه ونيسم، مګر چې حتماً يې بيا راوړئ، کني له جنياتو خو په هېڅ ځای کې ورکېدلای نشئ، ډېر ستر تاوان به درواړوي.

پلار مې بيا هم خپله مخکنۍ خبره وکړه، ګويا که زوی مې ښه شو، هرو مرو به د دولس زرو په ځای شل زره افغانۍ ورته راوړم.

په دې خبره د دواړو له موافقت وروسته، ملا لمړی يو ځاښت راته وليکه، بيا يې د وړوکي ميز له روق نه په سپينه جنده کې تيار ګنډل شوی تعويذ راواخيست، د غاړې د بند په ځای يې لکه د متروکې (مچنُغزې) له کاسې دوې اوږدې، اوږدې تسمې پسې زنګېدې، ماته مخاطب شو، ويل يې: جګ شه د کميس لمنې دې پورته کړه!

زړه مې لاړو، ماسکه کړل شيان (جنسي غړي) ګوري. زړه نازړه مې د پلار په مرسته لمنې پورته کړې، خو ښه و، د شيانو د کتلو کيسه نه وه، اوږدو تسمو واله تعويذ يې تر ملا راوتاړه؛ پلار ته مې يې د سترګو په ور اړولو سره زياته کړه:

- دا تعويذ خلاص نکړئ، ډاکتران د همدې تعويذ په ذريعه د لارې مسير درپسې تعقيبوي، راتلونکې شپې ته په نهو بجو درځي، د زوی پښې دې او دا پورته نور شيان يې عملياته وي، خو دی بايد هغه مهال په يو داسې اطاق کې وي، چې نه بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس ورسره وي او نه د چراغ يا کوم بل څه روښنايي وي، ان ور يې هم بايد بند اوسي. دغه ځاښت به مو مخکې له مخکې پاکو اوبو کې ورته حل کړی وي، کله چې بسترې ته ولاړو وروڅښئ، نور به ستوني ستغ آرام ويده شي.

پلار مې جيب ته لاس کړ، هغه ورته وېلې زر افغانۍ يې ورکړې، د خداپپامانۍ په کولو سره ترې راروان شو.

دا چې يو خوا ورځ دلته تر نيمايي تېره وه، بلخوا تر وردګو ډېره لاره وه او مورږ هم مکلف و، چې تر بېګا ځان خپل کور ته ورسوو، راتلونکې شپه د ډاکترانو له راتلو يا هم (۹) بجو مخکې د عمليات لپاره تياري ولرو، دغه و چې د ټولې عجلې په کولو سره بيا هم مازيګر ناوخته ايله د کابل ښار کمپنۍ ته راورسېدو، کوم چې د وردګو د موټرو اډه پکې وه، يوه سراچه ډوله موټر مو پيدا کړ، دوه نفره سواري يې لرله، درې کسه کم و، د هغه يوه کس کرايه هم مورږ په غاړه واخيسته، راروان شو، د شپې په شل کمې (۸) بچو يې د کور په دروازه کې ښکته کړو، مور مې چې په کيسه خبره شوه، زر زر يې ډوډۍ راتياره کړه، څومره چې د عمليات وخت رانژدې کېدو، زما په زړه وېره ننوتله، د ډوډۍ خوړلو په سر مې پلار بار بار وېل: ډوډۍ دې زر زر وخوره، چې ناوخته ده، ما له همدې ځای نه کرار کرار چنګ او پنګ شروع کړ، چې اطاق کې تنها نه ځملم؛ مور او پلار به مې کله دلاسا کوم، کله به په قهر شول.

بالاخره په لندو سترګو يې اطاق ته روان کړم، څنګه چې په لمړيو کې مې هم يادونه کړې، هغه وخت زمورږ کور زلزلې ړنګ کړی و، مورني بابا مې په خپل کور کې يوه تاوخانه، يو دهلېز او يوه اشپز خانه راکړې و، په همغو کې اوسېدو، پخوانی زوړ کور و، اطاقونو يې د اوسنيو اطاقونو په شان لويې وروسۍ (کړکۍ) نه لرلې، په کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاق کې چې زما عمليات کېده، مور به تاوخانه ورته وېل، ددې هم يوازې دوې کوچنۍ دبرچې (دريڅې) د اشپزخانې بام ته وتلې وې، زما د ورننيستلو په مهال مې پلار د تسلي راکولو په پار راته وېل:

- ډارېږه مه، زه د اشپزخانې په بام د تاوخانې د دربچې مخ کې درته ځملم.

لنډه دا چې تاوخانې ته ننوتلم، بستره کې له کېناستو سره سم مې مور په ګيلاس کې جوړ کړی ځابښت راته ونيوه، په نه زړه مې نيم ګيلاس ترې وڅښلو، مور مې د ټول ځابښت د څښلو ټينګار کاوه، ماوېل: نور نشم څښلی. اخير يې پاتې ځابښت هم راباندې وڅښلو، دوی چې له اطاق نه وتل، په ژړاغوني آواز مې ورته کړل: ور زه له دې خوا قلفک کوم، تاسو يې له شا مه راپسې قلفوئ!

وېل يې: سمه ده!

خو ټينګار يې وکړ، چې حتماً يې قلفک کړې، ځکه ملا ويلي و، چې ور بايد بند شي. څو مې ورته وېل چې سمه ده، مور مې بيا کړل: هو رښتيا د تاوخانې د وره قلفک خراب دی، د دهلېزه وره ته تنبه کېږده، په همدې سره دوی له تاوخانې ووتل، څنګه چې زه هم له خپلې ناروغۍ ډېر تکليف او زړه تنګی وم، په ټوله غوښتنه مې دا هيله وه، چې ښه شم، بلخوا د مور او پلار په وړاندې مې که هر څو ناز کاوه، سترګې مې راسرې کړې، مګر عين حال کې بااحساسه وم، له ځان سره مې غفلت نه کاوه، نه مې هم تر لوګر پورې زحمتونه او مصارف ناچيز کول، همدا و سره له دې چې ډېر سخت وېرېدم، هر څه راته پېريان او ورسره د عمليات وسايل، چاړې او قچيګانې ښکارېدل، خو بيا هم ورجګ شوم، د دهليزه وره ته مې تنبه کېښوده، واپس راغلم، څنګه چې ملا ويلي و، په بستره کې د بسم الله، ايات کرسي او نورو مسنونو دعاګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ويلو سره ستوني ستغ پرېوتم. خوب له کومه شو؟ د ډاکترانو (پېريانو) د راتلو شېبې مې شمېرلې، څومره چې وخت وتلو، وېره مې زياتېده، په لاس باندې مې د تړلي ساعت د هر ساعت له پوره کېده وروسته وتومات نرم زنګ نه پوهېدم، چې نهه بجې شوې، لس او يولس بجې شوې، که څه هم هسې به مې يو څه تر سترګو شول، يا به چت کې غچار شو، کله به مې د انسانانو غوندې ستماری تر غوږو شو. خو اصلاً دا ټول د وېرې له وجې خيالات او تصورات و، واقعيت کې هېڅ هم نه و، په همدې شان يوه، دوې او درې بجې شوې، نژدې و چې سهار شي، نور مې زړه ومنله چې دا هر څه د پيسو لپاره د ملا چل او دروغ و، نه ډاکتران شته، نه عمليات، بې غمه ويده شوم، سهار مې چې مور او پلار راجګ شوي، طبعاً د کور د غړو تلوسه کېږي، خاصتاً د مور او پلار. دغه و چې له لمانځه مخکې يې ماته منده راخيستې، هر څومره يې چې ور او د دربچو شيشې راټکولې، زه په هېڅ هم نه يم خبر شوی، چون ټوله شپه مې په رڼو سترګو شبګيره تېره کړې وه، اوس به نو خود په ډولونو نه راويښېدم.

زما دې غږ په نه ورته کولو، نور هم وارخطا شوي، ګويا لکه چې تر عمليات لاندې مړ شوی، د بابا دوی په کور مې يې چيغه ګډه کړې، هغوی هم د دهليزه د بند وره مخې ته راټول شوي، بالاخره پرېکړه دا شوې چې د اشپزخانې بام ته وتلو د تاوخانې له وړکيو دربچو يو څوک راښکته کړي، په شيشه يې چې د ماتولو په پار د سوټک وار وکړ، د کړس سره مې يې له وېرې پورته ټوپ کړل، راويښ شوم، کړنګار شو، د ماتې شوې شيشې ټوټې لاندې په تاخچه او د تاوخانې غولي ته راولوېدې، زر مې روجايي له مخ نه لرې کړه، چې کتل مې سپينه رڼا وه، د کورنۍ غړو مو په بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

<u>زیارت په زیارت</u>

شیشې دربچه کې مخونه رانیولي و، لکه تلویزون کې یې چې وینم، غږ مې پرې وکړ:

- څه شی دي؟

پلار مې وېل:

- ښه یې؟

- هو، ښه یم!

- مرګ ښه یم، ولې دې غږ نه کاوه؟

څه مې ونه وېل، جګ شوم، له وره نه مې تنبه لرې کړه، مور او پلار خویندې، ورونه، باباخیل مې زما په جوړ او روغ ژوندي لیدو ډېر خوشحاله شول، خو عیني حال کې د وره په نه خلاصولو او دوی باندې د تېر ځور له کبله لږ ترخه هم و، مور مې راتیته شوه، پایڅې مې یې راپورته کړې، چې ویې لیدې پښې نه وې ښې شوې، نه هم د عملیات کوم زخم پرې ښکارېده، همغه د پخوا په څېر شنې منې پړسېدلې وې؛ د ډاکترانو او عملیات په اړه یې رانه وپوښتل.

ماوېل: همدا اوس یو ساعت مخکې ویده شوم، ټوله شپه ویښ وم، هېڅ مې هم نه دي لیدلي، نه څوک راغلي.

په دې سره دوی هم ملا دروغجن او په دې ډول ټګماریو له خلکو نه پیسې شکونکی غل وباله، ښکنځلې یې پسې لښکر کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته! له يادولو دې پاتې نه وي، اصلاً د كمكي لالا پښې يې هم نه وې عمليات كړې، درحالې کې چې نوموړی د دروغو سړی هم نه و، خو دا چې وېل يې: زما د پښو عمليات يې وکړ، تر ډېره يې درد ورسره آرام شو او زما مور ته يې هم زما د وروستلو ويلي و. حقيقت کې دده ډېر يقين ورته شوی و، له دې کبله يې د عمليات په شپه هم داسې محسوس کړي و، لکه په پښو يې چې مېړيان ګرځي، د خپلې قوي عقيدې له مخې يې، په پښو باندې همغه د مېړيانو ګرځېده د عمليات جريان ګڼلی و.

پس زما په اند د همدې خيالي عمليات له وجې يې د ناروغۍ په وړاندې روحيات او مرال لوړ شوي و، يو څو ورځې يې ځان څه ناڅه ښه احساساوه، کنه نور يې نه ډاکتران ليدلي و، نه يې په کومه بله ښښه نيښانه پوه شوی و.

که څه هم د عمليات په شپه دغه په پښو باندې د حشراتو د ګرځېدو او پرله پسې د پښو په ښېلا ښېلو برخو کې د کاذب خارښت احساس ما هم کاوه، مګر ما درک کوله، چې دا صرف زما د تلوسې او تشويشاتو زېږنده ده، حقيقت کې نه مېړيان شته، نه بل څه.

مانا زما په پرتله د كمكي لالا خوشبختي دا وه، چې ده همدا د تصوراتو او خوشبيناتو زېږنده محسوساتو ته د واقعيت په سترګه کتلي و او ځان ته يې قناعت پرې ورکړی و، له دې کبله يې څه روحي او فكري فايده ترې حاصيله کړې وه، زما كلانكار او بې عقل، عقل دا شی نه منل، نو ځکه يې کومه فايده هم ونکړه، هسې مو پيسې مصرف شوې او دومره وېرې او تكليفونه راباندې تېر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ریگ کې ځښېدل

یوه ورځ له سپوکي ( سپوکه زموږ چک ولسولۍ کې د یوې درې نوم دی ) د دوستانو له جملې مو یو تکړه سپین ږیری میلمه راکره راغلی و، خدای ج دې وبښي، یو کال وړاندې وفات شو، چای یې څښلو مور ته مې یې کیسه کوله:

- یو وخت مې تورکستان کې انجه وهله ( له ترکستان نه یې مطلب د افغانستان ځینې شمالي غرني ولایات و ) په دښتو، غرونو کې به سرگردانه پسې گرځېدو، یوه ورځ چې د اوړي موسم و، د ټکنده غرمې په مهال یو لوی خوړ کې راروان وم، چې یو ځای مې د شنه شگلن ریگ منځ کې، د انسان په یو بې تنې سر سترگې ولگېدې، ځای په ځای ودرېدم، ذهن کې راتېره شوه: حتماً چا وژلی، نوره تنه به یې خدایزده چېرې وي؟ سر یې ترې رابېل کړی، دلته یې غوځولی، یا به لیوانو خوړلی وي.

یقیناً ډېر پرې خفه شوم، تر هغو چې ورنژدې کېدم، یا په شاه ترې تللم، ځنگ ته له لوړ غره غږ راباندې وشو، چې کتلې مې پاس د تورو تیږو په سخت کړنک کې یو ټوپک واله ځوان ناست و، ماته یې هم هلته د ورتلو په پار لاس وښوراوه.

زړه کې مې کړل: دا کس شاید همدې وژلی وي، چې واقعیت شي، زه هم ډېر زیات ترې ووېرېدم، تر څو هسې نه ما هم ووژني، خو دا چې تېښته هم ممکنه نه وه، چون لاس کې یې ټوپک و، نو ځان مې غیرت کې ونیوه، ور روان شوم، له ورسېدو سره مې سلام ورواچاوه، ستړي مشي مو وکړه، ځوان وخندل وېل یې:

- ځنگه حیران بریان ورته ولاړ وې؟

ورغبرگه مې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هسې ماوېل چې دا د انسان سر دلته څه کوي؟ چا به وژلی وي؟ که لېوانو به خوړلی وي؟

ځوان د یو ځل بیا خندا په کولو سره کړل: دا مې ورور دی مړ نه دی، یوازې سر یې ښکاري، نور مې ریګ کې خښ کړی، ځکه چې یوه ناروغي لري، پښې او د وجود ځینې نورې برخې یې پړسېږي، په دې ناروغۍ ډاکتران نه پوهېږي، یوازینۍ دوا یې همدا ده، چې لمړی یې ټول بدن د برق په تیلو غوړ شي او بیا د اوړي د سره لمر په وسیله ښه ګرم شوي شګلن ریګ کې د څو ساعتونو لپاره خښ کړل شي.

د مور په څېره مې د تعجب او حیرت څادر خور شو، په ټوله توجه ورته غوږ غوږ وه.

میلمه شیرنۍ خولې ته واچوه، چای یې پسې غوړپ کړ، د کیسې په دوام سره یې زیاته کړه: زه نیم ساعت وروسته ترې لاړم، بیا مې ونه لیده، چې هغه سړی به څنګه شوی وي؟ خو فکر کړم ښه شوی به وي، ولې چې د تورکستان خلک ډېر تجربه کار دي.

ددې خبرې په آورېده سره مې مور د کابل ډاکترانو او هېواد په ګوټ ګوټ کې زیارتونو، ملایانو، حکیمانو... ته په کتو چې علاج کې مې عاجز شوي و، نو همدا د برق د تیلو او ګرم ریګ معامله یې زما خوارکي لپاره هم واجب وګڼله، د چک ولسوالۍ د بریښنا په فابریکه کې مو یو دوست دنده لرله، ورسره تماس کې شو، په بل سبا یې یو برابر بوتل د برق مخصوص تیل راولېږل، په ما پسې ورور مې همایون د رود (سیند) له منځ نه څو کراچۍ ښه پاک شګلن ریګ راوړه، د دهلیزه په بام د ترپال له پاسه یې وغوړاوه، دوې، درې ورځې مې مور د لمر وړانګو ته واړاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواړوه، ښه يې وچ کړ، دريېمه ورځ په دولسو بجو چې له مکتب نه راغلم، په بېړه بېړه يې ډوډۍ راباندې وخوړه، له ډوډۍ خوړلو وروسته يې زر زر يوازې له يو کوچني نکر پرته، نور کالي پاک رانه ويستل، ان د پښو له ګوتو تر مرۍ ټول بدن مې يې د برق په تېلو ښه راولمباوه، نور نو د اسد د مياشتې په ټکنده غرمه کې د دهليزه بام ته وختلو، نوموړی بام د نورو بامونو تر قات و، له کور نه د باندې چاته نه ښکارېده، لمړی د ريګ په منځ کې کېناستم، بيا په ګرمو سوځونکو شګو د سوځېدو له کبله په زګېرويو او د اخ الله، الله...نارو او فرياد په کولو سره کرار کرار شا په تخته پکې څملاستم، د ريګ هره لويه او کوچنۍ شګه د سکروټو په شان سره وه، د انسان تاب ورته عاجز و، البته دا تنها زما لپاره نه، بلکې طبعاً د مور لپاره مې هم خورا سخته شېبه وه، چې په لوی لاس يې د خپل زړه ټوټه (اولاد) په داسې ګرمو سوځونکو ريګونو کې خښاوه، مګر دا چې ددې څو ساعته سختۍ تر شاه مې يې د دايمي نيکمرغۍ هيله لرله، پس نه يې زما د چيغو او فريادونو له وجې جګېدو ته پرېښودم، نه يې د خپل زړه درد او مورني ترحم ته ترجيح ورکړه، د همايون په مرسته يې د ترپال له دواړو لورو نور سره تټاکه ريګ هم راباندې راواړه وو، ته وا په سره تنور کې يې غوپه کړم؛ له سر پرته نور مې يې ټول وجود پکې پټ کړ، خو خوشبختانه ډېر زر، صرف د څو لحظو په تېرېدو سره مې بدن پکې بې حسه شو، نور په دې نه پوهېدم، چې له سر پرته بدن هم لرم. البته نسبت توركستاني ناروغ ته له ماسره دوی يوه ځواني وکړه، چې په سر مې يې لږ سيوری راجوړ کړ او تر ډېر عذر زاريو وروسته يې يو ځل يو ګيلاس تودې اوبه هم راکړې.

لنډه دا چې تر لمر لوېده کابو څلور، پنځه ساعته مې له همدې ګرم ريګ لاندې تېر کړل، مازيګر يې چې رېګونه رانه واړول تقريباً د آته سانتي په اندازه لوند خوشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ريګ مې له غاړې تر پښو په ټول بدن سرېښ و، د وجود اوبه مې يې جذب کړې وې، سم لکه نکريزې چې کله په لاسونو صحيح وچې نشي، سهار د لاسونو پوست ګونځې ګونځې وي، زما د بدن ټول جلد همغه شان ګونځې و، ان د پښو او شيانو اوبه يې هم جذب کړې وې، پړسوب يې کم شوی و، د نور بدن په څېر پوستکو يې ګونځې کړې وې، دغه د پړسوبونو کمېده ته تر يو څو ساعتونو خوشبين و، خو فکر کړم، په ريګ کې د بدن د اوبو د ضايعه کېدو له وجې مې فشار ټيټ و، لکه بې خوبه، يو قسم خسته او بې انرژۍ وم، د ناستې ولاړې په مهال مې سر څرخېده، عين حال کې مې هېڅ تنده نه ماتېده، تر ماخوستنه مې له شلو ګيلاسونو زياتې اوبه او چای وڅښل، بدبختانه د بدن د اوبو له پوره کېدو، سره مې کرار کرار د پښو او شيانو پړسوب واپس خپل پخواني حال ته ورسېده، ټول تکليفونه، خوارۍ مو په سيند لاهو شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوچی ملا

نه پوهېږم پلار ته مې چا په غزني کې د کوچي ملا په نوم، د يو کس ډېر صفتونه کړي و، چې يوه له الهي حکمته ډکه ائينه لري، هر ډول ناروغ چې پکې وګوري، د خپلې ناروغۍ په اړه هر څه پکې ويني، يعني که چا کوډې پرې کړې وي، کوډې او کوډګر دواړه ويني، يا کومه طبيعي ناروغي وي هم ورمعلومېږي؛ نور يې دوا يا د کوډو خنثا کول، د همغه ملا کار دی.

طبعاً ډېرې نورې ګلوباغې به يې هم ورته شنې کړې وي، ګويا پلاني ځای کې سرطان ناروغ ورسره ښه شو، پلاني ځای کې يې د لسو کالونو شل جګ کړ...

خلاصه د پلار مې يې سمه ورتلوسه کړې وه، همدا و چې پسې ور روان شو، د غزني له ښاره ډېر لرې، جغتو ولسوالۍ ته په غزېدلې لاره بلها وړاندې له خلکونه د پوښتنو په مرسته د سرک تر څنګ يو ډاګ کې مو يې کور وموند. که څه هم کلا يې نوې جوړه کړې وه، خو کوچياني کار و، کړې وړې او هسکې، ټيټې پخسې يې وهلې وې، دروازه يې لا نه وه پکې اېښې، په ځای يې له بې شمېره رنګارنګ پيوندنو جوړه خيرنه ډبله پرده راپرته وه، د همدې پردې تر چوله مو يې کلا ته چيغې وروهلې، له سپيانو هم وېرېدو، بالاخره راخبر شول، يو تک تور خيرن له ما بدتره ډنګر او په يوه ډډې کوږ سپينږيری راووت، له سترې مشې وروسته مې پلار زما د ناروغۍ ورته ووېل، د نوموړي ملا هم لمړی شرط او نذرانه توره چرګه وه، ځکه اوله خبره يې همدا وه، چې توره چرکه مو راوړې؟.

پلار مې ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، مورې خو د توري چرګي له حسابه نه و خبر.

ملا وېل:

- دا زما نذر دی، له توري چرګي پرته چاته کار نه کوم.

پلار مې ورته کړل:

- مورې له ډېر لرې ځای نه راغلي يو، اوس توره چرګه له څه نه کړو؟ د چرګي پيسې به درکړو، بيا يې خپله واخله، نذر يې کړه.

په دې سره سړی په پټه خوله قانع شو، کلا ته يې ننبستلو، وړاندې لويو کميسونو واله کوچياني ښځې او ماشومان د اطاقونو په ورو کې وتل او ننوتل، لکه د کلا په دروازه د کور د اطاقونو په ورو يې هم ډبلې خيرنې پردې راپرتې وې، مورې همدا د حوېلۍ منځ کې د مرغنچې د بام له پاسه په يوه شکېدلي او د مالونو په متيازو زيه زيه ځل کېناستو، ملا لمړی پوښتنې وکړې:

- کور ته نژدې يا کلي کې مو ونې شته؟ يوله شته؟ سيند شته...؟

پلار مې ورته کړل:

- هو! ونې، يوله، سيند ټول شته.

په دې سره ملا د واسکټ د چپ بغل جيب ته لاس کړ، لکه د عينکو، يوه وړکۍ ګرده ذربين شيشه يې راويستله، اول يې خپله پکې وکتل، وېل يې:

هووو! هغه دی آئينه کې ښکاري، ستاسو د کلي منځ کې چې کومه يوله تېره ده، ستا زوی پکې لامبي، له ده وړاندې سپی په اوبو کې ګډ دی، مرداري اوبه يې ستا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی راځي، دا مرض له همغو نه ورته پيدا شوی، پسې زياته يې کړه: ته لوی يې لويان ګنهګار وي، څه نشي پکې ليدلای، خپله همدا ماشوم يې ليدلای شي، په دې سره يې شيشه ماته راکړه، ويل يې: يوه سترګه دې پټه کړه، صرف په يوه سترګه پکې وګوره، شيشه مې چې سترګې ته سمه کړه، يوه خړرنګې بې تکروره له غرونو، کليو، کورنو او باغونو ترکيب شوې منظره پکې ښکارېده، فکر کوم، ددې شيشې جوړښت داسې و، چې د همدې خپل چار چاپېر د ډېرې لويې او پراخه ساحې منظره يې په خپل کوچني وجود کې راټولوه او بيا يې ليدونکو ته په ډېر پېچلي او باريکه بڼه وړاندې کوله، د همدې پيچلتيا او ډېر وړکتوب له کبله چا په اسانه نشوی پيژندلی چې ګويا دا دې همدا سيمه او چارچاپېر وي، دغه و چې زه هم پکې ورک شوم، اخير مې له ډېر ورته ځير کېدو له وجې د خپل کلي يوه تته ذهني منظره پکې جوړه کړه، زموږ د کلي مسجد او تر څنګ يې يوله، له يولې هاخوا ونو ته ورته څه راته پکې ښکارېدل، مګر لکه ملا چې ويل، په يوله کې مې نه خپل ځان د لامبو په حال کې وليده، نه سپی ښکارېده، صرف زموږ کلي ته لږ ورته والی راته پکې ښکاره شو، هغه هم زما د ډېر ورته ځير کېده له وجې ذهني جوړښت و، کنې واقعت کې داسې څه نه و. دا اصلاً داسې کيسه وه، لکه په ماشومتوب کې به چې مشرانو راته ويل: اسرافيل (ع) په سپوږمۍ کې ناست دی، شپېلۍ يې تياره خوله کې نيولې، کله يې چې فوه کړې قيامت دی.

موږ به چې بيا په همدې تصور د شپې لخوا سپوږمۍ ته ډېر وکتل، اخير به يې هغه د منځ په سپينو وربځو کې د انسان څېره راته ترسيم شوه ان په خوله کې به مو يې شپېلۍ هم وليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم عيني همغه مخکې له مخکې ملا راپه غوږ کړې کيسې تصور و، چې شيشې ته تر ډېرې حُيرتيا وروسته مې پکې وليد.

پلار مې بار بار پوښتنه کوله، چې څه پکې وينې؟ همدا خبره مې ورته وکړه، چې په يوله کې د لامبو وهلو په حال خپل ځان او له ما وړاندې سپی خو نه وينم، مګر ډېر ګډوډ زموږ مسجد او تر څنګ يې يولې او چارپېره سيمو ته ورته يو څه پکې ښکاري.

مخکې له دې چې پلار مې څه ووايي، ملا زر د تمثيلي خندا په کولو سره کړل:

- زوروره! چې خپل جومات او يوله دې پکې وليدل، نور څه غواړې؟ څنګه يې چې زه وينم، هغه شان خو يې بل څوک نشي ليدلی.

په دې خبرې سره يې هاخوا د ځل له څنډې د ډبل زاړه کتاب له سره يوه وړه کتابچه راواخيسته، له منځه يې قلم راويست، په ليکلو يې پيل وکړ، د لونګۍ غوړو خيرنو ولونو يې د لمر له وړانګو سره پرک واهه، لمړی يې په يوه سپينه پاڼې کابو لس، دولس چارخانې جوړې کړې، بيا يې هره خانه کې په نامنظم ډول الف، ب... توري وليکل، پاڼه يې قات قات کړه، وېل يې: دری سپين، يو د چرم پوښ ورته وکړه، غاړه کې يې واچوه.

همداسې د يوې بلې پاڼې چارخانې يې هم د الف او ب په تورو ډکې کړې، پلار ته مې يې د سترګو په نيوه سره کړل: دا به په پاکو اوبو کې واچوئ ( ۱۱ ) يولس ورځې سهار او ماښام يو، يو ګيلاس ترې وروڅښئ.

پلار مې کاغذونه ترې راواخيستل، د ورسره کړې وعدې له مخې يې نه پوهېږم دوه سوه وې، که دری سوه افغانۍ د تورې چرګې قيمت ورکړ، نور ترې راروان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم په کوم امید او عقیده چې ورغلي و، دده د بې نوره مخ، خیرن بدن او جامو په لیدو مو هغه عقیده پاتې نشوه، ولې بیا هم څنګه چې ده ویلي و، څاښت او تعویذ مې یې په همغه طریقه وکارول، خو د ښځو خبره یوه ذره فایده یې دې راپورې بلا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پېښوری درملنه

سره ددې چې د کابل ډاکترانو خو همغه د ناروغۍ په اولو کې ځواب راکړ، پاکستان ته د تلو یې راته ووېل، ولې له بدمرغه د مالي ناتوانۍ او بې کسۍ له وجې مو ونشوی کولای، ترڅو په همغه خپل وخت پاکستان ته تللي وی، څو چې برابرېدو، د ناروغۍ مې پنځه کاله پوره شوي و، سره له دې چې په دې پنځو کالونو کې هم کرار نه و ناست، څنګه چې د کتاب لمړیو کې مو ولوستل، په بېلا بېل ډول مو د صحت يابۍ هڅې کړې وې، مګر کومه فايده يې ونکړه، برخلاف نسبت هغه لمړنيو وختونو ته مې ناروغي په کراتو زياته شوې وه، خاصتاً د جنسي غړو وضعيت مې بېخي خراب و، نور يې نه په کشي نېکر پرده کېده، نه په چوره بند، درد او تکليف يې په هر حال، پړسوب يې نهايي زيات شوی و، د پښو د قات په برابر د لمنې په ډډوالي يا پورته درېدو ډېر زيات شرمېدم.

همداسې څنګه چې د ناروغۍ تر دوو، دريو کالونو مې پښې يوازې تر ګونډو پړسېدلې وې، دا وخت یعنې په پنځم کال پېښور ته د تلو په مهال مې له ګونډو پورته ورانونو هم پړسوب پيدا کړی و، عيني حال کې نور د ماشومتوب له دورې هم وتلی وم، نوی مې د نوځوانۍ په ماحول کې قدم ايښی و، پېښور ته له رسېده سره سم، هلته د يو مهاجر دوست په همکارۍ مو لومړی ډبګرۍ کې، کوم چې د پېښور په سطحه هغه وخت د بېلا بېلو برخو د متخصص او پورفيسور ډاکترانو او درمل پلورنځيو مرکزي سيمه وه، د زړه او رګونو يو متخصص ډاکتر ته ورغلو، نوموړي د خپل تخصص په برخه کې ټول معاينات راباندې تکميل کړل، خو لا يې هم تشخص ونشو کولای، يو بل ډاکتر ته يې ولېږلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هم تر خپله ناکامۍ وروسته، د عصابو يو متخصص ډاکټر ته معرفي کړو. همداسې ډاکټر په ډاکټر يې سپارلو، هر يوه به لمړی د فزيکي معاينې په بڼه د پړسوب د نوعيت معالومولو په پار نيم ساعت د پښو په پړسوب کې ګوتې چوخولې، حيا دې وي، نيم ساعت به مې يې د پښو تر قات شيان لټ په لټ کول، څنګه چې انسان فطرتاً له هر څه سره عادت کيږي، په ما هم که لمړيو کې د ډاکټرانو لخوا مې د پرتوګ ښويول او جنسي غړو کتل د ټوپک تر مرمۍ سخت تماميدل، مګر دا وخت يې داسې بلد کړی وم، چې دوی به وېل مټ دې لوڅ کړه، فشار به يې کاته، زما به پام نه و پرتوګاښ به مې خلاص کړ.

خو په هر صورت له فزيکي معاينې وروسته به يې د خپلې رشتې مربوط ټول لابراتواري، تلوېزوني... معاينات راباندې وکړل، اما له بده مرغه نتيجه به يې هر ځل صفر وه، هسې مو پيسې مصرفېدې، شپې ورځې راباندې تېرېدې، ډېر يې جيګر خون کړو، اخير ښه و يوه ډاکټر چې د جرنلي په نوم يو لوی دولتي روغتون کې يې رسمي دنده لرله، کور يې دې ودان وي، د سبا لپاره يې همغه روغتون ته وروغوښتلو، ګهيځ زموږ له ورتلو سره سم يې دوسيه راته واچوه، بستر يې کړم، که څه هم ده تر ډېره د خپل ځان د پوهاوي په پار زه روغتون کې ورسره بستر کړم، چون زما ناروغي ورته نوې او ناآشنا وه، غوښتل يې معلومه کړي چې اخير دا کومه ناروغي ده، لامل او دوا يې څه دي؟ خو په ضمن کې يې دا کار زموږ لپاره هم ډېر ښه شو، نور هلته او دلته په ډاکټرانو پسې نه ګرځېدو، نه مو يې انتظارونه کول، روغتون کې د طب د هرې ريشتې لسګونه متخصصين او پروفيسور ډاکټران به يې همدلته راته راوستل، د دوی نظريات به يې اخيستل، ان تر دې چې بستر کې مو پنځلس ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووتلې، ددې پنځلسو ورځو په ترڅ کې د پېښور په سطحه چې کوم نوعه طبي معاينات موجود و، ټول يې راباندې وکړل، خو متاسفانه لا هم تشخيص معلوم نشو.

بالاخره ډاکترانو په سلاح سره له دوو مشکوکو ناروغيو يوه وګڼله، چې د هغه ناروغيو له جملې د يوې تشخيصي معاينات په ټول پاکستان کې نه کېدل او ددې بلې يوازې د اسلام اباد په يو روغتون کې کېدل، کوم ډاکتر چې مونږ روغتون ته راوستلي و، پلار ته مې مخاطب شو، ويل يې: که کولای شئ؟ اسلام اباد ته ولاړشئ، يو نوعه ډېر مهم معاينات دي وکړئ، که نتيجه مثبت راشي، يا هم په کومه ناروغۍ چې شک دی همغه اوسي، بيا ستونزه نشته، کم وخت کې په بشپړه بڼه د درملنې وړ ده او که معاينات منفي وي، هغه صورت کې نو که څه هم پاکستان کې يې معاينات نشته چې قاطع تشخيص يې راوباسي، مګر د ډاکترانو د ګډې نظرئې او علايمو له مخې بيا د (لمفديما) په نوم له يوې بلې دوهمې مشکوکې ناروغۍ پرته بل څه نشي کېدی، کوم چې د نوموړې ناروغۍ له عمله د انسان د بدن په ځينو برخو کې د اوبو د توضع سيستم تخريبيږي، په نتيجه کې يې د بدن په هغه برخو کې اوبه جمع کېږي او پړسوب رامنځ ته کوي، چې په تاسف سره د هغه ناروغۍ په بشپړه درملنه کې تر دې مهاله د نړۍ په سطحه د عصر طبابت عاجز دی.

خو خير تاسو يو ځل اسلام اباد ته ولاړشئ، دا يو نوع معاينات وکړئ، کله چې واپس راغلئ راپور يې ډبګرۍ کې زما معاينه خانې ته راوړئ، نورې خبرې به بيا هغه وخت کوو.

همداسې مو وکړل، اسلام اباد ته ولاړو، د الشفاء په نوم روغتون مو پيدا کړ، راته ليکل شوي معاينات مو پکې وکړل، که څه هم اسلام اباد کې ډېر وځوربدو، پلار مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولسو رانه ونیوه، کیسه یې اوږدېږي، له تفسیر یې تېرېږم، مقصد تر ډېر آزار او اذیت راکولو وروسته یې د پیسو په اخیستلو سره راخوشې کړ. کله مو چې د معایناتو نتیجه پیښور کې د هغه ډاکټر معاینه خانې ته وروړه، ډاکټر یې په لیدلو سره د مایوسۍ په پار سر وخوځاوه، پلار ته مې یې کړل: معاینات نورمال دي، ګویا د هغه دوو ناروغیو نه د لمړنۍ مشکوکې ناروغۍ اثار نشته پکې، ولې بیا هم ښه و چې معاینات مو وکړل، اوس ښکاره شوه چې له هغه دوهمې ناروغۍ (لمفدیما) پرته بل څه نشي کېدی، روغتون کې د نوموړې ناروغۍ په اړه د راکړو معلوماتو په یو ځل بیا تکرار سره یې وېل: دا د لمفدیما په نوم یوه نادره ناروغي ده، چې په بدن کې لمفي یا د ابو د تنظیم پروسه اخلالوي، پایله کې یې لمړی د بدن ځینې خاصې برخې پړسېږي، د زمان په تېرېدو پرمختګ کوي، نورې برخې هم لاندې کوي، بدبختانه د وخت طبابت یې تر دې دمه په درملنه نه دی برلاسی شوی، نه یې هم د ناروغۍ د رامنځ ته کېدو لامل موندلی. اصلاً نوموړې ناروغي ډېره کمه ده، په میلونونه کسانو کې یو کس ته پیدا کېږي، له دې کبله نړۍ کې د طبي برخې ساینس پوهانو او متخصصینو ډېره توجه نه ده ورته کړې، ترڅو دوا یې او د ناروغۍ د رامنځ ته کېدو لامل پیدا کړي.

لهذا زه اوس ستاسو سره یوازې دومره کمک کولای شم، چې د یوریولوژي بخش یو ډاکټر ته مو ورمعرفي کړم، ترڅو جنسي غړي (مایې) یې عملیات کړي، په دې سره به یې د تناسلي غړو مشکل حل شي، اما پښې به یې همداسې وي.

که څه هم د ډاکټر خبره چې ګواکې په اساسي یا بشپړه توګه اعلاج یې نه کېږي، پښې به یې د تل لپاره همداسې دردمنې او پړسېدلې وي، خورا دردونکې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دا چې زه تر پښنو له دې نورو شيانو ډېر آزورده او شرمينده وم، دغه و چې د پښنو په حال د ژور افسوس او خواشينۍ تر څنګ، د جنسي غړو د اعلاج په کېدو خوشحاله شوم.

له ډاکتر سره مو ومنله، د يو خط په راکولو سره يې هغه بل ډاکتر ته ولېږلو.

پېښنور کې هم تقريباً د کابل په شان معامله وه، تر هغو چې د ډاکترانو شخصي کلينيک، معاينه خانې ته به ورنغلې، د فيس او معايناتو پيسې به دې ورته تحويل نکړې، په دولتي روغتون کې يې نه بسترولې، که بستر به هم شوې خاصه پوښتنه دې نه کېده، هر کله به دې چې شخصي معاينه خانه کې پيسې ورته تحويل کړې، بيا به يې د سبا لپاره هغه دولتي روغتونونو ته ورغوښتې چې دوی به رسمي دندې پکې لرلې، روغتون کې به هم بيا دده د ناروغ په نوم يادېدې، ډېره توجه به درته کېده.

دغه و چې موږ هم له ورسېدو سره سم، دهلېزه کې د ميز تر شات ناست منشي ته يې د پيسو له تحويلولو وروسته په خپل نوبت معاينه خانې ته ورننوتلو، د رالېږلې ډاکتر خط مو ورښکاره کړ، لمړی مې يې د يوې پښې پړسوب په ګوته تخته (پچک) کړ، د ګوتې ځای يې ژور پکې پاتې شو، بيا يې وېل: پرتوګاښ دې خلاص کړه، چې شيان دې په کوم وضعيت کې دي؟ دده له وېلو سره سم مې ګنډه خلاص کړ، په ليدلو سره يې شوندې راغونډې کړې د شکيلي (شفيلۍ) په بڼه يې کړل: اوششش اوشش اوشششش...

د همدې شکيلي په مهال يې څو شېبې له لرې ورته وکتل، نور يې، د نورو ډاکترانو غوندې ګوتې پکې ونه وهلې، د سبا لسو بجو لپاره يې د شيرپاو په نوم دولتي روغتون ته وروغوښتلو، سهار له ورسېدو سره سم يې بستر کړم، تر ځينې معايناتو کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته، دريمه ورځ يې عمليات راته وکړ، د مايو په کځوړه کې راتولې شوې اوبه يې ويستلې، د نورو اوبو د ورتلو مخه يې ونيوه، خو متاسفانه په څلورمه ورځ يوه اندازه اوبه بيا ورغلې وې، په سبا يې دويم ځلي عمليات کړم، له دې عمليات وروسته، که څه هم ډاکتر وېل چې لس، دولس شپې بايد همدلته پاتې شئ، ترڅو ښه حال يې معلوم شي، چې بيا اوبه ورځي کنه؟ خو مورږ يو خوا بې خرڅه شو، بلخوا ډېر وخت مو وتلی و، د روغتونونو له ژونده سخت تنګ شوي و، په پنځمه ورځ ترې راووتلو، د کور په لور رارون شو، په لارو مې زخمونه ډېر خراب شول، له پاسه پرې اېښو د پاسمان د ډېرو پختو او پلسترو سره سره بيا هم وينه ترې راووتله، د پرتوګ خښتک مې يې ښه پوره سور کړ، کابل ته له رارسېدو سره سم مې لمړی يو هوټل کې جامې بدلې کړې، بيا د وردګو د موټرو تم ځای ته راغلو، شپه مو کور ته راورسوله، چې ومې کتل ښه و، که له زخمونو مې وينې هم رابهېدلې وې، خو کوکونه يې نه و شکېدلي، دغه راز دا دويم ځل يې ښه عمليات هم کړی و، الحمدالله د جنسي غړو ستونزه مې تر ډېره ورسره حل شوه.

مګر د پښو درد او پړسوب لا هم په خپل ځای پاتې و، ولې د ډاکتر دا خبره مو هم زړه ته نه لوېده او نه راته د زغم وه، چې پښې دې د تل لپاره همداسې وي، دغه و چې په بېلا بېل ډول د پښو د درملنې په پار مبارزې مو لا هم دوام لاره، تاسو راځئ ملګرتيا مې وکړئ، کيسې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امريکايان دې ولي

ورور مې همايون له کندهاره زنګ راته وکړ، نوموړی تقريباً څلور کاله له ما کشر دی، خو دا چې زما اوږدې ناروغۍ مې د جسمي ودې مخه ډپ کړې وه، دی هغه مهال له ما نه ډېر مشر ښکارېده، وجود کې هم ښه و، د زنګ له اوکې سره سم مې سلام ورواچاوه، تر جوړ پخير حال احوال اخيستلو وروسته يې کړل:

- دلته کندهار ښار کې يو حکيم دی، د يوې آلې يا ماشين په وسيله د انسان بدن کې بند رګونه خلاصوي، ځينو ناروغانو ته دوا ورکوي. وېل کېږي ډېری داسې ناروغان ورسره روغ شول، چې په ايران او پاکستان کې ډاکترانو ځواب ورکړی و. توکل په خدای ج ته يو ځل راشه چې ستا د ناروغۍ په اړه څه وايي؟

بالاخره سره موافق شو، څو ورځې وروسته ورغلم، چې ومې ليده، حکيم رښتيا په يوه نوې او حيرانوکې ښه د ناروغانو درملنه کوله، اصلا د پلاستيکي ګيلاسونو او يوې لاسي دستګاه په وسيله يې د خلکو د بدن په بېلا بېلو برخو حجامت کاوه، خو ما او ورور مې تر دې دمه نه حجامت ليدلی و، نه مو يې نوم اورېدلی و، ځکه راته نوی او جالب و.

تر ډېر انتظار وروسته د نوبت په رارسېده سره، حکيم زما د دواړو پښو له ګوتونه پاس د فارسي ژبانو په اصطلاح (پای پوشت) چې نسبت نورو برخو ته زيات پړسوب يې لاره، د ګيلاس خوله ښه پکې خښېده، لکه نانوای چې په ډوډۍ کې خالونه وهي، زر زر يې د پاکي په څوکه څو ځايه زخمي کړل، له زخمي کېدو سره سم، پرته له دې چې د نورو خلکو غوندې د ګيلاس او دستګاه د فشار په وسيله يې وينه ترې راکش کړې وی، خپله په پاکي له هر وهل شوي زخم نه ليکه، ليکه وينه او اوبه ګډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راروان شول، حکیم ویل: همداسې یې پرېږده، ترڅو ټولې اوبه یې راخالي شي، او پړسوب یې کیني.

ددې تر څنګ سپین پوډر ته ورته یو قسم دواه یې هم ورسره راکړه، سهار او بېګا یې د یوې یوې قاشوغې د خوړلو توصیه راته وکړه، نور یې رارخصت کړو، د لس، پنځلس دقیقو په تېرېدو سره وینه بنده شوه، یوازې رنې اوبه له زخمونو رابهېدې، څپلۍ مې پښو کې لندې خوشتې شوې، همایون سره د څو نورو ملګرو یې په یو نوي جوړېدونکي مکتب کې د سیم تاوۍ کار کاوه، د دوی مسافرانه اطاق ته په ورسېدلو سره مې پښو ته پلاستکي خلطې وراغوستې، ترڅو د ورور د ملګرو مې له پښو د راروانو اوبو نه بد رانشي، یا یې په فرش او کالیو ونه لګېږي، خو کله چې ورغلم، ملګري یې هم زموږ کلیوال او ډېر بااحساسه، مهربانه ځوانان و، چې له جملې یې د بهلول، رفیع الله او نظر محمد نومونه یادولی شم؛ دوی پوه شول چې پلاستیکي خلطې یې د نزاکت ساتلو یا هم زموږ له خاطره پښو ته وراغوستې. همدا و چې وېل یې: پلاستیکونه دې له پښو لرې کړه، پرېږده چې اوبه یې آزادانه وبهېږي، ګرمي ده په پلاستیکونو کې دې پښې نورې هم خرابېږي.

ما ټینګار کاوه چې نه خیر، ترڅو په فرش او ستاسو په کالیو یې اوبه ونه لګېږي.

خلاصه خلطې یې په دې خبره رانه لرې کړې چې بلا پسې د مسافرۍ له دوړو، خاورو ډک فرش او کالي دي، کیسه کې یې نشې، چېرته دې چې زړه و آزادانه کینه، لتېږه، ویده کېږه، همداسې نور زښته زیات عاطفي او له همدردۍ ډک چلند یې راسره وکړ. که څه هم څنګه مې چې وړاندې ووېل، دوی زموږ کلیوال و، خو تر دې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه مې کوم ضرورت نه و ورته پیداشوی، پس د دوی په سینو کې د دومره ښکلو او ترحم نه ډکو زړونونه مې هم خبر نه لاره.

اووه شپې مې ورسره وکړې، طبعاً تنګ کړي او تکلیف کړي به مې وي، ولې چې له ناروغ سره تکلیف او زړه تنګوالی حتمي وي؛ بلخوا سره ددې چې دوی به ماته وېل: هېڅ خبره نه ده، مګر هرو مرو به مې یې د پښو له روانو ابو کمه زیاته کرکه کېده، ډوډۍ به خوند نه ورکاوه. ځکه چې انساني فطرت همداسې دی، خو تر اخېره مې یې په څېرو، خبرو او روش کې احساس نکړه، چې ګویا دوی دې له ما سره تنګ وي، یا مې دې له پښو بده وړي. دغه راز له دې زخمي کېدو سره مې پښو یو بل بد عادت هم پیدا کړ، د شپې به مې چې څنګه سترګې پټې شوې، سخت درد به یې شروع کړ، بیا به تر څو راجګ نشوم، د مکتب په چاردېوالي کې به ونه ګرځېدم، ښې به مې سترې نکړې، درد یې نه ارامېده، همدا و چې ټوله شپه به وتلم ننوتلم، دوی به تمامه ورځ کار کړی و، سترې به و، په ډېرو وتلو ننوتلو به مې نارامه کړل، کله به کوم یو راپسې راووتلو، زه به یې چې حویلۍ کې په ګرځېدو ولیدم، وېل به یې: راځه د شپې لخوا له تعمیر نه د باندې مه وځه، امریکایان به څه شک دربادې وکړي، ولې دې.

د دوی اندېښنه په ځای وه، ولې چې د نوموړي مکتب سره دېوال په دېوال د امریکایانو قرارګاه وه، د دېوال له پاسه یې ټاور جوړ کړی و، یو او دوه پیره دارن به دایم پکې ناست ؤ، خو زه به چې تر څو له تعمیر نه بهر آزادې فضا ته راونه وتلم، د تعمیر په اوږده دهلېز کې به چې هر څومره وګرځېدم، د پښو سوی مې نه ارامېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه و چې له دوی نه پټ به بيا، بيا راوتلم، چون رښتيا ډېر سخت درد او سوخت به يې کاوه، څنګه چې تاسو پوهېږئ، له درد سره نه کېږي، پس ما يې هم مقابل کې د امريکايانو د ويشتلو پروا نه کوله، کني واقعاً ډېر خطرناک و، خو تر اخيره يې نه ډز راباندې وکړو، نه يې کومه شپه ووېل: چې ومسلمانه! په تا څه شوي، چې ټوله شپه لکه ستن خوړلی سپی ګرد تاوېږې راتاوېږې؟

خلاصه اوه ورځې مې پرله پسې د پښو له زخمونو اوبه وبهېدې، له درده يې ليونی سپېلنی وم، خو په پړسوب يې هېڅ اغېزه ونکړه، چون کومه اندازه اوبه چې ترې ضايعه کېدې، مقابل کې مې يې د تندې احساس هم همدومره زيات و، اګر چې اولې دوې ورځې مې اوبه څښلې، خو وروسته مې کوشش کاوه، چې زياتې اوبه ونڅښم، ترڅو په پښو کې جمعه شوې اوبه د زخمونو له لارې ووځي او نورې ورنشي، نتيجه کې يې پړسوب کېنې.

ولې زما د فکر برخلاف، سره له دې چې د پښو له زخمونو مې زياتې اوبه وتلې، د نورو اوبو څښل مې هم ډېر کم کړي و.

اما بيا هم په پړسوب کې يوه ذره تغير رانغی، د پښو په ځای مې د پورتني روغ بدن اوبه وچې شوې، ژبه مې د وچوالي له وجې په خوله کې نه اوښته، غوږونه مې دف و، خبرې مې سمې نه اورېدې، همداسې ډېر بې انرژۍ او خسته پسته به وم. يو انجينر ته مې د خپل وضعيت په اړه ووېل، هغه يوه شو وېل يې: فشار دې ټيټ دی، زر تر زره دې له پښو نه د روانو ابو د درېدو غمه وخوره او يو دوه ګيلاسه خواږه جوس وڅښه، خبره مې يې ومنله، دواخانې ته ولاړم، طبي بنداژونه او پلستر مې ترې واخيستل، د پښو زخمونه مې کلک وتړل، همداسې د تېرو څو ورځو په تنده مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه د يخېدو تر بريده، څو ګيلاسه مايعات چای، اوبه... وڅښل، د يو ساعت په تېرېدو سره د پښو له زخمونو اوبه بندې شوې، تازه څښلي مايعات مې هم په بدن کې خواره شول، سم د لاسه مې ژبه لنده شوه، د غوړنو درونډوالی او ذولحالي مې ورسره رفعه شول، سبا د کور په لور رارووان شوم، فکر کړم ترې بهېدلو اوبو سره مې د پښو مدني مواد (پتاشيم، کلسيم، منګينزيم...) کم شوي و، ترڅو چې پوره کېدل، په کور کې يې هم تر څو اونيو د شپې لخوا ډېر سخت درد کاوه، حويلۍ کې به ټوله شپه ګرد ورسره تاوېدم راتاوېدم؛ همدا مې کندهار کې د تداوۍ ګټه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شکسته بند سخي

که لیدلی یې هم نه وي، خو ممکن ډېرو کسانو یې نوم اورېدلی وي، زموږ د وردګو ولایت، چک ولسوالۍ په یوه غرنۍ سیمه (علیشه) کې د سخي په نوم یو ډېر مشهور شکسته بند دی، که څه هم زه کابو یوه نیمه لیسزه مخکې ورغلی وم، هغه وخت سپینږیری و، اوس خو به بېخي ضعیفه وي، اما په عمر یې برکت لا هم ژوندی دی، له ډېر لرې یعنې هېواد له بېلا بېلو ولایاتو به خلکو هغه ناروغان ورته راوستل، چې د بدن هډوکي به یې مات شوي و، نوموړی د کوچیانو له قومه یو بې لیک او لوسته سړی و، دده په باب روایتونه داسې و، چې یوه ورځ یې په غره کې رمه څروله، بیا یې کومه وزه تر یو لوی کمر لوېدلې وه، د پښې هډوکی یې بوټ مات شوی و، سخي ماما چې د وزې بوټه ماته پښه لیدلې، ډېر سخت زړه یې پرې سوی ان تر دې چې ورته په ژړا شوی، بیا یې له خپل څادر نه څو اوږدې اوږدې لتې راڅیرې کړې، په لندو سترګو پرې اخته شوی، د وزې د پښې له مات هډوکي سره یې موازي دوه اوږده لرګي هم ورتړلي، ترڅو د بدن وزن یې د مات شوي هډوکي په ځای لرګي واخلي او هډوکی د بیا جوړېدو فرصت پیدا کړي.

په همدې وخت کې حضرت خضر بابا پرې راغلی، له وزې سره د سخي ماما همدردۍ او اوښکو ته په کتو، خضر بابا ورته وېلي: مه خفه کېږه بچیه! د وزې پښه به ډېر زر ښه شي، زه تاته دعا درکوم، له دې وروسته هم د حیواناتو په شمول د انسانانو هر ډول مات هډوکي ورتړه، هغه به د الله ج په حکم ډېر زر رغېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناءً د ځينو خلکو د باور او وينا له مخې اوس هم همغه د خضر بابا د ورکړې دعا برکت دی، چې په هر مريض يې لاس ولګېږي، مانا مات هډوکي يې چې وروتړي، الله ج يې ډېر زر له شفاء برخمن کوي.

پس لکه سيلاب اخيستی چې د ځان ژغورنې په پار هر خوا د اوبو بې ګټې ځک ته هم لاس اچوي، همدا و چې زما زړه کې هم يوه ورځ راتېره شوه: که سخي ماما ته رښتيا خضر بابا دعا ورکړې وي او په لاس کې يې الهي حکمت وي؟ راځه يوه ورځ ته هم ورشه، چې د لاس پرې لګېدلو سره يې د خلکو په بدن کې مات او رېزه رېزه هډوکي جوړېږي، کوندې زما په پښو د لاس لګولو سره يې هم دا درد او پړسوب الله ج ښه کړي.

بالاخره هغه ورځ راغله ډېر په تکليف وروختلم، چون مخکې مې ووېل، د دوی کلی، کورونه له سرک نه ډېر چپ او پاس په يوه غرنۍ سيمه کې دي، خو له بده مرغه پرته له دې چې په پښو مې لاس ووهي، صرف په ليدلو سره يې راته ويل: ته يو ډاکتر ته ولاړ شه، زما کار فقط د ماتو هډوکو سره دی، ستا په ناروغۍ نه پوهېږم.

د سخي ماما له حجرې زړه ماتی راووتم، څو قدمه چې راغلم، يو بل څه ته مې پام شو.

زما د پلار ماما خيل هم د عليشې و، د مورنۍ نيا په اړه به يې وېل کېدل، چې د روسانو د اشغال په مهال يې يوه ورځ کلي ته قوه ورختلې وه، د کلي خلک تر خپله وسه لرې او نژدې سيمو ته تړې تښتي، کلی يې خوشې کړی، زما د پلار مورنۍ نيا چې خپل وړوکی، تي خوری لمسی يې هم غېږ کې ورسره اخيستی، له کوره راوتلې، ډېر وس يې نه دی شوی، لږ وړاندې د ګڼو چنارونو تر شاه، د يوه پوشته خوا ته غلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته ده، د مشرانو په قول، خپل وچ تی يې هم د ماشوم په خوله ورکړی، ترڅو ونه ژاړي، روسان ورخبر نشي.

خو بدبختانه روسي پوځيانو د چنارونو شا ته سر ور لرې کړی و، په دې يې چې سترګې لګېدلې، لسګونه مرمۍ يې تر سينه ايستلې وې، د روسانو د قوې له تلو وروسته چې خلک ورغلي، ځنګه چې لمړی په لترۍ ناسته وه، همغه شان په ناستو شهيده شوې وه، صرف سر او پورتنۍ تنه يې د خپلې غېږې په لور رازانګه و، اما غېږ کې يې په پراته لمسي فشار نه و ورغلی، هغه خپل تی روده.

بناءً د نوموړې پاک او خورا مظلومانه شهادت ته په کتو، هر وخت به مې يې زيارت ته د ورتلو زړه کېدو، نن نو ډېره ښه موقع وه، تيار راغلی وم، د پلار د ماماخيلو کورونه مې د عليشې د سيمې له خوړ پورې د فريد په کلي کې و او د پلار د نيا زيارت مې د دوی له کورونو بره هديره کې و، که څه هم پښنو مې ډېر زيات درد کاوه، خو بيا هم کرار کرار ورغلم، زيارت مې يې وکړ، دې ته مې دې خدای ج دعاګانې قبولې کړي، مګر ما يې د زيارت کولو په سبب د خپلو پښنو په درد او پړسوب کې کوم مثبت اثر ونه ليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کشف هګۍ

مور ته مې چېرته کومه ښځه ور په غوږ شوې وه، ورته ويلي و: ګوره! دا زوی دې چې دومره وګرځاوه، نه يې ډاکتران په رنځ پوهېږي، نه ملايان، نه له زيارتونو سره جوړ شو؛ دې ته په خدای ج حتماً چا څه شی ورکړي.

له شي نه يې هدف په خوړو کې پرې خوړل شوې کوډې وې.

ښځې پسې زياته کړې: ځکه د شي له خوراک نه په رامنځ ته شوې ناروغۍ نه ډاکتران پوهېږي، نه ملايان، نه هم د بل څه سره رغېږي، نو څنګه چې د شي د خوړلو له وجې رامنځ ته شوې ناروغي ډېره بده او پليته ناروغي وي، پس يوازې او يوازې په همداسې بده او پليته دوا سره يې اعلاج هم کېږي.

مور ته مې د ښځې په خبره کې وزن ورمعلوم شوی و، ورڅکه شوې وه، ترې پوښتلي يې و چې: ښا ددې بدې ناروغۍ هغه بده او پليته دوا څه دي؟

ښځې د مقدمې په پار خپلو خسر خيلو کې د کوم ناروغ کيسه ورته شروع کړې وه، چې ګواکي کالونه کالونه د مرګ او ژوند تر منځ و، کندک کندک وينې يې استفراق کولې، بله ورځ کوم د خدای ج ولي پرې ورپېښ شوی، له لمړي ليدو سره پرې پوه شوی، چې سړي بد شی خوړلي، د ناروغ کورنۍ ته يې ويلي: ددې لپاره يوه د کشف هګۍ پيدا کړئ، په شيدو يا نورو خوړو کې يې پټه پرې وخورئ، چې دی پوه نشي، ځکه چې تيږه په تيږه ماتېږي، کوم بد شی چې ده ته ورکړل شوي، د کشف هګۍ تر هغه زياته مرداره او پليت شی ده، بدن ته له رسېدو سره سم د مخکې ورکړل شوي بد شي اثر له منځه وړي، هګۍ که له هغه ډېره پليته هم ده، خو ښه والی يې دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لمړني بد شي تر بې اثر کولو او له وجود نه ایستلو وروسته، خپله هم کرار کرار تر ځلوېښتو ورځو پورې له بدنه وځي. ولې دا غاړې دربانديې خلاصوم، چې په دې ځلوېښتو شپو کې که ناروغ د هر څه له وجې مړ شو، جنازه يې نه کيږي، ځکه چې هډونه يې مردار وي، د مردار انسان جنازه که ادا هم شي، د الله ج په حضور کې نه قبليږي. نور مو خوښه ورکوئ يې، کنه.

خو دا چې کورنۍ يې ناروغ ډېر تاوکړی و، د بل هېڅ شي سره نه ښه کېده، توکل يې په خدای ج کړ، د کشف هګۍ يې ورکړه، د هګۍ له خوړلو وروسته تر يوې هفتې ناروغ داسې اسهال شو چې ان د وجود غوښې يې اوبه شوې، په همدې يوه هفتيې سهال کې يې هغه بد شی له وجود نه ووتل، بدن يې ترې پاک شو، سم د لاسه د سړي سترګې وغړېدې، په لنډ وخت کې داسې جوړ شو چې هېڅ فکر به دې نه و کړی، واده يې وکړ، اوس يې يوه ډله اولادونه دي.

ددې کيسې په اورېدو سره زما مور هم چې زما د صحت بې تابه او لالهانده تنده لرله، بلخوا پورته د ذکر شوي ناروغ ناروغي هم زما له ناروغۍ سره څه شباهت لاره، چون دی هم کالونه کالونه رنځېدلی و، نه يې ډاکتران په علاج پوه شوی و، نه يې په ملا او زيارت ساه راسته شوې وه، بالاخره د کشف هګۍ يې شافي کافي شوې وه.

دا و چې مور ته مې د کشف د هګۍ په درملني سره زما د صحت هم لوړ چانس ورځلېدلی و او ډېره هيله يې ورته پيدا شوې وه.

بالاخره له ښځې نه يې ددې ښکلې او فوق العاده دوا د ورښوده په پار د مننې تر څنګ، ددې شناخت او پراخه روابطو ته په کتو، د کشف د هګۍ په پيداکولو کې هم د همکارۍ غوښتنه ترې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړې ښځې د خپلې مهربانۍ او همدردۍ له مخې لنډو څو ورځو کې د هګۍ غم ورته خوړلی و، د وربښودلي ترتيب سره سم، مې مور په يو ګيلاس شيدو کې حل کړې وه، په داسې حال کې چې زه په هېڅ خبر نه وم، ښه په مزه مزه يې راباندې نوشيجان کړې وه.

پس له دوو مياشتو، خدايزده خبره له څه راياده شوه، مور مې موسکۍ شوه، ويل يې: خدای ج دې نکړي، د مرګ زور دې هېڅ وخت نه لرم، خو که اوس مړ هم شي دومره به مې ارمان نه يې، شکر چې يوه مياشت مخکې مړ نشوې، کنې يوازې د مرګ غم به دې نه و، بې جنازې به مو خښ کړی وې، ټول عمر به مې ډېر زيات ارمان وې، ځان به مې ملامت ګاڼه.

ورغبرګه مې کړه: بې جنازې ولې؟

بيا يې پورتنۍ ټوله کيسه راته وکړه.

سيند د وردګـــــــــــو نه دی خلکو

د غرونو اوښکې دي زما په حال راځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زينو په کونج کېناستم

هغه چې وايي ناروغي کم سيالي ده، له شک پرته دا يو ډېر قوي واقعيت دی، بناءً زه به هم کله د خپلې ناروغۍ له وجې مکتب ته د تلو نه وم، کله به په ډاکترانو، ملايانو او زيارتونو ورک وم، همدا و چې ډېرې وخت به د محروميت تر کچې غير حاضر وم، بيا به کله ځينو استادانو مرسته راسره وکړه، حاضري به مې يې ورسوله، کله به مې په کوم روغتون تصديق ورته راجوړ کړ، خاصتاً وروستي صنفونه مې ډېر په زحمت ووېل، چون نه يوازې د ورتلو راتللو په وخت مې پښو درد کاوه، بلکې صنف کې به چې په چوکۍ کېناستم، کرار کرار به مې د پورتني بدن د اوبو هم ډېره برخه پښو ته ښکته شوې، پړسوب به يې يو په دوه شو، پوست به يې د ډېر فشار پرې راتللو له وجې داسې سوخت کاوه، لکه تناره کې مې چې اچولې وي.

خو بيا هم که په ټېله او تنبه يا ډېره ټيټه نمره هم و، الحمدالله له ليسې فارغ شوم، دغه راز د کانکور ازمويني له لارې د فارياب پوهنتون چې د نوموړي ولايت په مرکز ميمنې ښار کې يې موقعيت لاره، د ادبياتو پوهنځۍ ته کامياب شوم، اگر چې ډېر لرې و، خو د مور او پلار په تشويق سره ورروان شوم، شپه مې د بلخ ولايت اړوند مزار ښار کې د فارياب د موټرو اډې يا تم ځای ته نژدې په يو خيرن هوټل کې په ډېر وهم او ترس تېره کړه. ټوله شپه ويښ او ويده کېدم، له تاسو يې څه پټه، اصلاً له دې نه وېرېدم، چې څوک به مې حلال کړي، يا به دا پنځه روپۍ جيب خرچه رانه پټې کړي، وېره دا وه، که څه هم سن مې لوړ و، قريب نولس، شل کلن وم، خو گيره مې نه وه او جسماً هم بې جوزه وړوکی ښکارېدم، نو ماوېل بې پوښتنې ملک دی، هسې نه څوک په بد نيت څنگ ته راځملي، ولې چې ماخوستن ناوخته هوټل کې يو څو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدشكله لويو بريتونو واله كرغېړن كسان تاوېدل، خو بيا ښه و، شپه پخير تېره شوه، سهار وختي موټر كې سپور شوم، له شبرغان هاخوا سرک خام و، ايله ماسښين دوې بجې د ميمنې ښار ته ورسېدم، بلد نه وم، په آس پسې تړلې يوه بګۍ (ټانګه) مې دربس كړه، د پوهنتون په دروازه كې يې ښكته كړم، معاون مې پيدا كړ، كوم چې د نويو محصيلينو د ثبت چارې يې په غاړه لرلې، د كانكور د آی ډي ( (IDنمبر په وركولو سره مې ادبياتو پوهنځی ته د راكامياببدو ورته ووېل؛ معاون ښكته پورته راته وكتل، بده كركجنه خوله يې ونيوه، وېل يې: دا پښې دې ولې داسې پړسېدلې؟

په لنډو كې مې كيسه ورته وكړه، ګويا ددې ډېر وخت وتلی، ډاكټران وايي چې د رګونو مشكل دی، زياتې دواوې مې هم پرې كړې، خو جوړې نه شوې.

معاون راغبرګه كړه: ته ولاړ شه كابل كې د وزارت صحت عامه نه يو خط راوړه، ترڅو موږ مطمين شو، چې ستا ناروغي ساري نه ده، نور محصيلين نه درنه نيسي.

هر څومره مې چې ورته ووېل: معاون صاحب! زما د ناروغۍ ډېر كالونه كيږي، سره له دې چې د كورنۍ د غړو سره مې په يوه اطاق كې اوسم، په يوه كاسه ډوډۍ ورسره خورم، مګر نه يې كور كې څوک رانه ونيول، نه په دوستانو، كلي او نه مو هم په ټوله سيمه كې بل داسې ناروغ پيدا شوی.

معاون نه منله، په توندۍ سره يې په خپله خبره ټينګار وكړ، ډېر مايوسانه او زړه ماتی يې له دفتره راووتم، د پوهنتون انګړ كې يوې برنډې ته د پورته شو زينو په كونج كېناستم، تر ډېره مې فكر پرې وكړ، چې اوس څه وكړم؟ هيڅ كومه معقوله لار مې ذهن ته نه راتلله، محصلين تېر او بېر كېدل، په دوی كې مې د دوو تر منځ پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې واورېدې، مخې ته یې ورجګ شوم، په سلام سره مې ورته ووېل: وبښئ یوه پوښتنه مې کوله!

د پوښتنې کولو وخت یې راکړ، لمړی مې د خپلې ناروغۍ او معاون رانه غوښتې د روغتیا وزارت د خط ورته ووېل، بیا مې ترې وپوښتل: ایا دلته میمنه کې د روغتیا د وزارت ریاست شته؟

دغه محصیلین یو د ننګرهار و، بل د کندز، زما په ناروغۍ او د معاون په راته جوړ کړي مشکل دوی هم ډېر خفه شول، راغبرګه یې کړه:

دا ډېر سپی سړی دی، د نورو محصیلینو د ناروغېدو غم نشته ورسره، موږ یې له پخوا پېژنو، اصلاً له پښتنو سره ستونزه لري.

وروستۍ مشوره یې دا راکړه، چې ورشه هغه د زراعت پوهنځۍ ده، دریم صنف کې د شفیق پوښتنه وکړه، نوموړی په لیلیه کې د پښتنو محصیلینو نماینده او مشر دی، ان شاءالله کومک به درسره وکړي، د زراعت پوهنځۍ ته ورغلم، شفیق څو دقیقې مخکې وتلی و، یو ملګری مې یې راپیدا کړ، د شفیق شمېره مې ترې وغوښته، ده له خپل مبایل نه زنګ ورته وکړ، ګوشي یې ماته ونیوله، شفیق چې زنګ اوکې کړ، له لهجې یې پوه شوم، دی هم وردګ و، ستونزه مې ورسره شریکه کړه، وېل یې: منتظر شه زه اوس درځم، څو دقیقې وروسته یې موټرسکېل ودراوه، ترې راښکته شو، ښکلی او خولور ځوان و، یو ځل بیا مې هم کیسه ورته وکړه، د معاون له خوا په راسره کړي بد چلند او ستونزې راته جوړولو خفه شو. خو دی هم نه و ورسره جوړ، پښې یې نه پرې ورتلې، وېل یې: راځه اوس لیلیه ته راسره ولاړ شه، سبا رئس راځي، بیا به ان شاءالله یو کار پرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه مې ترې وکړه، په مټرسکېل ورسره سپور شوم، شپه مو لیلیه کې وکړه، کور یې دې ودان وي، څنګه یې چې ویلي و، سبا یې د معاون پکې پوښتېدلو پرته په رئس باندې کار راته جوړ کړ، درسونه مې پیل کړل، خو له بده مرغه لیلیه او پوهنتون ډېر لرې و، په ښه تېز پلي تګ سره کم او زیات د شلو دقیقو لار وه، نور محصلین روغ و، تللی شوی، زه به په ساعت کې هم نه رسېدم، هلته به هم بیا تر ډېره د پښو له درده هېڅ په خبر نه پوهېدم، که موټر کې تللی هره ورځ مې دوه طرفه پنځوس روپۍ کرایه کېده، د محصیلۍ دوره کې څوک دومره مصارف کولای شي؟ بلخوا پوهنتون کې یې ازاد پتلانونه نه پرېښودل، کابای یا هغه پتلانونه چې محصلینو ته یې توصیه شوې وه، تنګ او چسپ و، ما به چې واغوست د پښو د وینې جریان به یې نور هم بند کړ، په دې سره به یې درد او پړسوب یو په دوه شو، د حرکت په حال کې به څه ښې وې، صنف کې به چې په چوکۍ کېناستم ډېر سخت سوځت به یې کاوه.

خلاصه په ډېر تکلیف او د زړه په وینو مې یو سمستر ووېلو، د امتحانونو نتایج چې راووتل، د معاون له یاده نه وم وتلی، خپل مضمون کې یې چانس راکړی و، سره ددې چې مخکې له مخکې ترې وېرېدم، نسبت نورو مضامینو ته دده په مضمون کې مې ډېر کوشش کاوه، دغه راز امتحان ته مې یې هم زیاته تیاري نیولې وه. پوه شوم چې له سرې نه پوهنتون نشم ویلی، کني ځینو هلکانو راته وېل: پارچه پرې راوباسه، چا به وېل ریس ته ورشه، خو دا چې ما د بې صحتۍ له وجې پورته ذکر شوې نورې هم ډېرې ستونزې لرلې، پاتې دری نیم کاله پوهنتون ویل مې ببخي له توانه لوړ کار و، همدا و چې نور معاون پسې هم ونه ګرځېدم، په رخصتۍ چې کور ته راغلم، مور او پلار ته مې زما له وسه پورته د خپلو زیاتو ستونزو ووېل، قناعت مې ورکړ، بیا ورنغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مچانو لښکر

د پوهنتون له پرېښودلو څلور پنځه کاله وروسته يوه ورځ مې د کلي دوکانونو کې سرمعلم صاحب مجيب الرحمن وليده، نوموړی ډېر نيک او خيرخوا سړی دی، که څه هم اوس يې سرمعلمي پرېښې، فعل حال د وردګو چک ولسوالۍ د کثيرالرشتوي انستيتيوت ښنستګر او مدير دی، ستړي مشي مې وسره وکړه، وېل يې: درسونه دې څنګه کړل؟

پوهنتون ته د تللو او هلته نسبت زما ناروغۍ ته د سختنو او نامناسب شرايطو، بالاخره پوهنتون د پرېښودو کيسه مې ورته وکړه.

له څېرې يې ښکارېده، ډېر خفه شو، د افسوس په پار يې نخه، نخه وکړل، بيا يې وېل:

- درس خو به په هېڅ صورت نه پرېږدې؛ ته داسې وکړه، د کانکور په راتلونکې امتحان کې يو ځل بيا برخه واخله، صرف يو انتخاب وکړه، هغه هم د ميدان ښار دارالمعلمين، ولې چې يو خوا يې نمرې ټيټې دي، بل دا ځای لنډ دی، دربيم قدم کې دوه کاله دی، دومره وخت نه غواړي، پس يوازې همدا دارالمعلمين هم چې ووايې کاپي دی.

ددې خبرو تر څنګ يې دا وعده هم راکړه، چې که له کانکور نه ورکامياب نشوې، بيا به زه يو کار درته وکړم، څو استادان پکې پېژنم، خو لمړی ښه دا ده چې له قانوني لارې هڅه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې نه د وردګو پوهنتون و، نه هم چک کې کثیرالرشتوي انستیتیوت موجود و، وردګو یوازې همدا یو دارلمعلمین لاره، هغه هم په مرکز میدان ښار کې و.

خو په هر حال سرمعلم صاحب ډېر ښه وغږېده، خبرې یې له خواخوږۍ او همدردۍ ډکې وې، د یوه عالم او مهربان مشر په صفت مې یې ټولې خبرې په زړه خوږې کیناستې، پوره پوره انرژي یې راکړه، همدا و چې راتلونکي کانکور کې مې بیا ګډون وکړ، په نتیجه کې یې د خپل یوازني انتخاب سره سم د میدان ښار دارلمعلمین ته ورکامیاب وم، خوشبختانه په همدې کال تصادفي دوه کلیوال ملګري مې فضل الرحیم او فضل رحمان هم راکامیاب شوي و، دارلمعلمین کې مو په مشوره د دیني علومو څانګه انتخاب کړه، همداسې لیلیه کې هم سره یو ځای شو، اطاق کې لس کسه و، زما ټول غم د دوی دواړو په غاړه و، نه مې تر اخیره یو ګیلاس پرېمنځلو، نه مې نوکري وکړه، ان تر دې فکر کړم، د بدن د ضعیفۍ اثر به مې و، که خدایزده څه و؟ خو د عمر په هغه دور کې به هره دویمه، درېیمه شپه احتلام راته کېده، حمام ته به مې اړتیا پیدا کېده، چې ډېر ترې تکلیف وم، فضل رحمان مې په دې مشکل پوه و او په غم کې یې هم له ما ډېر راسره شریک و، چون هر سهار به چې راویښ شو، اندیښنه به یې ورسره وه، خندا کې به یې کړل: بیا خو به دې کار نه وي خراب کړئ؟ دده په خبره چې کار به خراب و، ورغبرګه به مې کړه: انډیواله! کار تر کار تېر دی، فقط د اوبو غمه خوره چې ناوخته نشي.

د څه ټوکو موکو په کولو سره به یې ستل واخیست، لرې له یوه کوره مو اوبه راوړلې، چې راوبه یې رسولې، تشناب کې به یې ابګرمي پکې واچوه، له ګرمېدو وروسته به ورجګ شوم، حمام به مې پرې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز تدریسي مو ډېره لرې نه وه، خو بیا هم څه لار وه، دوی به له دواړو لورو زما په قدم راسره تلل، همداسې نور زښته زیات خاطر مې یې ساته.

څنګه چې هغه یو متل کې راځي: د ښو به ښه یاد شي، د بدو به څه یاد شي؟ زه هم یقیناً له دوی دواړو ډېرې ښې خاطرې لرم، تل دعا ورته کوم، د الله ج رحمتونه دې وي پرې.

له دوی هاخوا د اطاق ځینې نور ملګري مو هم بد هلکان نه و، همدا د دوی د ښه والي برکت و، چې ما هغه دارالمعلمین ووېلو. خو چې کیسه اوږده نشي، څنګه چې له پیله مې په دې کتاب کې هدف یوازې د ناروغۍ اړوند خاطرې درسره شریکول دي، پس راځم د همدې دارالمعلمین د وېلو په مهال ناروغۍ پورې مې اړوند یوې جالبې خاطرې ته.

هغه داسې و چې یوه ورځ ټول ملګري د سهار د چای څښلو لپاره په دسترخوان راټول و، موبایل ته مې زنګ راغی، چې له جیبه مې راویست، پلار مې و، تر جوړ پخیر وروسته یې یو قسم په جدي انداز کړل: بېګا ته حتماً کور ته راشه، لږ کار مې دی درسره!

سودا مې شوه، خو پوښتنه مې ترې ونکړه، چې څه مې کوې؟ ځکه چې د موبایل غږ لوړ و، راسره ناستو ملګرو مې د پلار خبرې آورېدې، وېرېدم چې که ترې وپوښتم، هسې نه د کورني راز داسې کومه خبره وکړي، چې ملګرو ته مې وشرموي، همدا و چې پرته له پوښتنې مې ورته ووېل: ښا سمه ده ان شاءالله درځم.

ملګرو مې دا ترې جوړه کړه: چې حتماً کوزده یې درته درک کړې، بېګاه ته د نجلۍ کورنۍ راځي ګوري دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکو زور واخيست، چا به ويل: واسکټ زما واغونده، چا به ويل سلمانی ته ولاړ شه، سر او ږيره فرانسوي جوړ کړه، بل به کړل: بېګاه ته دې چې پښو هر څومره درد کاوه، کيسه کې يې مه کېږدې، چسپ لټېږه او کينه...

دا چې زموږ کور کې صرف يو مشخص ځای موبايل کار کاوه، وروسته مې چې پلار ته هر څومره زنګونه ووهل، تماس مو وصل نشو، همدا و چې له سل او زر فکرونو سره ور روان شوم، ماښام کور ته ورسېدم، مور ته مې ويل نانک داسې جدي زنګ وهلی و، خيرت دی؟

مور مې کړل: په حاجي (.......) پسې يې زامنو غوائی خيرات کړی و، څرمن يې تاته ترې راوړې چې بېګاه ته دې ځان پکې پټ کړې؛ ډېر داسې مريضان چې ډاکتران يې په مرض نه پوهېږي، د څرمنې سره ښه کېږي.

څه به مې ويلي و؟ بېګاه ته مې کالي ورته ويستل، همدا شپې ورځې، د بابا له کوره خپل نوي جوړ کړي کور ته هم راګډه شوي و، د مخې کوچني اطاق په غولي د هوارې لوېې لمدې څرمنې په منځ کې چې تقريباً د اطاق دری برخې غولی يې فرش کړی و څملاستم، همايون او پلار مې له دواړو خواو راباندې راواړوه.

لکه ميندې چې خپل ماشومان په ورونيو کې نغاړي، زما هم يوازې سر بهر پاتې شو، نور يې کټ مټ پکې وپېچلم، څنګه چې تاسو پوهېږئ، د غوايه څرمن ډېره ډبله وي، زيات وزن يې لاره، سم يې مُحکم کړم، محکموالی يې هم په هر صورت ډېر بد د غوښو، وينو او خوشايو بوی يې لګېده، همايون ته مې ويل، کړکی خلاصې کړه!

مور مې د آآآآ آواز په کولو او تعجبي لهجه راغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه کړې کولیلنګ به شې، څوک چې چرمن واچوي، لکه زچه څلوېښت شپې له یخ او شمال نه ځان ساتي.

همایون یې له کړکۍ خلاصولو منعه کړ، څو دقیقې وروسته دوی خپلو بسترو ته ولاړل. که څه هم ګرمي وه، څرمن لمړیو کې ډېره ښه یخه په بدن ولګېده، خو د وخت په تېرېدو سره، کرار کرار راګرمېده، اوبه یې پرېښوې، بالاخره ګرموالی یې هم بلا پسې، داسې ښویه شوه، چې ما به پورته زور کاوه، دې ښکته کاږم، څو ځل خو هغه و چې خوله او پوزه مې هم پکې ډوب شي، نژدې و چې وژلی یې وم، خوب له کومه شو؟ تر سهاره مې همدا کش او ګیر و ورسره.

خلاصه یوه له عذاب ډکه شپه وه، تېره شوه، ګهیځ له څرمنې نه د راوتلو سره سم مې له مور نه د حمام اوبه وغوښتې.

مور مې بیا هم د ببېګا په شان له تعجب ډک او جدي لهجه راغبرګه کړه: څه کړې روغ یې که لېوانی؟ شل او شوټ به دې کړي، څرمن چې څوک واچوي، یو شب روز (یوه شپه او ورځ) حمام نه کوي.

هر څومره مې چې ورته ووېل، پرې ومې نه منله، د یوې لویې لتې په راته نیوه سره یې کړل: فقط په دې جنډه دې ځان وچ کړه، نور دې کالي واغونده، حمام سبا وکړه.

څه مې کړي وی؟ چاره نه وه، همداسې مې وکړل، په ککړ ځان مې کالي واغوستل، ساعت وروسته کرار کرار د هوا په راګرمېدو سره مې بدن د څرمنې بوی پرېښود؛ د مچانو بز او بنګ راباندې جوړ شو، دوې دقیقې په یوه ځای نشوی ترې کېناستی، په ډېرو کیشولو مې یې متې وخوږېدې، مجبور وم، هره دقیقه کې خپل موقعیت بدل کړم، اخیر په ځای بدلېدو هم نه کېده، له اخیره به راپسې و، د کومو اطاقونو کړکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې جالی او پردې لرلې، د مچانو مخه یې نیول شوې وه، هغو ته ننوتلی نشوی، د میلمه او مړي، ژوندي اطاقونه مو و خرابېدل، بوی پکې پاتې کېده، بالاخره چې ډېر یې تنګ کړم، یو زوړ موټرسکیل مو لاره، پښه مې پرې واړوه، د صالح خیلو ځمکې ته مې حرکت وکړ، ترڅو په لارو مې شمال ووهي، د وجود بدبویي مې لږ ورکه شي، بیا به دومره ډېر مچان نه راباندې راټولېږي، کابو پنځه، شپږ کیلو متره لار ده، څو مې هلته له مټرسکیل پښه اړوله، بنګا، بَنګ یې شروع شو، د قیقه لا نه وه تېره، چې له کورنه دلته زیات مچان راباندې راټول شول، حیران وم، چې دا د صالح خیلو مچان دومره زر راخبر شول، که له کوره راپسې و؟ عیني حال کې تر ټولو جالبه دا وه، چې صالح خیلو کې مې موبایل آنتن پیدا کړ، له میدان ښار نه مې د اطاق ملګرو زنګونه راقطار کړل، په خوشحالی او خندا یې پوښتنې کولې، چې څنګه شو کار وسورېده،؟ یعني د خلکو خوښ شوې، کوژده کېږي، کنه؟ ما به مې چې بېګانی له عذابونو ډکې شپې او ټوله ورځ د مچانو سره په کشمکش او بلا اوښتو ته کتل، برعکس د دوی غوړو او مستو پوښتنو ته، خندا او ژړا به ګډ راغلل؛ د افسوس په پار به زړه کې راتېرېده: ای خدایه! دا دې په کومه ګنا نیولی یم؟ بس دي نور مې آه قبوله کړه.

لنډه دا چې دویمه شپه مې هم بدن سرېښ پرېښ و، بد بوی یې لګېده، نارامه وم، پوره خوب مې ونشو کولای، سبا سهار، مانا د دویمې ورځې په ګهیځ مې چې حمام وکړ، پاک کالي مې واغوستل، ایله مې ساه وچلېده، اما سره د دغه ټولو مشکلاتو د ګاللو یې، هغه د چا خبره قسم دی که د پښو په درد او پړسوب یې دومره فرق کړی وي چې ملا یې دم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شهید حاجي فضل الربي زیارت

څنګه مو چې تر دې دمه ولوستل، د خپلې ظالمې ناروغۍ سره د مبارزې د رنګا رنګ اخ او ډب په ترڅ کې مې د امریکایانو سره په جګړه کې د لسګونه شهیدانو په زیارتونو هم د الله ج دربار ته د شفاء طلبۍ لپې پورته کړې. چې جلا جلا د هر یوه کیسه لیکل به یې د کتاب حجم ډېر زیات کړي، پس تر څو خسته مو نکړم، له نور یې تېربېږم، په استازیتوب یې یوازې د وردګو ولایت سیداباد ولسوالۍ، د تنګي په دره کې د شهید حاجي فضل الربي د زیارت کیسه رااخلم.

په دې کې شک نشته چې نوموړی او ملګري یې ډېر تکړه او له اسلامي جذبې مال امال مجاهدین و، ډېرې ویډیوګانې یې اوس هم په خواله رسنیو کې شتون لري، دښمن ته یې خورا زیات او سخت ګزارونه ورکړل، بالاخره په ټول غیرت او مېړانه یې د شهادت جام نوشجان کړ، روح یې دې ارام وي. خو څنګه چې زموږ ولسونه د بې سوادۍ او په دین باندې د صحیح نه پوهېدو له وجې، په لویه کچه بدعتي او یا هم په خرافاتو یقین کوونکي دي.

همدا و چې د شهید حاجي فضل الربي له شهادت سره سم، دده د زیارت د کراماتو په اړه هم، ډېرې ګرمې عجیبې او غریبې خرافاتي ګنګوسې خوله په خوله شوې. چا به وېل: شَل ناروغان چې څنګه ور ورسېږي، جوړ او روغ شي، له زیارت نه پخپلو پښو راښکته کېږي. چا به وېل: ما په خپلو سترګو ولید، یو عمري نابینا کس پکې بینا شو، بل به کړل: د یوې ښځې اولاد نه کېده، د حاجي قبر ته له ورتلو دوې ورځې وروسته یې چې معاینات کړي حامله وه. دې ته ورته لسګونه نورې نادرې کیسې کېدې، د سرطان، فیس، عصبي هر نوعه ناروغانو لپاره ټیک او پتری و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس ځنګه چې زه هم تر بل هر چا ډېر د صحت وړی، تږی وم، فقط ماوېل چې اوس خدای ج وزر راکړي وی او همدا شېبه ورالوتی وی. بالاخره بله ورځ یو سړي چې اولاد یې نه کېده، موټر دربس کړی و، ښځه یې ور روانه کړې وه، ما ورته ووېل:

که خوښه مو وي؟ لږ کرایه به درسره سپکه کړم، ما هم درسره بوځه!

راسره ویې منله، حرکت مو وکړ، تنګي ته چې ورسېدو، زیارت پاس د غره په سر و، ته وا د مېلې یا کوم جشن لمانځلو په پار ددې غره په سر او لمنو کې دومره ډېر خلک راټول شوي، اوس ممکن سرک ورجوړ وي، هغه وخت موټر اسانه نشوی ورختلی، موږ هم لاندې د لسګونه موټرو په قات کې موټر ودراوه، ولاړ موټر ټول د هغه خلکو و چې زیارت ته یې ناروغان راوستلي و، یا یې د بېلا بېلو ارمانونو د پوره کېده هیلې ورته راوړې وې، له ما سره راغلي ښځه او سړی تکړه و، تېز، تېز وروختل، زما پښې خوږېدې، ډېر په سختۍ کرار کرار ورهسک شوم، چې ومې لیدل، زښته زیات ډول ډول ناروغان خلکو راوستلي و، ان په شا او چپرکټو کې یې هم راوړي و، په زحمت مې د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د قبر ځنګ ته ځان ورساوه، د الله ج دربار ته مې لاس لپه کړل، لمړی مې یې حاجي صاحب ته د شهادت د قبلېدو دعا وکړه، بیا مې یې زیارت ته د راتلو په سبب سره ځان ته له خالق او مالک ذات نه شفاء وغوښته، تر دوو، دریو دقیقو زیات وخت مې تېر نه کړ، نور ترې راروان شوم، خپلو نښتو پښو ته په کتو، وېرېدم هسې نه ځو ورسېږم، ماما او ښځه یې بې حاصیلې شي، موټر رانه بوځي. چې راغلم ربښتیا دوی وختي راښکته شوي و، موټر کې بې صبرانه زما په انتظار ناست وو، د دعا په کولو سره مو حرکت راوکړ، سبا شو، بل سبا شو، ډېر شپې ورځې تېرې شوې، د نورو زیارتونو په شان د پښو په درد او پړسوب کې هېڅ فرق ورسره رانغی. پس قاطع ځه نشم ویلی، کېدی شي د الله ج

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حکم يو نيم ناروغ ته سبب د شفا شوی وي يا به نه وي شوی، خو په ټول کې ورته شوي په لويه سطحه تبليغات مطلق دروغ و، نه شل پکې جګ شوی و، نه چا نابينا کس بينا پکې ليدلی و... ان له ماسره يو ځای چې کوم بې اولاده سړی او ښځه ورغلي و، د هغوئ هم زيارت ته له تلو پس څو کاله اولاد پيدا نشو، بيا يې کوم بل ځای دوا وکړه، اوس يې دوه، دری اولادونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوړ بزرګه

يوه ورځ مې چک کې واده شوې مشره خاله راغله، ګرمه آوازه يې راوړې وه، چې زمونږ طرف ته (د خوات د لوړ په کلي کې) يوه بزرګه پيدا شوې، ښاپيريان ورسره ملګري دي، که په چا کوډې شوې وي، که پيريانو نيولی وي، طبيعي ناروغ وي، يا کومه بله ټکه پرې رالوېدلي وي، ټولو ته رښتيا، رښتيا حال وايي، بيا کوډو واله ته کوډې وباسي، له پيرياني پيريان جګوي، عادي ناروغانو ته څاښت او تعويذونه ورکوي، ورسره رک او روغ کېږي.

د خاله مې يوه لور لږ ناروغه وه، څاښتونه يې ورته کړي و، ددې په خوله همغه څاښتونه د نجلۍ شافي کاپي شوي و. همدا و چې ډېره زياته عقيده يې ورته شوې وه، زمونږ کره هم خاص ددې لپاره راغلې وه، چې ما هم له دې هرې ناروغۍ ته شفابښونکې او خدای ج له حکمت او برکته ډکې بزرګې بې بي په پيداکېدو خبر کړي او زر تر زره د خپلې ناروغۍ اعلاج پرې وکړم.

نوموړې ښځه د لوړ په بزرګه مشوره وه، ظاهراً يې ډېره دينداري او سترمندي غوره کړې وه، نارينو ته يې ددې اطاق ته د ورتلو اجازه نه ورکوله، يوازې ښځې ورتللی شوی، نارينو به که څه ضرورت لاره، ناروغ به و، يا به کوډې پرې شوې وې، بيا به يې د کورنۍ ښځو يو لباس وروړه، د همغه لباس له طريقه به يې د نارينو مشکل معلومول او علاج به يې کاوه.

خلاصه سبا ما هم د همدې خاله په لاس يو کميس ورولېږه، بله ورځ مې چې د خاله سره تماس کې شوم، د بزرګې ښاپيريانو ورته ويلي و، چې د خوريه دې د نامه غوټۍ پاس د سينې لور ته ختلې، دا ټول مشکل يې له همدې کبله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره له سيني نه د نامه د غوټۍ راښکته کېدو تعويذ، څاښتونه يې ورکړي و او څه يوناني دوا يې هم ورته توصيه کړې وه، چې دروغ نشي، هغه دوا مې اوس سمه نه ده ياد چې څه و؟ مقصد څنګه يې چې ويلي و، د څاښتونو سره هممهال مې استعمال کړه، خو بدبختانه د نامه په غوټۍ يې زور ونه رسېده، راښکته يې نکړه.

دغه راز په دې وروستيو کې همغه خاله دوی ته مې نژدې يوه بله ښاپيريانو واله ښځه هم پيدا شوه، دې ته مې هم د نوموړې خاله په لاس يو کميس ورولېږه، ددې ښځې ښاپيريانو ورته وېلي و چې د خوريه ناروغي دې مورزادي ده، نه يوازې دا چې دوا نه لري، بلکې څومره يې چې عمر زياتېږي ناروغي به يې هم زياتېږي.

نسبت زما د ناروغۍ ځانګېرنو ته، ددې ښځې خبرې څه منطقي وې، او د شکرانې پيسې يې هم نه وې ترې اخيستې، چې ګواکې حق مې نه کېږي، نور نو والله علم.

همداسې د ماما خواښې مې د شمالي (پروان ولايت) وه، يوه ورځ هغو ورسره تر مخ کړم، په شمالي کې د چارېکارو له بازار نه وړاندې، د غره لمن کې يوې فارسي ژبې ښاپيريانو واله ښځې ته يې وروستلم.

دې بيا له نارينو هم ډېر ستر نه کاوه، د ماما له خواښې سره مې زه هم ددې اطاق ته ورننوتلم.

ښاپيريان يې چې په ځان راحاضر کړل، وېل يې: دا برندي دي. (برندي ددوی په ژبه د کومې ناروغۍ نوم و) د علاج لپاره يې د پروان ولايت په مرکز چاريکارو کې يو قصاب راوښود، ترڅو غوخ (پرې) يې کړي، چارېکارو ته په رارسېدو سره مو د برندي پرې کوونکي قصاب پوښتنه وکړه، مشور و، خلکو راوښود، قصاب کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشئ له کوم خياط نه يوه، دوې اوږدې سرې جنډې راوړئ، چې دوی له جامو نه کيچي کړې وي، په درد نه ورته خوري.

خياطانو خوشې نه راکولې، اخير مو په پيسو ترې واخيستې، قصاب ته مو چې راوړې، لمړی يې جنډې د قصابۍ په غوړه کلکه تی تشي واچولې، بيا يې په لاس کې نيولې د مال حلالولو په غټه چاړه دمونه شروع کړل، د دم له خلاصېدو او چوف چوف وروسته به يې اول چاړه زما په پښو کش راکش کړه، بيا به يې د تی تشي له پاسه جنډو ته په تېرو بنده کړه، په يوه ضربه به يې ډېر ګوزارونه پرې وکړل، دا کار يې دری ځله تکرار کړ، جنډې يې د کوچنيو پانو په اندازه تيکه تيکه کړې، د شکرانې په ورکولو سره ترې راروان شو، مياشتې، کالونه تېر شول، خو متاسفانه په ناروغۍ کې کوم مثبتوالی رانغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شيخ اعظم زيارت

ژمی و، له يو سپينږيري سره پيتاوي کې ناست وم، څنګه چې د کتاب په لمړيو صفحو کې مې هم يادونه کړې، اکثره ژمي به د پښو د درد د زياتېدو له کبله په امسا يا ټککو ګرځېدم، دلته مې هم ټکک تر څنګ دېوال ته درولي و، سپينږيري د خپلې ځوانۍ او باتورۍ غورې وکړې، وروستيو کې مو مجلس زما په پښو متمرکز شو، په ټول باورانه انداز يې وېل:

ستا ناروغي له خام بادو پرته بل څه نه دي.

(خام باد فکر کړم، په عامه يا کليوالي ژبه د روماتېزوم له ډلې د يو نوعه ناروغۍ نوم دی) بيا يې د بېلګې په بڼه د څو ناروغانو کيسې وکړې، چې اوس په دنيا کې نه و، همدې د خام بادو ناروغۍ وژلي و، مګر تر څنګ يې، دده په خبره له څو نورو په ياده ناروغۍ اخته کسانو سره بخت ياري کړې وه، روغ شوي و، ځکه چې دوی د چيجان په غرنۍ سيمه کې د شيخ اعظم په نوم، د بادو زيارت ته ځان رسولی و.

پس زما لپاره هم د سپينږيري وروستۍ توصيه دا وه، چې که غواړم ژوندی پاتې شم، ژوند وکړم؟ نو هرو مرو بايد د شيخ اعظم زيات ته ځان ورسوم، کنه نو نور چې په ټوله دنيا هم وګرځم روغ به نشم.

دا چې د شيخ اعظم د بادو زيارت د کراماتو او شفاء بخشۍ په اړه مې مخکې هم ځينې کيسې اورېدلې وې، ددې سپينږيري خبرې هم د يو مشر او تجربه کار کس په صفت بې اثره نه وې، چون کوم چې ده يې د ځينو يادونه وکړه، د خام باد ناروغۍ نښو نښانو زما د ناروغۍ سره زښته زيات ورته والی او شباهت لاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا و چې د خام باد ناروغۍ د درملنې يوازيني مرکز شيخ اعظم زيارت ته مې څه د شفاء اميد پيدا شو.

مګر دا چې ژمی و، واورې وې، بلخوا نوموړی زيارت ډېر جګ د چيجان په غره کې و، دا وخت ورتلل ممکن نه و، د پسرلي له رارسېدو سره سم، روح يې دې ارام وي، يوه ورځ ځواني مرګ شهيد سلطان له کوره موټرسکېل راويست، وېل يې: راځه د شيخ اباد چکر درکړم!

ورغبرګه مې کړه: شيخ اباد کې څه بلا غواړې؟ راځه چې چيجان ته ولاړ شو!

ده وخندل د يوې ټوکې په کولو سره يې کړل:

چيجان ته څه کوې؟ سبا به دواړه د موټرسکيل سره له کوم کړنګه راخطا يو!

د شيخ اعظم زيارت ته د تلو مې ورته ووېل، ددې خبرې په کولو، راسره موافق شو، وېل يې: چې زيارت ته ځې، بيا نو راځه توکل په الله ج!

حرکت مو وکړ، څنګه چې سلطان شوخ مزاجه هلک و، د ټوکو په پار ترڅو ما ووېروي، لمړيو کې يې موټرسکيل ډېر تېز او ليونی، ليونی چلاوه، خدايي چې شي ورسره وېرېدم هم، کله خو به مې ببخي سترګي پټې کړې، ټوکې مو لرلې، ورته کړل مې: بيا به ستا ببعقل سره په موټرسکيل سپور نشم.

خندا کې يې راغبرګه کړه: زه چې په دې ځوانی نه وېرېږم، ته ولې وېرېږې؟ هسې دې هم پښې په قبر کې دي!

له هوار سرک نه چې پرې ورتاو شو، د څه مزل تر کولو وروسته د چيجان سختو غرونو يې د موټرسکيل لکۍ ور د پښو تر قات کړه، ګرم شو، تېز نشوی تللی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم ښه و، لار کې يې پرېښودو، په ډېر زحمت او دمو، دمو یې تر زيارته ورسولو، هلته مې چې کتل، نه د نورو زيارتونو په شان قبر و، نه مات بنګړي، مالګې او نه هم نيم سوخته شمعې پرې پرتې وې، هاخوا په غونډو تېږو کې يو دوې شناختې ولاړې وې، د زاړو باد وړو بيراغونو پاتې پيڅکې پرې رپېدلې، ترڅنګ يې يو له ختو جوړ شوی، تونل ته ورته لوی نغری و، مانا سر يې پټ و، دواړه سرونه يې د تونل په شان خلاص و، مريض به لکه حيوان ورته په څلورو کېدو، د کليمو په ويلو سره به په خېوړو د نغري له دې طرفه پکې ورننوتلو تر هغه بل طرف به يې وتلو، دا کار درې کرته تکرارېده، زموږ تر مخ يوه زړه ښځه او سړی ورته راغلي و، لمړی نوبت د دوی و، ښځه چې د نغري خولې ته په څلورو شوه، ما او سلطان يو بل ته وکتل، خندا راغله، زر مو شاه ورواړوه، دېخوا راغلو، ښه شېبه ووتله، د ښځې زيارت چې وشو، زه ورغلم، سلطان ته مې وېل: ته هاخوا لاړ شه، چې په نغري کې زما د ننوتلو په وخت ونه خاندې، ما به هم وخندوې، دعاګانې او کليمې به راباندې ګډې وډې کړې، بيا ولاکه پېښې ببخي ښې شي.

سلطان په ټينګار سره وېل: بېغمه دې خپل زيارت وکړه، ليونی خو نه يم چې خاندم به.

زما يې په خبره باور نه کېده، بالاخره ومې لېږه؛ دده له پنا کېدو سره سم مې لمنې راټولې کړې، په ګنده کې مې واچوې، نور ورته په څلورو شوم، په خېوړو د نغري په سوري ورننوتلم، کابو يو متر يا لږ څه زيات اوږد و، د سوري له بلې خوا مې چې سر راويست، د سلطان خندا مې تر غوږه شوه، ځان مې کلک کړ، خپلې کليمې مې وېلې، راتاو شوم، د نغري خولې ته مې بيا ځان جوړ کړ، دويم او درېيم ځل مې هم پوره کړل، هر څو مې چې ځان ساتلو غار تنګ و کالي مې پکې سپيره ميره شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوږې د سمال مې ورته بند کړ، په پايڅو پورې نيښتې ايرې مې ټکوهې، سلطان له خندا شنه تبۍ و، ويل يې: پايڅې پرېږده، مخ پاک کړه، چې د موټرسکيل ائينه مې راسمه کړه، د يوې سترګې څنګ او د غوږ ژۍ مې هم د نغري خوله کې په لوګي تور دېوال سره د لګېدو له وجې تور شوي و، په ليدو يې ما ته هم خندا راغله، زر زر مې دسمال پرې تېر کړ، نور راروان شو، سلطان ته به چې په لارو هم ورياد شول، له خندا به شين شو، ان تر تېر کال پورې چې شهيد شوی نه و، کله به يې رايادوه، خندا کې به يې ويل: خدای ج دې په نيکۍ راورسوي، نخره زيارت و.

خو په هر صورت لنډه دا چې پښو د شيخ اعظم بابا په زورور زيات هم هېڅ خيال رانه وړه، دردمنې او پړسېدلې چې وې همغه شان وې، نور نه پوهېږم، د خدای بښلي سلطان خنداګانو کار خراب کړ او که خدايزده څنګه يې چې سپينږيري غورې راته کړې وې، اوس يې هغه پخوانۍ مزه نه وه پاتې.؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زمانخېلو زيارت

فکر کړم د کرزي وروستۍ دوره وه، د چک ولسوالۍ سرک پخېده، د زمانخېلو په ساحه کې د سرک تر څنګ يو پخوانی قبر و، بېراغونه به پرې ولاړ و، اصلي شجره يې هم نه وه معلومه، چې دا څوک و، څه وخت او ولې دلته قبر پرې جوړ شوی و؟ البته کېدی شي د هغه سيمې خلک او سپينږيري يې په اړه څه حکايت ولري، ولې په عموم کې يې د چک ميشتو سره کره معلومات نشته.

خو په هر راز، راځم اصلي مطلب ته مې، د سرک جوړولو په مهال لکه ترافيکي چوک زيارت د سرک منځ ته راغی، د پروژې مشر او انجينرانو هم په ځای ددې چې کاريګرو ته يې ويلي وای: ويې باسئ، هڅوکي يې بل ځای خښ کړئ.

د طمعې خلاف د سرک په منځ د قبر پاخه جوړولو ترڅنګ يې سرک هم يوه خوا او بله خوا ترې کوږ کړ، په دې سره کليو، ولسونو کې ګنګوسه داسې شوه چې د بلدوزر زور پرې ونه رسېده، تر څو ايستلی يې وی، چا به ويل: له قبر نه پنځه متره لرې يې سيلف کاوه، يو سانتي يې هم مخ ته نه وړپرېښود.

چا به ويل: هر څومره قوي او نوی بلدوزر به يې چې ورته راوستلو، پرزې به يې ماتولې، په زيارت يې د ورتلو وس نه کېده، همداسې نور.

مقصد هر څوک چې ؤ، يا هر وخت او د هر څه په وجه چې شهيد شوی ؤ، خو د زيارت کراماتو ته په کتو يې د الله ج د يو خاص او نازولي بنده مانا ترې اخيستل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه و چې زر تر زره د ځان ورسولو او زيارت يا قبر تر سر پورې يې د خپلو دردمنو، پړسېدلو پښو لپاره د الله ج دربار ته د لاسونو لپه کولو تلوسه مې وينه کې په ځپو راغله.

اما تر څو وربرابرېدم، مياشتې تېرې شوې، ان تر دې چې بله ورځ سبوکه کې د دوستانو مو څه د ښادۍ معامله وه، هغو ته ور روان وم، په زمانخېلو کې مې زيارت ته ځېرمه، د ښښې په غوښتلو سره، د يوې دقيقې لپاره په ډرېور موټر ودراوه، وربښکته شوم، زر زر مې د خپل دايمي عادت له مخې، لمړی په قبر کې د پراته مړي اروا ته د ارامۍ دعا وکړه، بيا مې د خپلې صحت طلبۍ په پار ددې الفاظو په وېلو سره الله ج ته لاسونه لپه کړل: يا الله ج! ځنګه چې خلک وايي، که دې زيارت ته دې رښتيا دومره زور او حکمت وربښلی وي؟ بيا نو له شک پرته چې تاته ګران د حقې لارې يو سپېڅلی شهيد يا هم يو نيک بنده دې دی.

پس زيارت ته د تشريف راوړلو په سبب سره يې، عذر زارۍ کوم، دده په روی او د شهادت په برکت يې، زما ګنهګار دا يوه عاجزانه او مظلومانه دعا قبوله کړه، په پښو کې له دې پرتو زولنو مې نور آزادي راکړه، تر څو ددې ستړي فاني ژوند پاتې څو شپې ورځې لږ د آرام ساه واخلم او د خپلو ارمانونو تر ځنګ، له ما نه مې د کورنۍ، دوستانو، هيواد او هيوادولو هيلو ته حداقل تر يوې اندازې رسيدګي وکولی شم، برعکس د تل لپاره د دوی د اوږو بار ونه ګرځم.

اخير کې مې د درودې شريف په ويلو سره، دواړه لپې په مخ راکش کړې، واپس موټر ته ور وختلم، حرکت مو وکړ، تر څو ورځو هر سهار به چې راجګ شوم، په پښو به مې لاس تېر کړ، له نظره به مې ويستلې، د زورور بابا د زيارت د فايدې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طمعه وم، خو پښنو وېل چې نه، نه لالیه! بلدوزر به یې جام کړي وي، مګر موږ ته معنا نه لرې.

همداسې تازه د زمانخیلو د زیارت تر پورتنۍ کیسې پورې رایاد شول، کابل کې د شاه دوشمشېره ولي زیارت په اړه هم عیني باورونه موجود دي، یو خوا وېل کېږي، چې یاد زیارت افغانستان ته په لمړي ځل د اسلام راوړلو سره د راغلو تابعینو له جملې د یو عرب شهید شوي تابعي زیازت دی، بلخوا د حامد کرزي د لمړۍ واکمنۍ په مهال چې ببېلا ببېلو برخو کې د هېواد په ابادۍ کارونه پیل شول، له جملې یې یو هم د کابل ښار د ډېرې سرکونو بیا رغول و، خو د شا دوشمشېرې د زیارت تر څنګ سرک همغه شان کوږ او تنګ پاتې شو، پس خلکو به وېل: زیارت بلدوزرو ته اجازه ورنکړه، چې پرې وروړاندې شي، د زیارت راوتلی کونج پرې کړي، ترڅو سرک هم سیده او هم پېراخه شي.

همدا و چې زما عقیدوي توجه یې هم وروګرځاوه، دوه ځله ورغلمَ خپلو شلو پښنو ته د صحت یابۍ عذر مې الله ج ته پکې وړاندې کړ، مګر کومه ګټه مې له دې هم ونه لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خر پټې

خدای ج دې وبښي، يوه شپه مې د بابا عمه راکره راغلې وه، نوموړې خورا عمر خوړې ضعيفه بوډۍ وه، سره له دې چې ډېره لمونځ گزاره، دينداره ښځه وه، د خپل زيات عمر د لرلو له مخې يې ډېره تجربه کاره هم وه، د شپه له ډوډۍ خوړلو وروسته مې يې مور ته زما په اړه وېل: نور خو مو چې هر څه پرې وکړل ښه نشو، راځئ يو کار بل وکړو، يو ځل يې په خرپټو کې هم پټ کړو، ماته ښکاري چې ددې لمسي مې خونکي هډوکي ته لوېدلې (خونکې په عامه يا کليواله ژبه د يوې ناروغۍ نوم دی چې د يخ او لمدبل له کبله ځينې کسانو ته پيدا کېږي) بوډۍ انا زياته کړه: خونکي چې کله هډوکي ته ولوېږي، همداسې پښې، لاسونه يا د بدن نور غړي پړسوي، بندونه درد کوي، چې بيا ډاکتران نه پرې پوهېږي، يوازې د خسي پسه پوست او يا هم خرپټې کولای شي، چې هډوکو کې ځای په ځای شوې خونکي راوباسي، ځکه چې دا دوه شيان ډېر زيات گرم دي.

ما نه پېژنده مور ته مې يې د کوم بل چا د مور نوم واخيست وېل يې:

پلانکۍ هم يو وخت همداسې ناروغه وه، پښې يې دوبادو پړسېدلې وې، له درده ځای په ځای وه، ډېرې دواوې يې وکړې، نه ورلگېدې، اخير يې د خسي پسه پوست واچاوه، له هغه سره جوړ روغه شوه، بيا يې ونه وېل چې کوم ځای مې خوږېږي.

خو دا چې اوس د خسي پسه پوست سخت پيدا کېږي، خرپټې هم ترې کمې نه دي، د پسه د پوست ځواب وايي، تاسو يې يوه ورځ ورته راوړئ، زه چې ورته گورم د هډوکي له خونکې پرته بل څه نه دي، که د خدای رضا وه، له خرپټو سره به داسې جوړ شي چې حيران به ورته پاتې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې زما صحت ته د خپلې جل وهلې تندې لمخې، د انا خبرې ته هم يقين وشو، په سبا مې يې پلار په خرپټو پسې غره ته ولېږه، (خرپټې د حيواناتو زبې ته ورته غټې غټې خړچکې پاڼې لرونکې صحرايي گيا ده، د پاڼو مخ يې يو قسم سپېره پټ او د انسان د جلد ويښتو ته ورته ميده اغزي لري) پلار مې يوه گونۍ راوړې، د بوډۍ انا د توصيې سره سم، ماښام يې په ساتول ځب ځب کړې، د شپې پس له ډوډۍ يې د خوب بستره کې په لوڅ بدن راکېښودې، د پښو له گوتو ان د نامه تر غوټۍ يې ښه سم پکې پټ کړم، اغزي يې راچوخېدل، بدن مې سوخت او بخار کاوه، خوب نو کله کېږي؟ شپه مې په لوڅو سترگو تېره کړه، يقين وکړئ، له تصوره زيات يې آزورده کړم، خو له بدمرغه نه مې يې له هډوکو خونکې راويسته، نه مې يې نوره څه فايده محسوسه کړه.

څنگه چې له خبرو خبرې پيدا کيږي، زه هم چې يوه کوم بله راياد شي، تر همدې خرپټو پورې د اوښ په پچو کې تېره کړې شپه مې هم ذهن ته راغله، که څه هم وخت وتلی، نه پوهېږم چې چا ورته ويلي و او مقدمه يې څنگه وه؟ خو دا مې ياد دي، چې د ناروغۍ په لمړي وخت کې مې مور يو ځل د اوښ په ميده شو پچو کې هم پټ کړم، د خرپټو تر پورتنۍ کيسې پورې ځکه راياد شول، چې د اوښ په پچو کې هم د خرپټو په شان ميده ازغي و، راچوخېدل، چون هغه وخت يوخوا نسبت د خرپټو وخت ته ډېر کوچنی وم، بلخوا ددې ډول دواو په وړاندې دومره ټرنېنگ شوی او عادت شوی هم نه وم، پس نه يوازې دا چې ناارامه وم خوب مې ونکړ، بلکې ټوله شپه مې په ژړا او اوښکو تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تورو سترګو خوړلی

د ناروغۍ په لمړنيو کالونو کې چې لا د ماشومانو په جم کې وم، يوه ورځ مو يوې سپين سرې ګاونډۍ (.... ببۍ) پلار ته وېل: برايم (ابراهيم) جانه! خدای ج که بل هېڅ پرې شوي وي، نعيم جان فقط تورو سترګو خوړلی، تورو. چې وړوکی و، نوې پښې يې کړې وې، داسې ښه ډېر ښايستوکی هلک و او ان همغه وخت لکه سپينږيری ډېر هوښيار او آرام ماشوم و. سترګې خو ډېر بد شی دي، چې څوک يې ووهل، بيا له ځانه خير نشي کولی، نه يې ډاکتر په ناروغۍ پوهېږي، نه ملا، ورځ تر بلې اوبېږي.

پلار مې ورغبرکړه: هو ولا تروريې! زه هم کله وايم چې هلک په سترګو شوی، پسې زياته يې کړه: يوه ورځ ډېر کوچنی و، غېږ کې مې واخيست وروم ايستلو د ژرندې تر مخ مې خليفه سورګل ته کيناوه، چې ويښته يې پرې اصلاح کړي، د ويښتو د جوړولو په جريان کې (پلانکی ماما) په لار تېرېده، چې سترګې يې پرې ولګېدې، حيران شو وېل يې:

- يره برايمه! ډېر تکړه زوی دې دی، موږ خو چې د خپلو ماشومانو سرونه پرې جوړو، چيغې يې په ټول کلي کې ازانګې کوي، په پنځو نفرو يې نشو تکيه کولی.

له همغه ورځې نه بيا هلک ښه ورځ ونه ليده، تر ننه.

ببۍ ورغبرګه کړه: هووو بس بس ما خو وېل چې هلک نظر شوی، د (پلانکي) ډېرې درنې سترګې دي، تېرې ميدوي، تيږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولاکه پو هېږم تروريږ! کنه د ګلدانو په اخندزاده صيب مې د نظر تعويذونه هم ورته وکړل.

ببۍ کړل: نه، نه، نه د داسې خلکو د سترګو په نظر د تعويذ او دم زور نه راسېږي.

د داسې کسانو د سترګو نظر صرف او صرف فقط په يو څه باندې ماتېږي، چې په پلونو يې متيازې وشي.

پلار مې يې خبره په خندا تېره کړه.

زه چې دې خوا غلی ناست وم، د دوی په مجلس مې پام و، د ببۍ خبرې بې څه راته ښکاره نه شوې، زړه کې مې کړل: دده څه او څه وکړم، په پلونو خو يې متيازې سختې نه دي.

همدا و چې د سړي تعقيبول مې پيل کړل، لارې به مې يې څارلې، څو ورځې تېرې شوې، هېڅ داسې موقع نه برابرېده چې په پلونو مې يې متيازې کړې وی، په کومه لاره به چې تېر شو، هلته به د خلکو ګڼه ګونه وه، خوشبختانه بله ورځ له کلي نه بر دوکانونو (بازار) ته روان و، پسې شوم له کلي چې وواته، بازار ته د ورغلي سرک په ريګلنه ځمکه يې ډېر ښه واضح، واضح پلونه ښکارېدل، بل خوا له نيکه مرغه د سرک دواړو لورو ته باغونه و، پنايي يې جوړه کړې وه، دی مې شاوخوا پنځوس، شپېته متر وړاندې تر مخ روان و، حيا دې وي، په ولاړو مې شروع پسې وکړه، په هر پله به مې يې کم او زيات پنځه، پنځه سي سي ( (ccمتيازې ورخوشې کولې، ان تر دېرش، څلوېښتو پلونو مې يې ورسولې، نور مې دی هسې رخصت کړ، زه واپس په قهرمانه موډ کې ترې راوګرځېدم، څو ورځې مې سترګې وې چې د ببۍ د خبرې اړوند د ..... ماما په پلونو د متيازو په کولو سره به يې د درنو سترګو نظر مات شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نور به ناروغي کرار کرار ښه شي، خو له بدمرغه مياشتې کالونه تېر شول تر ننه يې هېڅ اثر رامعلوم نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ډاګو شهيدان**

يوه ورځ د مازيګر له لمانځه وروسته د جومات په تبۍ ناست وم، يوه سپينږيري حاجي کليوال مو د ډاکو د شهيدانو د مظلوميت کيسې کولې.

نوموړي شهيدان د مشرانو له قوله، له ايرانه راغلي د شمالي ولاياتو هزاره مسافر و، د وردګو دښت ټوپ په ساحه کې زموږ د سيمې څو وحشي ټوپکوالو غلو د کابل او کندهار په سرک له موټرو راښکته کړي و، تر غونډۍ دېخوا يې چې راالړولي و، سره له دې چې خوارانو ډېرې زارۍ ورته کړې وې، په کورونو کې يې ورته منتظر کوچني اولادونه او بوډۍ مورګانې وريادې کړې وې، خو دوی ظالمانو خپل وحشت پرې ثابت کړی و، د پيسو او مالونو ترې اخيستلو سربېره دوی يې هم ټول وژلي و، بيا يې زموږ له کلي پاس د همغه ډاګونو په يو وړوکي خوړ کې رېګونه پرې ور اړولي، دغه و چې نوم يې د ډاکو شهيدان شو، کورنۍ يې ممکن اوس هم د ورتلو په طمعه وي.

خو په هر حال د کلي خلک به مو ډېری وخت د ملا اذان تر مخ تياره کې همدې ډاګونو او ترې چاپېره غونډيو ته په بوټي (خسو) پسې تلل، بيا به يې ځينو د اذان د اورېدو ادعا کوله، چا به يې په قبرونو ډېوې ليدلې وې، همداسې د بېلا بېلو کراماتو په اړه به يې وېل کېدل.

په دې ورځ يې چې د جومات په تبې ناست حاجي يو ځل بيا ډېر په خوند د مظلوميت او ورسره شوي سخت ظلم کيسه کوله، زړه کې راتېره شوه: تر غزني، ننګرهاره او شماليه د نامعلومو مړيو په زيارتونو پسې منډې وهې او په دغه يو قدم ځای کې دې دومره سپېڅلي او مظلوم شهيدان هېر کړي، تا به نو ښه خدای ج جوړ کړي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه و چې حتمي د یو ځل ورتلو قصد مې یې وکړ، بله ورځ ډېره ښه موقع خدای ج برابره کړه، یو ځوان کلیوال مو سرطان و، ځنګه چې له نورو ټولو خواوو ځواب ورکړل شوی و، د وروستۍ هیلې په پار یې کاکا موټر کې کېنولی و، همدې د ډاګو د شهیدانو زیارت ته یې بېوه، زه هم ورسره ملګری شوم، تر زیارته ډرېوري هم همدې ناروغ هلک وکړه، چې ور ورسېدو، ځنګه یې چې قاتلینو کالونه وړاندې د تنظیمي جګړو په مهال د یوې وړې خوړۍ منځ کې ریګونه پرې وراړولي و، لا هم د همغه خوړۍ منځ کې ریګونه پرې امبار و، یوازې چارچاپېر چا یوه، یوه تېره ترې تاو کړې وه، د قبر رنګ یې ورکړی و، له پاسه یې د خپلو بوټونو او ځپلیو قات شوي تلي پرې پراته و، نورې باډۍ یې لمر او بادونو وړې وې، د قبر سر ته یې ودرېدم، د الله ج دربار ته مې لاسونو لپه کړل، لمړی مې یې دوی ته د مسافرانه او مظلومانه شهادت د قبلیدو او کورنیو ته یې د ورسره شوي ظلم او مظلومیت اجر وغوښت؛ بیا مې د دوی تر قبرونو پورې د راتلو په سبب له الله ج د خپل صحت غوښتنه وکړه.

خو نه یوازې زما بلکې د هغه بل ناروغ ځوان هم کوم درد ورسره دوا نشو. نه پوهېږم خوشبختي مې یې وګڼم، که بدبختي؟ چون زه خو لا تر ننه سر ښوروم، هغه بېچاره د ګوتو په شمېر شپې ورځې وروسته خپل روح حق ته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بربنډې ښځې

په داسې حال کې چې نور له مکرجنو ملايانو، زيارتونو، ټګانو، کوډګرو او رنګارنګ غيرې علمي او غېرې معياري دواګانو بېخي ستړي شوي و، ولې چې نتيجه يې د ټولو يوازې هسې پيسې مو سيند ته غورځول، خورا زحمتونه، تکليفونه راباندې تېرېدل او وخت مو يې راضايع کول و او بس!

ناروغي چې وه، همغه شان د خپل ارام او حوصيلمند طبيعت لمخې يې کرار کرار مخ په بره روانه وه، د هر کال په تېردو سره به مې خپل صحي وضعيت کې ښکاره بدتري، احساسه وله، نه يوازې دا چې پړسوب پورته روان و، د بدن روغې برخې يې لاندې کولې، بلکې د عمومي ضعيفۍ او وزن له لاسه ورکولو سربېره، د پښو حرکت يې هم رامحدوداوه؛ مانا تېر کال به چې تر کوم لښتي يا جويچه هاخوا پورېوتی شوی، کال وروسته به مې هلته پښه نه رسېده.

لهذا ورځ تر بلې د دې بد او نامعلوم سر نوشت په لوري تلو مې، زما په شمول د مور او پلار انديښنې هم له ځان سره زياتولې، هغه هم په داسې حال کې، کوم چې وړاندې مې يادونه کړې، ډاکتران زيارتونه، ملايان، يا بلې کومې خوا ته مو چې د سبب په پار سترګې اوښتې وې، ټول مو تر پښو ايستلي و، نور نو مستقيماً د الله ج له غيبي مرستې يا هم په خپلو لاړو له جوړېده پرته بله هيله نه وه راپاتې.

په همدې حساس وخت کې مې مور د دوستانو په يو واده کې له يوې ښځې سره ليدلي و، نوموړې ښځه هند ته د تداوۍ لپاره له تلو وروسته تازه راستنه شوې وه، د وزن د زياتوالي له کبله يې د يوې پښې د پورتني بند يا هم ګردي د هډوکو تر منځ سرېښ ناکه مايع وتلې وه، هډوکي يې يو په بل سولېدلي و، درد يې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند کې يې خپل تخريب شوی ګردی ترې يستلی و، په ځای يې د مصنوعي هډوکي ګردی ورته اچولی و، د ښځې درد او د حرکت په وخت ستونزې ورسره کمې شوې وې.

همدا و چې هند ته زما د لېږلو په پار مې يې مور هم زښته زياته هڅولې وه، دا يې ټولې ورته کړې وې، چې د کابل هر ډاکتر ته د بار بار ورتلو په شمول له تاسو نه په زياتو ملايانو، زيارتونو او حکميانو.... ګرځېدلې يم، خو د روپۍ فايده مې نه ده ترې ليدلې، پاکستانيو ډاکترانو مې هم اعلاج ونشو کولای، هسې يې پيسې رانه وشکولې.

هند ته چې ځنګه ولاړم، پښه مې يې عمليات کړه، خپل سولېدلی د ګردي هډوکی مې يې ويست، بل يې راواچاوه، دغه دي جوړه روغه شوم، نن چې ستاسره ناسته يم، د هندي ډاکترانو برکت دی، کني له ما نه دا وادونه پاتې و، بستره کې په اړخ نشوی اوښتی. پس تاسو هم که ربښتيا غواړئ چې زوی مو جوړ شي، نور يې تر دې ښځايه تاوولو تېر شئ، له کوره وي، که له پوره، پيسې ورته پيدا کړی، هند کې مړي ژوندي کېدل، ستا د زوی خو فقط پښې پړسېدلې، درد کوي.

د ښځې له خبرو مې مور ډېره متاثره شوې وه، کور ته په راتلو سره مې يې پلار ته په واده کې د ليدلې ښځې د خولې ټوله کيسه وکړه، ګويا دلته په ډاکترانو، زيارتونو، ملايانو، جادوګرو ډېره ګرځېدلې وه، پاکستان کې يې هم اعلاج نه و شوی، هند ته چې ځنګ تللې وه، هندي ډاکترانو يې پښه عمليات کړې وه، بل ګردی يې وراچولی و، اوس لکه پيغله داسې نيغه ګرځېده، شک به دې نه و پرې کړی چې دې به عمليات کړی وي، جوړه روغه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته یې هم وېل چې که غواړئ زوی مو جوړ شي؟ نور یې له دې بېځایه ګرځولو او هسې پیسې پرې مصرفولو تېر شئ، فقط هند ته یې ولېږئ.

پلار مې ورته وېل: ناروغی فرق لري، منم هغه ښځه به جوړه شوې وي، مګر پاکستانیو ډاکترانو ماته ووېل چې تر دې دمه د دنیا په یو هېواد کې هم دوا جوړونکي (فارمسستان) په دې نه دي توانېدلي چې ستا د زوی د ناروغی دوا جوړه کړي، حتا ددې ناروغی لامل هم لا نه دی معلوم.

مور مې ورغبرګه کړه: دې ښځې ته یې هم پاکستان کې وېلي و چې ته نه جوړېږې، خو هند ته په تللو سره ورته معلومه شوې وه، چې پاکستانیانو دروغ ورته وېلي و، هندي ډاکترانو بسته ګردی او د ګردي د کاسې نور هډوکي ترې یستلي و، په ځای یې مصنوعي هډوکي وراچولي و، وېل یې پخوا خپله بستره کې په اړخ نشوی اوښتی، لورانو ته به مې غږ کاوه، اوس جوړه روغه وه، هېڅ مشکل یې نه لاره. نو خدای ج مهربانه دی، له زوی مو نه ده زیاته راځه موږ هم د خوږ له غاړې پټی (ځمکه) ګرو کړو، دا وروستی ارمان به هم پرې وباسو.

د پلار مې د هند په طبابت هم باور نه و، بلخوا د ځمکې د ګروېدو خبره هم درنه پرې تمامه شوه، زړه یې نه پرې کېده. ملامت هم نه و، چون دده خو تنها زه اولاد نه وم، یوه ډله نوره خیلخانه پسې وه.

خو بالاخره مور مې د ډېر وخت پرله پسې ټینګار پرې کولو په پایله کې پرې ومنله، د خوږ له غاړې ځمکه یې ګرو کړه.

هغه وخت د پاسپورت ریاست کې ستونزې زیاتې وې، ټول ژمی مو پرې تېر شو، په ډېره سختۍ مو ایله تر پسرلیه پاسپورت جوړ کړ، له وېزې پرې وهلو وروسته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه وخت فعال افغان کامير هوايي شرکت د طيارې ټيکټ واخيست، هند کې مو د دوستانو له جملې مسافر يو، دوه کسه شناخته و، تماس مې ورسره لاره، د هغوئ په لاربنوونه ور روان شوم، تقريباً تر دوه ساعت سفر پس مو طياره د نوي ډلي په ميدانې هوايي کې ښکته شوه، دا چې زه يو پټ سترګى کليوال هلک وم، تر دې دمه مې د ښځو د مخ له داېرې او لاس، پښو تر پنجو پرته، نور بدن نه و ليدلى، د خپلې ناديدګۍ له مخې کله به چې کال، دوه کالونو کې يو ځل کابل ته راغلم، يوه نيمه پتلونداره يا چسپ او نازکو جاموواله ښځه به مې سترګې ولګېدې، د خوند ترې اخيستلو تر څنګ، خداى ج ته د ځان سپيناوي په پار به مې لعنتونه هم پرې ويل، زړه کې به مې د کافرې، فاحشې نامونه هم پرې ايښودل.

خو کله چې د ډهلي په ميدانې هوايي کې له طيارې راښکته شوم، په لسګونه اتيا فيصده بربنډو ښځو مې سترګې ولګېدې، يو قسم ګرمې اوبه مې په بدن کې ښکته پورته شوې، د زړه زربان مې دومره لوړ شو، چې ټول وجود مې يې خوځاوه، لږ وړاندې چې راغلم، د وېزو د تائيدۍ د غرفې په قطار کې مې يوه نازک او ډېره ښکلې پېغله نجلۍ تر مخ ولاړه وه، ويښته يې لکه د هلکانو ګرد پرېښ کړي و، يو وړوکى بلوز او نيمه پتلون يې په تن و، د بلوز لمنې يې لنډې وې، ايله د نامه تر غوټۍ رسېدې، بلخوا يې د پتلون کمربند ډېر کوز تړلى و، تر منځ يې د نامه له غوټۍ ښکته د سپاخه د ساحې يوه برخه لوڅه پاتې وه، سپين پوست يې ښکارېده، له تاسو يې څه پټه، منحيث يو انسان سره له دې سختې ناروغۍ مې يې هم سم ګرم کړم، غرفې ته په رسېدو سره مې چې کتل، د پاسپورټونو چک کوونکې ماموره هم يوه ښکلې نجلۍ وه، نازکه خړرنګې رسمي چپنه يې په تن وه، د سينې د سر تنۍ (تکمې) يې خلاصې وې، د زېرپيرانۍ له آزادې غاړې يې يوه برخه تې او د تيو قات ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درحالي کې چې زه هغه وخت نسبت نن ته ډېر صوفي او پرهېزګاره وم، له ګناهونو مې زيات ځان ساته، دلته مې هم قصداً د ښځو په يخن کې سترګې نه وراچولې، نه يې له لباس نه په لوڅو د نامه غوټيو او ګېډو پسې ځير وم، بلکې کيسه عامه وه، هر خوا به مې چې سترګې واړولې، تصادپي به د يوې نه يوې ښځې د بدن په هغه لوڅو او نامحرم برخو ولګېدې، چې خورا زياتې شهوت انګېز به وې.

د دروازې خواته چې راغلم لا وضعيت خراب و، د خپلې کليوالي حيا او پاک لمنۍ له مخې مې په ټول توان هڅه کوله، چې خپل راپارېدلي جنسي جذبات ارام کړم، مګر څنګه مې چې وړاندې ووېل يو خوا زه د ښځو د بدن د نامحرم برخو په وړاندې مطلق ناديده وم، بلخوا واقعاً محيط ډېر خراب و، همدا و چې شيطان ذاته ظالم نفس مې نه راسره منله، پرله پسې مې يې د راپارېدلو خبيثو هواسو اور ته پوکې ورکاوه. نه مې يې د پېرسېدلو، دردمنو پښو خاطر کاوه، نه يې دا وېل چې مور او پلار بېچاره خيلو يې خپله هغه يوه ټوټه ځمکه هم ورته ګرو کړه، چې د يوې ګولې حلالې روزۍ د لاس ته راوړلو وسيله يې وه، دا خوارکی يې د تداوۍ لپاره هند ته پرې راولېږه.

نه، نه بې حيا هواسو مې له واکه په کامل بغاوت او له دې هر څه بې پروا د بدن رګ رګ کې مست موجونه وهل، يوه ثانيه يې بل خوا ته د پام اړولو اجازه نه راکوله.

له ميداني هوايي، چې راووتلم، د ډهلي ښار کې د ميشتو شناخته کسانو سره د تماس په نيوه ټکسي کې ورکېناستم، په لارو څه ښه شوم، خو لا مې هم ميدانې هوايي کې د تحريک شو جنسي جذباتو اثر په بدن و؛ عيني حال بار بار زړه کې راتېرېده: خدای ج دې ښښنه راته وکړي، څومره بېعقل او ناديده وم، يوازې د لوڅ مخ يا د يو پتلون له کبله به مې د کابل ملايکې کافرې، فاحشې بللې، کفر او فحشاء دې ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په هر صورت د ډهلي ښار ته په ننوتلو سره مې له ميداني هوايي نه وضعيت لا تر بدبتر وليد، مازيګر ناوخته د شناخته کسانو اطاق ته ورسېدم، له ډوډۍ خوړلو پس مې ډېره سخته تبه شو، دوې ګولۍ (دوا) راکړه، د شپې ارام وم، خو سهار مخه مې بيا کرار کرار وجود درنېده، ان تر دې چې له چای څښلو پس مې بيا مسته تبه شوه، اطاق کې راسره ملګرو راته وېل: سترې شوی يې، يا د هوا اثر دی.

مګر زه په خپل مشکل پوه وم، چې ګواکې دا هر څه پرون ورځ د لوڅو ښځو د ليدو له کبله په بدن مې د راغلي فشار له وجې دي، خو دوی ته مې څه نه وېل.

دوې ورځې پس چې له تبو لږ ښه شوم، ژباړن مې ونيوه، د ډهلي د ښار يو لوی او مجهز شخصي روغتون (مکس) ته د تداوۍ لپاره ولاړو، د روغتون ډاکترانو مې د کابل او پاکستان معاينات د باور وړ ونه ګڼل، يو ځل بيا يې له سره ټول معاينات راباندې شروع کړل، د معايناتو تر تکميلېدو پورې به هره ورځ روغتون ته ورتلم او راتلم، درحالې کې چې د بربنډو ښځو په وړاندې جنسي جذبات مې لا هم په لوړ حد کې و، مزې سترګې به مې چې پرې ولګېدې فوراً به مې د زړه زربان لوړ شو، اطاق کې د راسره هلکانو په شمول، دې نورو نارينه او ځوانانو ته حيران وم، چې د دوی ولې ددې لوڅو ښځو په وړاندې غريزې نه راپارېږي؟ ارام يې تر څنګ ګرځي راګرځي، خپل کارونه کوي؟ خو د څو ورځو په تېرېدو سره رامعلومه شوه، چې دوی هم ملايکې نه وې، نه نربنځي و، راز يې په دې کې و، چې دوی اصلاً زما په شان له خپل نفس سره مبارزه نه کوله، اکثريتو به ښځو ته د معمولي تمايل پيدا کېده سره سم فاحشاخانو ته ځان رساوه، خپلې تندې به يې ماتولې، زما شناخته کسانو چې اطاق پکې نيول و، لوی بلاک و، د لسګونه نورو مسافرو اطاقونه هم پکې و، تر څو شپو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو ورسره تېرولو وروسته، له ډېرو نورو مسافرو سره هم بلد شوم، دغه و چې ځینې هلکانو به بیا ماته هم فحشاخانو ته د ورسره تلو بلنه راکوله.

خو تر څو ځان سپیناوی نشي، یوه رښتیا خبره به وکړم، هغه دا چې، له بده مرغه اوس هغه شان ښه سړی نه یم پاتې، خدای مکړه که د هغه وخت غوندې آزادانه بلنه راکړی شي او هر ډول یعني د هر رنګ او هر سن ښځو ته لاس رسی دومره اسانه وي، لکه هلته، ممکن پښه ونشم نیولی.

مګر ځنګه مې چې وړاندې هم یادونه وکړه، هغه وخت یا هم نوځوانۍ کې مې نسبت اوس ته خورا ښه تقوا لرله، پس درون کې مې که غیرې ارادي هر څو اور بل و، جنسي تقاضا اوج ته رسېدلې وه، مګر مقابل کې مې یې په خپل فزیکي وجود او اعمالو پوره واک لاره، تر ډېره مې د الله ج له وېرې له لویو ګناهونو ځان ساتلی شوی.

بلخوا خپله ناروغي او مظلومیت مې هم له پامه نشوی غورځولی، همدا و چې زه یې له بې لاری وژغورلم.

که څه هم له یادولو دې پاتې نه وي، یوه شپه یې د ډېسکو په نوم یو ځای ته ورسره روان کړم، نه ورسره تللم د پښو خوږ مې بهانه کړل، خو دوی په ټینګار سره وېل چې جګ شه کرار کرار ځو، نژدې دی.

حرکت مې ورسره وکړ، اصلاً ما فکر کاوه، چې ډېسکو به کوم پارک وي، ولې چې ورغلو، رښتیا پارک و، مګر داخل کې یې په بېلا بېل ډول د فحشا ځایونه هم لرل، لمړی یو سالون ته ننوتلو، موزیک پکې پلې و، ځوانو هلکانو او نجونو شراب خورګي پکې کوله، بیا به ګډ سره نڅېدل، دوی خو هسې پکې ډوب و، د سیل بینو شهوت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په چټکۍ سره راپاروه، سالون کې تر څه وخت تېرولو وروسته راووتلو، راسره ملګرو مخامخ سینما ته د تلو ووېل، زما یې چې د دروازې له پاسه په خورا ورانو تصویرونو سترګې ولګېدې، پوه شوم چې دننه کیسه سمه خرابه ده، عین حال کې د وطن د ملایانو هغه خبره هم یاد ته راغله چې ویل به یې: سینما کې که څوک مړ شي بې ایمانه له دنیا تېرېږي.

همدا و، سره له دې چې د جنسي تحریکاتو له کبله مې وینه هم د جوش په وروستۍ نقطه کې وه، اما الله ج شاهد دی، سنیما ته له ورسره تللو نه مې انکار وکړ، دوی ډېر راته ووېل چې ورسره لاړ شم، خو د چا خبره ما یوه موزه کې دواړه پښې تخته کړې، په خپل انکار مې کلک ودرېدم، په دې سره دوی د کلیوال ساده یا شادګلي نادیده هلک په صفت ډېرې ټوکې او خنداوې هم راپورې وکړې، بالاخره لارې مو سره جلا کړې، دوی مې پرېښودل، زه یوازې همغه شپه کې اطاق ته ترې راغلم.

هند کې مې لس پنځلس ورځې تېرې شوې، لا هم د ناروغۍ تشخیص نه و شوی، د معایناتو په کولو لګیا وم، دې جریان کې یوه جالبه دا وشوه چې یوه ورځ متخصص ډاکتر د تلوېزوني معاینې پارچه راکړه، کله چې د تلوېزوني معایناتو شبعه ته ورغلم، د ننه بل ناروغ و، دهلېزه کې ورته منتظر شوم، ترجمان مې لاړو، یو بل ناروغ یې هم لاره، ماته یې وېل: تر څو نوبت درځي، زه راځم.

دی لا نه و راغلی چې نوبت راورسېده، بې ترجمانه معاینه خانې ته ورننوتلم، دوې نازکې ښځینه ډاکترانې ناستې وې، یوې څه راته ووېل په خبره یې پوه نشوم، خو د سترګو او سر له حرکته یې پوه شوم چې وایي: په چپرکټ پرېوځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې له حکم سره سم په چيرکټ اوږد ورته وغځېدم، زما تر څنګ کمپيوټر ته ناستې ډاکترې بيا څه ووېل، پوه نشوم، يوازې رڼه، رڼه مې ورته کتل، خپله خبره يې تکرار کړه، دا ځل هم چې خاموش يا پرته له عکسلعمل ښودلو غلی پاتې شوم، ډاکترانې پوه شوې، چې په ژبه مو نه پوهېږي، خپله يې لاس راوړاندې کړ، د مخې لمن مې يې لږ پورته راکش کړه، زه يې پوه کړم، چې ګويا ګېډه دې لوڅه کړه، زر مې لاس ورواچاوه، لمن مې ان تر غاړې راپورته کړه، ډاکترې معاينه شروع کړه، په ګيډه او سينه مې يې په ښويه سرښناکه ماده ککړه آله هاخوا دېخوا ښويوله، څو شيبې وروسته يې بيا څه ووېل، زه يې چې په خبره پوه نشوم، يوې او بلې ته يې وکتل، موسکۍ شوې، بالاخره مجبوره شوه، کمپيوټر ته ناستې ډاکترې يو ځل بيا لاس راوړه، د پرتوګاښ په غوټه (ګنډه) مې يې ګوته کېښوده وخوځوله، ددې مطلب دا و چې ګواکې د پرتوګاښ غوټه دې لږ سسته کړه، چې د نامه تر غوټۍ لاندې د پوستن يا سپاخه ساحه هم معاينه شي.

خو څنګه مې چې وړاندې هم ووېل، د ناروغۍ په لمړيو کې به تر ټولو سخته دا وه راته چې ډاکترانو به مې پرتوګ راباندې ښوياوه جنسي غړي به مې يې کتل، ان اکثريت وخت به مې ژړل، خو د ناروغۍ په اوږدېدو او وخت په تېرېدو سره يې داسې بلد کړم، چې ډاکتر به هسې راوکتل، ما به پرتوګ ورته ښويولی و، دلته مې هم چې ډاکترې د پرتوګاښ غوټه وخوځوله، ما فکر وکړ چې حتماً سامانونو کې يې کار دی، همدا و چې د غوټې خلاصولو سره سم مې پارتوګ ان تر ګونډو ورته تېر کړ، د دوی چغ او پوغ شو: هااا هااا... نور هم څه کړتېدلې، په خبره يې نه پوهېدم، زر يوې لاس راتېر کړ، پرتوګ مې يې واپس پورته راکش کړ، شيان يې پټ کړل، يوازې د نامه تر غوټۍ لاندې دومره برخه يې لوڅه پرېښوده، چې آله پرې ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سره زښته ډېر ترې خجالت شوم، له شرمه مې تر اخيره سترګې پټې نيولې وې، د معاينې له خلاصېدو وروسته چې راووتلم، د روغتون په اوږده دهلېزه کې وړاندې مې ترجمان راروان و، د سترګو راباندې لګېدو سره سم يې کړل: هغه بل مريض راونه وتلو؟

ماوېل: کور دې لا له مريض سره وران شه، راځه معاينه وشوه! نوموړی چې اصلاً افغانی د هرات ولايت و، فعلاً فاميلي هند کې اوسېدل، که څه هم عمر يې له څورلس، پنځلسو کلونو زيات نه و، خو ډېر هوښيار او چالاکه هلک و، په يو وخت يې د څو ناروغانو ترجماني کوله، پيسې يې ترې اخيستې. له بېخونده ځواب او خبرې مې پوه شو چې سرې ګلان کرلي، زر زر يې په مندۍ خوله بهانې چونې شروع کړې: وبښه! يو سپينږيری افغانی ناروغ و، هېڅوک يې نه لرل، په ژبه هم نه پوهېده، له هغو سره لږ کمک شوم...

خلاصه شاوخوا شل ورځې مې هند کې پوره شوې، لا هم په معايناتو لګيا وم، ولې ښه و، ددې شلو ورځو په لړ کې څه ناڅه بلد شوی وم، بلخوا د لوڅو ښځو سره مې هم يوه اندازه عادت پيداکړی و، په ليدلو مې يې د لمړيو ورځو په شان ډېر جذبات نه راپارېدل، اګر چې نامحرم نارينه او ښځې د خپل فطرت له مخې هېڅ وخت نشي سره عادت کېدلی، دوی به تل يو بل ته قوي تمايل لري، خاصتاً هغه صورت کې چې د ښځو د بدن نامحرم غړي لوڅ وي، همدا ده چې اسلام مبارک دين خپلو پيروانو ته د نامحرمو ښځو او نارينو تر منځ د ستر کولو او حجاب حکم کړی.

خو په هر راز چې خبره بلخوا لاړه نشي، د څو نورو ورځو شپو په تېرېدو سره مې د اکثريت معايناتو نتايج راووتل، مګر لا هم تشخيص معلوم نشو، بالاخره د لمفديما

(c) ketabton.com: The Digital Library



( Lymphedema)په نوم ناروغۍ معاينات يې راته وليکل، کوم چې پاکستانيو ډاکترانو په توافق سره زما ناروغي لمفديما ګڼلې وه او راته ويلي يې و، چې ددې ناروغۍ علاج نه کيږي، ناهيلی يې کور ته رالېږلی وم.

خو بيا هم د پاکستانيو ډاکترانو د تشخيص په دقت ځکه ډېر باوري نه وم، چې دا يوازې د ناروغۍ د علايمو له مخې د دوی مشکوک نظر و، د يادې ناروغۍ معاينات يې نه لرل، ترڅو سل سلنه مطمين تشخيص يې کړی وی.

مګر هندوان مجهز و، د هېڅ نوعه معايناتو په برخه کې يې کمی نه لاره، زما د همدې معايناتو په شمول اکثريت معاينات خپله په مکس روغتون کې کېدل، هسې د يو نيم لپاره به که کوم بل ځای ته ضرورت شو.

لنډه دا چې ترجمان مې تر مخ شو، د لمفديما ناروغۍ د معاينې مربوطه شبعې ته ورغلو، هلته مسول ډاکتر په يوه لويه او اوږده دستګاه کې څملوم، د دواړو پښو د غټو ګوتو په سرونو يې يو قسم له سور رنګه مايع ډکې پېچکارۍ (سرنج) راکړې، د دغه سور رنګې مايع جريان د پښو په رګونو کې د دستګاه په پورتنۍ برخه کې د نصف شو کېمرو په وسيله تعقيبېده، نوموړې سره مايع چې تر ګونډو ورسېده، نور ودرېده، له دردېدو سره سم يې دستګاه اتومات عکسونه واخيستل، همدا عکسونه او ليکلی راپور مې يې متخصص ډاکتر ته راوړل، ډاکتر يې په ليدلو سره د خواشينۍ په پار سر وخوځاوه، د ژباړن په خوله يې راته کړل: دا يو نوعه ناروغي ده، چې په بدن کې د اوبو د تنظيم سيستم تخريبوي، خو متاسفانه اساسي درملنه يې نه کيږي، يوازې د وقايه په صفت يو قسم اوږدې کشي جرابلې لري او يو هم د پښو لپاره مخصوص د ماساژ ماشين دی، که غواړې؟ زه به يې درته وليکم، د ماشين په ذريعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر سهار يو ساعت مساج ممکن د ورځې په اوږدو کې د پښو د پړسوب او درد د کموالي په برخه کې څه مرسته درسره وکړي.

جرابلې او ماشين مې پرې وليکل، زړه ماتی يې له معاينه خانې راووتلم، د ښه ځان باوري کولو په موخه سبا يوه بل مخکښ روغتون ته ولاړم، ډاکتر ته مې همدا د مکس وروستي معاينات وښودل، دې هم همغه خبره راته وکړه، چې ګويا دا ناروغي تداوي نه لري.

پس طبعاً د خپل صحت په اړه داسې ناهيلې او روحيات وژونکې خبره په هر انسان له حده زياته درنه تماميږي. ماته يې هم چرس راوڅکول. که څه هم دا لمړی ځل نه و، عين خبره مې د پاکستان له ډاکترانو هم اورېدلې وه، خو هغه زمان يې ډېره اغېزه ځکه راباندې ونکړه، چې نسبتاً وړوکی وم، دومره قوي احساس مې نه لاره، ترڅو د نن په شان د خپل راتلونکې د تباهی ټول تصوير مې يې سترګو ته درولی وی.

ګنګس او زنګېدلی له روغتونه راووتم، نور کوم بل ډاکتر ماکتر پسې هم ونه ګرځېدم، هند ته راوړې ټولې هيلې او خوشبينی مې په کفن کړې، د ژباړونکې حساب مې خلاص کړ، د شپې مې خپل لباسونه راټول کړل، سهار مې ټيکټ واخيست، راروان شوم، څنګه مې چې وړې وې همغه شان دردمنې او پړسېدلې پښې مې واپس خپلې خاورينې جونګړې ته راوړې، والله علم چې د مور او پلار په زړونو به مې څه تېر شوي وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تور سپي پوست

له هند نه تر راتلو څه وخت وروسته مې د ماما خسر راغللی و، نوموړی مې د مور ناسکه کاکا هم کېده، واده يې د شمالي و، له دې کبله دده هم ډېر عمر په شمالي کې تېر شوی و، فعلاً يې هم کور هلته و، لکه نن کله، کله يا څو کالونه پس به په يوه ښه او بده کې وطن ته راتله، ډېر نيک او ارام سړی و، ښه ژبه يې لرله، له دې خاطره مور ډېر درناوی ورته لاره، د حويلۍ په برنډه، د پيرکي (بولاني) خوړلو په مهال مې مور په خورا زياتو ډاکترانو، ملايانو، زيارتونو... د درملنې په پار زما د ګرځولو کيسه ورته کوله.

د کيسې تر خلاصېدو وروسته، يې مېلمه کاکا د يوې اوږدې مقدمې په بڼه د خپلې همدردۍ او خواشينۍ ورسره شريکولو او تسليت په پار زياته کړه: خير، الله مهربان دی ښه به شي، خدای ج هره فيصله د بنده په خير کوي، ملايان وايي: که حساب ته شي، په خپلو عملونو هېڅوک هم جنت ته نشي تللی، مګر کله چې د الله ج خپل کوم بندګان خوښ شي، د ښنلو او په اخيرت کې له ټولو نه د ښه مقام ورکولو اراده يې وکړي؛ په دنيا کې تر ټول غټ موصيبتونه هم پر همغه کسانو راولي، ترڅو د محشر په ورځ يې بيا د مصايبو د اجر په مقابل کې هغه ورته ټاکلی مقام ورکړي.

همدارنګه په حديث شريف کې راځي: چا ته چې په دنيا کې اغزی هم ورچوخ شوی وي، په اخيرت به يې الله ج اجر ورکړي.

ها! نو چې د يوه اغزي اجر شته، پس ته فکر وکړه، د يو چا اولاد چې داسې سخت ناروغ وي، کالونه کالونه يې د دنيا په ډاکترانو، ملايانو، زيارتونو او حکيمانو وګرځوي، بيا هم روغ نشي، د هغو به څومره اجر وي؟ يقين وکړه، ستاسو ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ خصوصاً ته چې د مور په صفت تر ټولو زياته پرې دردېدلې يې، ددغه ناروغ زوی د اجر په بدل کې به دې الله ج ټول ګناهونه درته وبښي، بې سواله ځوابه به دې جنت ته داخله کړي؛ دا دنيا دوې شپې ده، ډېر زر به تېره شي، هوش کوه چې بې صبري درنه ونه شي.

د تندي له غوړېدو يې ښکارېده، چې خبرې مې يې مور ته ښې ورولګېدې، د مننې په پار يې ورغبرګه کړه: خيريوسې ددکه! زړه مې د راتکيه کړ، رښتيا دردونه او خفګانونه خو مو زښته زيات وسره تېر کړل، اجر يې دې الله ج نه ضايعه کوي.

مجلس يو ځل بيا هم زما په ناروغۍ متمرکز شو، اخير کې ميلمه په نرمې موسکا سره کړل: شمالي کې هم ډېر تجربه کار او بلا خلک پيدا کېږي.

په همدې زمينه سازۍ يې د يوه نفر کيسه شروع کړه، چې ګويا ډېر سخت ناروغ و، کورنۍ يې لکه نعيم جان د ټولې دنيا په ډاکترانو، ملايانو فالبينانو... وګرځاوه، جوړ نه شو، بله ورځ يې تور سپی ورته وژلی و، په تازه ترې ايستلي پوست کې يې ناروغ پټ کړی و، څه وخت پس مې يې چې پوښتنه وکړه، وېل يې: د همغه تور سپي له پوست سره جوړ او روغ شو. مېلمه زياته کړه: دوی يوه اصطلاح لري (مرض بد دوايې بد) يعني کله چې مرض په بد واوړي، بيا دواوې او تعويذونه اثر نه پرې کوي، يوازې په همغه شان بد او مردار شي يې درملنه کېږي.

تقريبا عيني هغه د کشف د هګۍ واله ښځې خبره يې وکړه.

خو په هر راز، څنګه چې انسان ته فطرتاً د هغه چا ناسمې خبرې هم سمې ښکاري چې ښه يې ايسي، همدا و چې زما مور ته يې هم د ناسکه کاکا سره د مينې لرلو له مخې په خبره کې حکمت ښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کې يې ورته کړل: خدای ج دې دی ورسره جوړ کړي، چې دومره کارونه مو وکړل، يو د تور سپي پوست هم سخت نه دی.

زما زړه ته نه لوېده، فکر مې کاوه، چې مور مې په دې خبرو هسې له مېلمه سره مجلس روان ساتي، د سپي په پوست کې مې چېرې پټوي.؟

اما چې کټل مې د مېلمه له تلو وروسته يې هم خبره جدي نيولې وه، تر ډېره وخته يې خوله کې اړوه رااړوه، خو ښه و، تر څو چې همايون ته تور سپی په ګوتو ورتلو او مور مې يې د کاکا خبرو ته د عمل جامې وراغوستې، کله مو کابل ته راغله، خوشبختانه د تور سپي د پوست معامله پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوکانداري

کابل ته مو د کډې په راتلو سره، څنګه چې تاسو پوهېږئ، ښار کې بې مصروفيته ژوند سخت وي، د کلي غونډې باغونه، مجلسي مسجدونه او پيتاوي نه لري، چې د بېکاره خلکو وخت پکې تېر شي، دغه و چې زه هم له خپله وسه سره سم، د يو مصروفيت په فکر کې شوم، که څه هم يوه معلمي يا کوم بل وړوکی ماموريت مې پيدا کولای شوی، خو له بده مرغه رسمي دندې او حاضرۍ ته د ځان رسول رارسول يې هم په هر حال، غم دا و چې د پښو د درد او پړسوب سربېره، د ناروغۍ يوه بدترينه ځانګېړنه مې دا وه، چې تر نيم ايلا يو ساعت زيات په چوکۍ د کيناستو تاب مې هم نه لاره؛ چون په چوکۍ تر شل دقيقې زيات کېناستو سره به مې د پورتني بدن اوبه هم پښو ته ښکته شوې، په دې سره به د پښو پړسوب او سوخت يو په دوه شو، برعکس پاسنۍ تنه کې به مې د اوبو د کمښت له وجې د وينې فشار دومره زيات ټيټ شو، چې ان خوله کې به مې ژبه وچه کلکه او غوږونه به مې هم ډپ شول.

دغه و چې رسمي دنده يا هم د چا تر لاس لاندې د وخت پابند کار مې نشوی کولای، نو ښه مې دا وګڼله چې يوه سپکه دوکاندري شروع کړم، يو چپرکټ به پکې کېږدم، چې مشتري راتلو ورجګېږم به، نور به مې له خپل طبيعت سره سم، څنګه چې راحت وم، که کېناستم کېنم به، که پرېوتم پرېوځم به، حتا که کومه ورځ زيات ناروغ وم، هېڅ به نه ورځم، د چا غږ به نه وي راپسې.

خبره مې له پلار سره شريکه کړه، پلار ته مې هم منطقي ښکاره شوه، وطن کې مو د منو باغ تازه خرڅ شوی و، څه پيسې د منو وې، همايون دا وخت ښه دنده لرله، څه پيسې ده راوړې وې، د پلار په همکارۍ مې د کمپنۍ بازار کې يو کوچنی دوکان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرايه ونيوه، هلته د يو شناخته دوکاندار په مشوره مې د ښځينه لباسونو، يخن، پيتي، چرمې، ګلان همداسې د ښځينه جامو د خياطۍ مربوطه هر نوعه شيان پکې واچول، که څه هم دوکان بد نه و، نسبتاً عايد يې لاره، خو متاسفانه څنګه چې ما فکر کړی و، د ښار دوکانداري دومره اسانه نه وه، يو فعال او چسپ دوکاندار يې غوښت، ترڅو له سهاره تر بېګاه په دوو پښو ولاړ وی، هره ورځ سهار وختي يې ځان ورسولی وی، څو چې خلک بازار ته راوتلی، ده يې دوکان منظم کړی وی، همداسې د شپې تر ډېره يې بايد دوکان خلاص وی، دغه راز د هرې يوې، يا دوو ورځو د پلورل شو مالونو په پيسو يې تازه مال راوړی وی.

اما بدبختانه سره له دې چې ما ټوله هڅه کوله، مګر بيا مې هم رسيدګي ونشوی کولای، هر څومره وختي به چې وروان شوم، تر اووه نيمو، آتو بجو مخکې دوکان ته نشوی رسېدلی، څو به مې لږ دمه جوړوه، بيا به مې دوکان منظمه و، نيمه ورځ به شوه، مازيګر هم مجبور وم، چې وختي يې بند کړم، چون تر ماخوستنه مې ايله کور ته ځان رسولی وی، همداسې د پلورل شويو مالونو په پيسو مې هم واپس په خپل وخت نور مالونه نشوی ورته رارسولی، که پلار يا کوم بل چا ته به مې پيسې ورکړې، هغوی نه پرې پوهېدل، د ورځني موډ سره سم مال يې نشوی راوړلای، د منډوي عمده فروشانو به ټول هغه تاريخ تيري مالونه پرې پلوري و، چې په دوی به تاوان و، همدا و چې د خپلې بې صحتۍ او نه رسيدګۍ له وجې ډېر سخت راباندې بوج شو.

بالاخره اوه، اته مياشتې وروسته مې په څه ناڅه تاوان سره مارکېټ کې په يو بل دوکاندار خرڅ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په هر ترتيب اصلاً د دوکانداری کیسه مې په ناروغۍ پورې تړلې د همغه مهال اړوند دوو جلا جلا ( د باغ داود پيران) او (نداف ملا) خاطرو د مقدمې په پار رااخسيتې، راځئ تر بېل بېل عنوان لاندې به يې پرله پسې درسره شريکې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نداف ملا

یوه ورځ له وطن نه راغلی، یو شناخته کس دوکان ته راغی، مېرمن يې ناروغه وه، زموږ د مارکېټ شاته د یو نداف دوکان و، د ندافۍ تر څنګ يې د دم، دعا او تعویذونو کار هم کاوه، ما لیدلی نه و، صرف په اړه مې يې اورېدلي و، دوکان ته راغلي شناخته کس يې خپله میرمن یوه میاشت وړاندې ورته راوستلې وه، د نداف د توصیه سره سم اوس يې د دویم ځل لپاره بیا ورته راوستلې وه، سرې يې ډېرې غورې وکړې، چې ګویا پیریان لري، ډېر ښه حال وايي، پیسې هم خدای ج او وس چې هر څو دې ورکړې، ښځه مې په ډاکترانو ډېره وګرځوله، ښه نشوه، یوه میاشت مخکې چې دې ملا دم کړه، ځاښتونه يې ورته وکړل، ډېر فرق يې ورسره کړی، دا ځل به ان شاءالله بېخي ښه شي.

ما يې خبره هسې بابیزه وګڼله، څو ورځې پس مې چې کتل، له پکتیا نه ماته د مخامخ دوکاندار شناخته ناروغان ورته راغلي و، دوی يې هم ډېر صفتونه وکړل، ان وېل يې: څنګه چې په ناروغ ورچوف کړي، بدن يې سپک شي او د درد کموالی محسوس کړي.

همداسې نور وخت ناوخت به مې يې د یوه او بل له خولې غورې اورېدې او ورته راروان ناروغان به مې لیدل.

دغه و چې بله ورځ زړه کې راتېره شوه: سړیه! خلک له لرې، لرې ولایاتو منډې ورته راوهي، طبعاً څه کمال به وي پکې، یو قدم لار ده، ته راځه یو چکر ورشه، چې ستا په ناروغۍ کې څه وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و چې سبا ورغلم، نداف د دوکان په منځ کې پرده اچولې وه، له پردې هاخوا يې تعويذات، قلم او کاغذونه و، دم دعا يې کول، دېخوا پختې او د ندافۍ وسايل و، فعلاً يې هم يو ښځه له پردې هاخوا ننستلې وه، دم دعا يې ورته کول، زه خپل نوبت ته منتظر د مخامخ بلاک تر رفق لاندې کېناستم، يو بل ځوان هم موټر ودراوه؛ دی هم نداف ته د دم او دعا لپاره راغلی و، د ښځې له راوتلو وروسته دواړه جوړه ورننوتلو، نداف د اوسط عمر لرونکی له قده ټيټ نسبتاً چاغ سړی و، د پختې ګرد او دوړې پرې ناست و، يوه خړ رنګې زړه لونګۍ يې په سر وه، د سلام په وراچولو سره يې دواړه تر مخ کېناستو، لمړی نوبت مې دې بل ځوان ته ورکړ.

د نومورړي ځوان دا ځووم ځل و چې ورته راغلی و، دا پيره يې يوه د نقرې ګوتمۍ راوړې وه، نه پوهېږم چې غمی به يې څه و؟ اصلاً تېر ځل د همداسې يوې نقريې ګوتمۍ د راوړلو فرمايش نداف ورکړی و، ځوان ګوتمۍ ورويستله، نداف دمونه کوف او چوف پرې شروع کړل، وخت يې ونيوه، زښته زيات دمونه يې پرې ووېل، وروسته يې د ځوان ګوتې ته د وراچولو په مهال ورته کړل:

- کله چې مجلس کې کيناستلې لاس دې د ګونډې په سر يا غېږه کې په داسې ډول ايږده چې د ګوتمۍ غمی دې په مجلس کې ناستو خلکو ته مخامخ شي، په دې سره به په ناستو کسانو ستا ډېر لوی اثر پرېوځي، ته به نه يوازې دوی ته ډېر ښکلی ښکارې، بلکې په مجلس به دې ډېر هيبت هم خور وي، هېڅ څوک به دې نه د خبرې د رد جرئت ولري او نه به دې په وړاندې لوړ وغږېدلی شي... داسې ډېرې نورې اپلتې يې ورته وغږولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلک موټر، لباس او ځوانۍ ته په کتو، ښه پیسداره او بیدار ځوان ښکارېده، خو د نداف په جال کې داسې کلک بندېده ته په نظر کولو سره یې، تر ما هم ډېر ساده و. له نداف نه د ډېرې مننې او درناوي په کولو سره یې جیب ته لاس کړ، نه پوهېږم چې یو زرګون و، که منځ کې به یې بل هم و، ځنګ ته د کتابونو په سر تر قات شوي جاینماز یې ورته لاندې کړ.

د ځوان له وتلو وروسته، ما له خپلو پړسېدلو پښو پایڅې ورته پورته کړې، بیا مې یې د ناروغۍ د اوږدې مخینې او پرې کړو ډېرو ډول، ډول تداویو کیسه ورته وکړه.

نداف لمړی پوښتنې وکړې:

- د کوم ځای یې؟

- د وردګو!

- واده دې کړی؟

- نه!

- ولې؟

- له داسې ناروغۍ سره کله سړی دومره لوی مسولیت په غاړه اخیستی شي!

ملا د خواخوږۍ په پار د نڅه، نڅه په کولو سره، په مغرورانه ډول راغبرګه کړه: لویه سهوه خو دې دا ده، چې د ناروغۍ دې دومره کالونه وتلي، تر هند او پاکستان تېر شوی یې، مګر ماته ایله نن راغلې؛ خو څه ښه شوه چې پته درته لګېدلې، لکه ځنګه چې ګرځېدلی یې، که بار بار نور هم د دنیا په ډاکترانو، ملایانو، زیارتونو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګرځي، بیا به یې هم نتیجه صفر وي، ولې چې اصلاً ستا د ناروغۍ علاج د انس مخلوق له عقل ورسېدو او پوهې ډېره اوچته خبره ده، صرف په جنیاتو کې یوازې یو نوعه ډېر ماهر جنیات دی، چې ستا او ستا ناروغۍ ته ورته نورو هغه ناروغیو علاج کولی شي، چې انس یې په علاج کولو کې اجر دی. پس ته چورت مه وهه، هغه جنیات زما خبره نشي ردولی، زه به په یو کاغذ کلمات درته ولیکم، د موبایل شماره مې هم درسره واخله، بېګا ته چې خپلې بسترې ته ولاړې، په کاغذ لیکلې کلمات دې له سر سره کېږده، ماته زنګ وکړه، زه جنیات درلېږم، دوی به ستا وجود ته داخل شي، رګ په رګ به دې چک کړي، هر ځای دې چې مشکل وي، حل به یې کړي، په داسې حال کې چې ته به یې هېڅ درد احساس نکړې، یوازنۍ نښه چې ته یې محسوسولی شې، هغه به دا وي، کله چې سهار راجګ شې، د خولې خوند به دې ډېر خراب وي، دا په دې معنا چې عملیات شوی. پس کرار کرار د څو ورځو شپو په تېرېدو سره به دې د پښو درد، پړسوب او د ناروغۍ نور ټول منفي اثرات له منځه لاړ شي. د ټوکې په پار یې پسې زیاته کړه: بیا به نو د یوې ښې غوړې پیغلې سره واده وکړې، هره شپه چې توده برستن کې ورننوځې ماته به دعاګانې کوې.

موسکی شوم، کاغذ مې ترې راواخیست.

کیسه له سره د لوګري ملا او پیریانو په وسیله د عملیات په شان خرافاتي راته ښکاره شوه، یقین مې ورته ونشو، څو روپۍ شکرانه مې ورکړه، له (تاویذاتُ الندافخانې) راووتم، چې کتل مې د دوکان تر مخ یې دوې نورې ښځې هم خپل نوبت ته معطل وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماركيټ ته چې راغلم، يو دوكاندار حاجي ته مې كيسه وكړه، حاجي ښه سړى و، په موړ به يې ناز چلېده، يوه نيمه ټوكه به يې كوله، د نداف د كيسې په اورېدو سره يې خندا كې كړل: اوس خو دې دا بد كړي، ورغلى يې، نو څه يې چې درته ويلي، عملي يې كړه، خلك خو زښته ډېر ورته راځي، كېدى شي ستا هم همدا سبب شي.

د عملي كولو قصد مې يې نه لاره، خو د حاجي خبره مې ومنله، بېګاه ته چې بستره كې ننوتلم، د كلماتو كاغذ مې تر سر پورې كېښود، ملا نداف ته مې زنګ وكړ، له سلام او ځان ورمعرفي كولو وروسته مې په بستره كې د پرېوتلو او كاغذ له سر سره اېښودو، ورته ووېل. نداف كړل:

سمده بېغمه ويده شه، ملګري مې فعلاً د يو بل عاجل ناروغ درملنې ته لېږلي، چې له هغه نه راوزګار شول، ستا نوبت دى.

زه هم بېغه ويده شوم، چون ما ددې ټګانو زياتې تجربې لرلې، باور مې نه پرې كېده، چې رښتيا دې راشي، همغه كيسه شوه، سهار چې راجګ شوم، كاغذ مې تر سر پورې په خپل ځاى پروت و، هېڅ كومه نوې خبره نه وه، يوازې د خولې په بد خوندئ مې لږ شكي شوم، چون نداف راته ويلي و چې سهار به دې د خولې خوند ډېر خراب وي، ولې بيا مې چې نورې ورځې پام ورته وكړ، هر سهار به مې د خولې خوند خراب و، مګر تر دې مخكې زه نه وم ورته متوجه شوى. يعني په ټول كې دا هم د خلكو د دوكه كولو په پار د نداف يو هنر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د باغ داود پیرخانه

دغه راز د دوکانداری په مهال یو لغمانی همسایه دوکاندار مې له ډېره وخته راپسې و، وېل يې: باغ داود کې یو ملا دی، ته ورشه ډېر نیک سړی دی، زیات ناروغان يې له دم او دعا سره ښه شوي.

نه ورتلم، ولې چې ماته به د هر ملا او زیارت له دې ډېر صفتونه شوي و، خو چې وربه غلم، فقط په یو نوعه نه، یو نوعه به يې کم او زیاتې پیسې رانه وشکولې، نور به یې نه په دعا کې اثر و، نه په تعویذ کې.

بله ورځ همدې دوکاندار په موترسکیل ورپسې سپور کړم، سیده يې باغ داود ته بوتلم، یوه لویه حویلي وه، چې ورننوتلو، په لسګونه سپین پګړیو ملایانو مې سترګې ولګېدې، اصلاً دا پیرخانه وه، پیر او لسکونه مریدان پکې و، که څه هم زه تر دې دمه نه وم پرې پوه، خو خپله همدا زما همسایه دوکاندر يې هم مرید و، اصلي لوی پیر يې په ذکر اخته و، یو بل دویمه درجه مخکښ ملا ته يې وروستلم، دې ته هم د مریدانو لخوا ډېر درناوی کېده، لاسونه يې مچو کول، راسره تللي دوکاندر زما پښې ورته وښودې، د اوږدې ناروغۍ او دواګانو د کار نه ورکولو په اړه يې هم ورته ووېل.

ملا مې تر مخ شو، یو وړوکي ګوښي اطاق ته يې ننیستلم، لمړی يې اوږده دمونه په پښو ورچوف کړل، بیا يې قلم او کتابچه راوخیستل، په یو کاغذ يې د خوګ شکل ته ورته چاغ چاغ په یو ډول د اوږ (۷) حیواناتو څېرې رسم کړې، سرونه يې د انسان ورکړل، سترګې، خوله، پوزه هر څه يې پکې منظم کړل، لوړې لوړې خولۍ يې ورپه سر کړې، بیا يې د هرې رسم شوې څېرې کاغذ جلا جلا قات کړ، په فارسي يې راته وېل: هر سهار به له دې کاغذونو یو، یو د سپیلني له دانو سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دودوې، له پاسه به دې لمن پرې نیسي، تر څو دود یې کمیس کې درننوځي او له یخن نه دې ووځي.

فکر کړم پنځوس روپۍ شکرانه مې ورکړه، خوله یې بده ونیوه، لږ وې خوند یې ورنکړ، خو ښه و، نورې یې هم ونه غوښتې، له راجګېدو سره یې یو چاپ شوی تبلیغاتي کارت هم راته ونیوه، نوم، ادرس او تر سرطان پورې د لسګونه ګوناګون سختو او ناعلاج ناروغیو نومونه یې پرې لیکلي و، چې ګواکې ددې ټولو علاج کولی شم، د کارت سربېره په خوله یې هم راپه غوږ کړه، چې دلته د څو شپو لپاره میلمه راغلی یم، کارت کې آدرس شته، کور مې مزار کې دی، هر ډول ناروغ مو چې لاره، هلته یې راولئ، زه مو خدمت کې یم.

واپس چې مارکېټ ته راغلو، دوکاندار ملګري ته مې کړل: غرق نشې لا ددې ملا سره، په ځای ددې چې تعویذ او څابښتونو کې یې د قرانکریم کوم سورت شریف یا څو ایاتونه راته لیکلي وی، ده د خوګانو څېرې راته رسم کړې.

نوموړی یې چې مرید و، تر اندازه زیاته عقیده او درناوی یې ورته لاره، په اړه یې یوه تېزه خبره نشوی تحملولی، په تونده یې راغبرګه کړه: پیر صاحب ته توهین مه کوه، الله ج به دې حال تر دې بتره کړي. له همدې خبرې سره یې ځنګ راکړ، خپل دوکان ته ننوتلو.

په خبرو او څېره کې مې یې د غوسې تر ځنګ خفګان درک کړ، په خپله خبره پښېمانه شوم، چون ملا که هر ځنګه و، یا یې هر څه راته رسم کړي و، مګر ده چې دوکان پرېښود، وخت یې ضایعه کړ، په موټرسکل یې تېل مصرف کړل، ټول زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحت لپاره، همدا و چې پسې ورغلم، واپس مې خوشحاله کړ، چې ګويا زه خو له تاسره ټوکې کوم.

وېل يې: څه چې پير صاحب درته ووېل، حتماً دا کار وکړه، کومې رسامۍ يې چې تاته کړې، د خوګانو رسامۍ نه دي، دا د شيطان لعين د اووه نسله وړاندې تر ننه د لوی نيکه او مشرانو څېرې دي، کله يې چې يو ناروغ تر خپله لمن لاندې دود کړي، په بدن کې يې هغه خبيثه وينه وچېږي، کوم چې د انسان په وجود کې د بېلا بېلو مرضونو لامل کېږي، همداسې د سحر، نظر او جنياتو د اثر له کبله هم که کومه ناروغي راپيدا شوې وي، له منځه يې وړي.

خبرې يې له تعجب ډکې او نوې وې، وعده مې ورسره وکړه چې تا راسره ايستلی زحمت به بابيز نکړم، څنګه چې پير صاحب ووېل، همغه شان به يې له سپيلني سره دود کړم.

کور ته چې راغلم، مور ته مې د کيسې په کولو سره کاغذونه ورکړل، سره ددې چې په کاغذونو کې د ترسيم شو حيواناتو څېرو ته دې هم ښه وخندل، خو بيا هم هر سهار له لمر ختلو مخکې به يې چې اور او د سپيلني دانې تيار کړل، غږ به يې راوکړ. څنګه چې پير صاحب وېلي و، ټولې کاغذي پلتې مو په همغه ترتيب ودودولې، خو له بده مرغه خبيثه وينه يې پکې وچه نشوی کړی، پښې په همغه خپل خره سپرې پاتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نيازبيک کوچۍ

کابل ته د راکډه کېدو دويم کال مو و، څنګه چې يو خوا زما پښې له ځايه پښې نه وې، بلخوا کور مو د علي اباد روغتون شاته، پاس په غره کې و؛ چې راکوز به شوم، بيا ورختل راته شين غضب و. همدا و چې هفته کې هم يو ځل له کوره نشوی راوتلی، زړه مې ډېر زيات تنګ و، ددې حالت په اوږدېدو سره مې کرار کرار رواني وضعيت هم تغير وکړ، له ټولنې خو هسې لرې وم، په خپل کور کې يې هم يو نوعه د ګوشه نشينۍ لور ته سوق کړم، ډېری وخت به د کورنۍ له غړو جلا په بل اطاق کې اوسېدم، زيات وخت مې په خوب تېرېده، که ويښ به هم وم، په موبايل يا تلوېزون به مې ځان مصروف کړی و، ان د سيمکارت په بدلولو سره مې د ملګرو دوستانو ټولو شناخته کسانو سره هم تماس پرې کړ، همدې حساس وخت کې مو د دوستانو له جملې يوه ميلمنه راکره راغله، نوموړې ميلمنه که څه هم سکه خاله مې نه وه، خو په ما ډېره ګرانه ده، خاله ورته وايم، د غږ په اورېدو يې خوشحاله شوم، ويښته او جامې مې منظم کړل، اطاق ته يې ورغلم؛ تر سلام کلام وروسته مې يې د ناروغۍ او پښو د درد په اړه رانه وپوښتل، بيا يې نيازبيک کې د کوچۍ په نوم يوې ښځې د فال کتلو او هر ډول ناروغانو په درملنه کې د موفقتيا ډېرې غورې وکړې. خپله د دوی په دوستانو کې يې داسې کوم ناروغ وروستلی و، چې ډېر زيات ډاکتران يې په علاج کولو کې پړ شوي و، ددې په خبره د کوچۍ له درملنې سره جوړ او روغ شوی و، اوس يې د کابل کندهار په لين باربري موټر چلاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ددې چې موږ ته به دايم هر کوډګر او سحرګر په ډېرو صفتونو اولياء راپېژندل شوی و، اما چې وربه غلو، هر څه به دروغ و، فقط او فقط په يو نوعه به يې له خلکو نه د پيسو شکولو لپاره چل او ټګماري روانه کړې وه.

خو بيا هم د خاله له خولې په مزه مزه د کيسې په اورېدو سره مې د صحت په مړو هيلو کې څه ساه محسوسه کړه، آدرس ترې اخيستلو ته يې وادار کړم، د کوچۍ کار هم څنګه مو چې د کتاب په مخکينيو صفحو کې ولوستل، هغه نورو ښځينه فعل کتونکو ته ورته و، چون ميلمنې وېل: نارينه بايد د خپلې کورنۍ د ښځينه غړو په لاس خپل يو لباس وروليږي، مستقيماً د نارينو کار نه کوي.

ددې خبرې په کولو سره يې، د هغه نورو تعويذګرو ښځو ناکامې تجربې ته په پام مې، تر ډېره مې طمعه ترې پرې شوه؛ کيسه مې يې له ميلمنې سره هم شريکه کړه، چې ګواکې داسې ښځو ته زه مخکې هم څو ځل تللی يم.

په ځواب کې يې راغبرګه کړه: هغه دې ځان وخوري، ښې يې پېژنم، د پنځو روپيو په خاطر خلک غولوي، خو کوچۍ د دروغو ښځه نه ده، داسې حال وايي چې حيران به پاتې شې. ددې سړي خولۍ يې هم چې څنګه لاس کې وخيسته، په ټول مشکل يې پوه شوه، هغه دی چې له تعويذ سره يې جوړ او روغ شو.

څنګه چې د نوموړې ميلمنې خاله کور تيار د  نيازبيک په سيمه کې و، د تلو په وخت مې خپله مور هم ورسره ملګرې کړه، يو کميس مې يې ورووړه.

په ښېښې سره ترڅو مې مور راځي له کوچۍ نه راوړې غورې يې درسره شريکوم، په لنډو کې به يوه يادونه وکړم، هغه دا چې طبعاً د لوستونکو په صفت ستاسو زړونو کې به ګرځي چې که دوی ټګماران و، يا يې له ناروغانونه د پيسو شکولو په پار ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول مکارۍ او چلونه کول، خو تاسو هم بېخي بې شعور ياست چې سره له مخکنيو ډېرو تجربو بيا يې هم په تکرې ډول بار بار ښکار شوي يی.

منم ستاسو خبره په ځای ده، مګر خدای ج مه کړه، زموږ په ځای که تاسو يا بل هر څوک وی، همدغه به يې برخليک و، ولې چې يو خوا درد او د مرګ له وېرې وارخطايي شي، بل خوا په داسې يوه خرافات منونکې ټولنه کې ژوند کوې، چې يو درته وايي، ما په خپلو سترګو وليده پلانکې زيارت کې شل جګ شو، بل وايي شنډه ښځه پکې حامله شوه، چوک وايي د دنيا ډاکتران يې په رنځ پوه نشول، پلانکي ملا چې پرې ورچوف کړل، رک روغ شو، ان تر دې چې وايي به: ما ورته کتل د پلانکي پير په دم مړي کې ساه وچلېده. پس طبعاً ناروغ يا يې کورنۍ هم د وخت په تېرېدو تر اثر لاندې راځي، همدې خرافاتو ته يې د صحت يابۍ يا د نورو هيلو د پوره کېدو طمعه پيدا کيږي، بيا نو ځنګه مې چې وړاندې ووېل لکه سيلاب اخيستی کس بار بار د اوبو بې ګټې ځک ته لاس اچول ورسره تړلي. که څه هم چا ته چې نه وي پېښه، پوهېږم دومره اسانه به يې قناعت ونشي.

خو په هر حال راځم د کيسې پاتې برخې ته، مور مې له کوچۍ سره تر ليدو وروسته شپه له خاله سره کړې وه، سهار چې راغله، کوچۍ يو څاښت ورته ليکلی و، دوه يې زاړه زاړه په خاورو ککړ تعويذونه ورکړي و، چې ګواکې په زوی دې چا تعويذونه، مانا ګوډې کړي.

مور مې کړل: چې کميس مې ورکړ، ښځه لکه ګوزڼ چې پرې وشي، کړه وړه شوه، په بله ژبه يې ګډې وډې خبرې شروع کړې، بيا يې دواړه لاسونه جګ کړل، په هوا کې يې چکه ووهله، د لاسونو تر منځ يې يو تعويذ راپيدا شو، زما لمنې ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواچاوه، واپس يې لاسونه جګ کړل، په هوا کې د چکې په وهلو سره يې دويم تعويذ راونيوه، دا يې هم ما ته راوغورځاوه، يو يې ځانښت راکړ، وېل يې په پاکو اوبو کې يې حل کړی، دری ورځې به هر سهار او ماښام يو، يو ګلاس اوبه ترې څښې او تعويذونه به وسپځوئ، منځ کې کاغذ يې له ابو په ډکه کاسه کې ښه اوبه کړئ، هغه اوبه يې بيا پاک ځای تشې کړئ.

د کوچې له ښونې سره سم، تعويذونه مو چې وسپځول، خورا پخواني وراسته کاغذونه يې منځ کې و، توره د توش قلم ليکنه پکې شوې وه، ډېره هڅه مې وکړه چې ولولم، خو د لوستلو نه و، چون يوخوا کاغذ ډېر زوړ و، هر قات به مو يې چې راخلاصاوه له نور کاغذ نه رابېدلېده، بلخوا ډېر ګډ وډ ليکل پرې شوی و، حتا دا نه پکې صحيح کېدل چې ليکنه عربي ده، که اردو يا هم کومه بله ژبه ده؟

څنګه يې چې ويلي و، د کاسې اوبو کې مو ښه ذره ذره حل کړل، کابل کې مو پاکه ځمکه له څه نه کړې وی؟ اوبه مو يې بام ته وشيندلې، همدارنګه ځانښت مې يې هم په ټول ترتيب اوداسه، کليمه او مخ په قبله دری ورځې ګيلاس ګيلاس وڅښلو، خو ناځوانه پېښې بيا هم په خپل قسم ودرېدې، چې د ايستلو کوډو سره سره دې هم منه که جوړې ليدلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګردېز زيارت او ملا

ژمی و، د پښو درد، پړسوب او شخوالی حد ته رسېدلي و، په غبرګو ټکګونو صرف د ضرورت په وخت له اطاق نه تر تشنابه په ډېر مشکل تلم، نور بهر ته د وتلو نه وم، همدې وخت کې يوه ښځينه ګاونډۍ مو چې د سرطان د ناروغۍ له کبله د کوما په حال کې پرته وه، د کورنۍ د غړو په شمول يې، تر موږ پورې ټولو ګاونډيانو يې د مرګ غېږ ته شېبې شمېرلې، مګر د تصور خلاف ناڅاپه يې د مرګ په ځای د صحت آوازه خپره شوه. ان تر دې چې ويل کېدل: له بسترې راجګه شوې اخلې پخلی ځای او جارو يې شروع کړي، چې پوښتنه مو يې وکړه، خبره رښتيا وه، زر مو يې د کورنۍ له غړو د روغېدو لامل وپوښت.

خاوند يې په ګرديز کې د يو ملا ادرس راکړ، سره ددې چې زموږ نور له دې تعويذونو، فالبينانو ملايانو په نوم ټګمارانو نه ښېخې نفرت شوی و، چون مخکې مې هم يادونه کړې، تر دې دمه لسګونو ملايانو ته تللی وم، هر يوه يې په يو ډول نه، يو ډول يوازې خپل مکر او منافقت راباندې خرڅ کړی و، پيسې يې رانه شکولې وې، نور مو يې ذره فايده له يوه هم نه وه ليدلې، نه مو بل څوک وليدل چې ورسره ښه شوي وي، لمړی ځل و چې په خپلو سترګو مرګ حال پرته ښځه مو د ملا له دم دعا سره جوړه ليده.

پس طبعاً زما په شان ناروغ که د هر چا کور کې وی، په ډېره بېړه به يې د ورسولو تابيا نيولې وه.

دغه و چې سبا زما مور او پلار هم دواړه راسره شول، ټول ورغلو، د ګرديز په يوه خيرن او ساړه هوټل کې د سهار له چای څښلو وروسته مو بازار کې د ملا د سيمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه وکړه، يو ټيکسي واله بلد و، په کرايه ورسره جوړ شو، ډېره لار وه، بلخوا سرک خامه و، کابو نيم ساعت وروسته د ملا کور ته ورسېدو، د دروازې تر مخ ماشومانو ته مې يې پلار ووېل: ملا صاحب ته غږ وکړئ، مريض مو راوستلی.

څو لحظې پس ملا راووت، د سپينوالي په غالبيت سره شنه ګيره يې وه، نسبتاً ډنګر له قده جګ تور مخی بې نوره سړی و، زما د پښو د ليدلو تر څنګ، پلار مې لنډو کې د اوږد مهاله ناروغۍ او پرې کړو سلګونه بېلا بېل ډول بې ګټې درملنو ورته ووېل.

د ملا لمړۍ خبره دا وه چې سر مو راوړی، کنه؟

له سر نه يې مطلب پسه يا وزګوړی و، پلار مې په حيرانتيا سره ورته کړل:

- نه مولانا صيب! موږ خبر نه و، چې تاسو به حتماً سر غواړئ.

ملا ورغبرګه کړه: زه بېله سره د هېچا کار نه کوم، لاړ شئ سر راوړئ، بيا مو مريض راولی.

پلار مې ورته کړل:

مولانا صاحب! له ډېر لرې ځای نه راغلي يو، خدای ج دې زما زوی ښه کړي، سر مانا نه لري، هرو مرو به يې درته راوړم، کاشکې خبر وای، همدا اوس به مو له ځان سره راوړی و.

ملا نه منله، اخير مې پلار ورته ووېل: دوه زره افغانۍ شکرانه به اوس درکړم، که زوی مې مزې لږ هم ښه شو، باور وکړه ښه لوی پسه سرباری درته راولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا وېل: زه د هر ناروغ علاج په دريو پړاونو کې کوم، په لمړي ځل حتماً سر اخلم، يوه مياشت پس په دويم ځل يې چې راوغواړم، درې زره او په درېيم ځل دوه زره افغانۍ شکرانه ترې اخلم. خو تاسو چې له لرې ځای نه راغلي يی، همداسې به مو نه ځوابه وم، دا ځل د دويم پړاو درې زره افغانۍ راکړئ، بل ځل به هرو مرو پسه راولئ، کنه ناروغ به مو له بدبتره شي.

پلار مې له ورته ويلو دوو زرو افغانيو سره يو پنځه سوی بل هم ملګری کړ، ټول ټال د دوه نيم زره افغانيو په ورته نيوه سره يې کړل:

فعلاً دا دوه نيم زره افغانۍ واخله، نورې نشته راسره، يقين وکړه، فقط د کرايې روپۍ راسره پاتې شوې، چې ايله واپس تر کوره پرې ورسيږو، بل ځل چې راغلم ان شاءالله نازوم دې.

ملا نه منله، اخير مې يې پلار مجبور کړ، ور درې زره يې کړې، د دروازې تر څنګ د حجرې ور يې خلاص کړ، ورننوتلو، که څه هم لويې کلا او سترې فلزي دروازې ته په کتو يې، پيسدار ښکارېده، خو د ننه فرش او ظرف يې ډېر خوار و، ملا وړاندې بوغبند (بسترې) ته کېناست، د څنګ له کړکۍ يې قرانکريم ته ورته په پخواني مبارک دسمال کې پېچلي څه راښکته کړل، تر مخ يې په غولي د دسمال پيڅکې ترې واړولې، لاندې د لرګي تخته وه، له پاسه پلنه لنده خټه پرې ايښې وه، څنګ کې يې يو لوی چاقو هم ايښی و، ملا بيا لاس ور اوږد کړ، له کړکۍ يې ګرد د کانې غونډاری هم راواخيست، د تختې له پاسه کلکه خټه يې ورو ورو پرې وهله، ان تر دې چې د لرګينې تختې له پاسه يې ښه سمه هواره کړه، بيا يې چاقو راپورته کړ، ماته يې وېل: پښې راوغځوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتي مې وروغځولې، دمونه يې پرې شروع کړل، ښه اوږد دم به يې چې وويلو، په پښو به مې يې راچوف کړ، بیا به مې يې يو ځل په يوه پښه، بیا په بله ان له زنګنونو تر غټې ګوتې چاقو راکش کړ، وروسته به يې ځته لکه کيک په مستقيم خط غوځه کړه، دا کار يې بار بار تکرار کړ، تر دې چې د لرګينې تختې په سر له پلنې کلکې ځتې د قند په اندازه لسګونه وړې وړې چار کونجه ټوټې جوړې شوې. نور يې دم هم خلاص شو، هر څه يې واپس دسمال کې ټول کړل؛ پلار ته مې مخاطب شو، وېل يې: له همدې شپې نه تر يوې مياشتې له هر څه نه پرهېز دی، يوازې بې مالګې چکله (ناخميره) ډوډۍ او جوش اوبه به څښي؛ پام مو وي چې د غوړو، سره کړې پياز، مانا هېڅ نوعه کتغ بوی پرې ونه لګېږي، ترڅو يې چې پرهېز شته بايد له آشپزخانې لرې، په يو ځانګړي اطاق کې و اوسي، مياشت چې پوره شوه، د دېرشمې ورځې په ماښام به د مېښې په غوښه پرهېز ماتوي. پسې زياته يې کړه: سبا بېګاه ته تاثير کوي، پښې به يې ښې شي.

د مننې او مخه ښې په کولو سره مو رحضت ترې راواخيست. په لارو د ټکسي ډرېور د سيدکرم د زيارت ډېر زيات صفتونه وکړل، اخيره يې دا شوه چې اوس خو تيار پکتيا ته راغلي يئ، راځئ دا زيارت هم وکړئ.

زموږ دوه زړيتوب ته په کتو، ډرېور بيا کړل: آته کاله کېږي چې زه ګردېز ښار کې ټکسيواني کوم، هفته کې دوه، درې ځله دې زيارت ته رادربس کېږم، خلک له ډېر لرې، لرې ځايونو ناروغان ورته راوړي، يقين وکړئ زياتره مريضان مې په خپلو سترګو وليدل چې زيارت ته يې په شاه ورننيستل، له هغه خوا په خپلو پښو راووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې په اورېدو، مورِ خپلو کې يو بل ته وکتل، چې ګواکي دا سړی به رښتيا وايي، که دروغ؟ درحالې کې چې زيارت هم لرې نه و، يعني دا فکر هم نه کېده، چې ډرېور به د خپلې کرايه د زياتېدو په خاطر دا خبرې کوي.

ترڅو مورِ هو! يا نه! ورته وېل، بيا يې کړل: ددې ځوان په ځوانۍ مې زړه ودردېده، که خدای ج يې ورسره ښه کړي، نور مو ز ه څه کوم.

لنډه دا چې ورسره موافق شو، زيارت له سرک هاخوا د غره لمن کې و، لويه خاورينه ګنبده پرې ولاړه وه، رښتيا هم له لرې، لرې سيمو خلکو په بېلا بېلو ناروغيو مبتلا ناروغان ورته راوستلي و، ليکن ډېری برخه يې ګوزڼ وهلي ناروغان و.

ممکن اوس ابادۍ شوي وي، هغه وخت زيارت ته نژدې کورونه نه و، خاص د زيارت د مراجعينو لپاره د زيارت مخکې تر سماوات پورې دوکانونه ودان شوي و، له موټر نه راښکته شوم، ټکک مې لګول، زينو کې مې پلار کمک راسره وکړ، پاس د زيارت په وره کې ناست بوډ ساتونکي منجاور ته مو بوټونه تسليم کړل، ورننوتلو، د زيارت داخل د يو لوی زاړه مسجد په شان و، فرشونه پکې هوار و، منځ کې يې لوړ قبر و، پنجره ترې تاو وه، په کټاره يې لسګونه رنګا رنګ دسمالونه، مصنوعي ګلان، د رنګه زرورکو لاړونه خلکو غوټه (ګنډه) کړي و، د کټارې داخل کې د قبر په سر هم، مالګې، شمعونه، زرورک پراته و. ښې ډېرې دعاګانې مو پکې وکړې، نور ترې راووتلو، د زيارت داخل کې ناست د لوی منجاور په حواله، دې زيارت هم په مجموع کې د ټولو خپلو مراجعينو ناروغانو لپاره يو شان پرهېز لاره، خو خوشبختانه ماته د زيارت له مخه د ملا له راکړې پرهېز سره يې خاص توپير نه و، دواړو له نورو ټولو خواړو منع کړم، يوازې د بې مالګې چکله ډوډۍ د خوړلو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ووېل، فرق يې صرف دا و، چې ملا د چکله ډوډۍ تر څنګ فقط د جوش ابو د ښکلو اجازه راکړه، د زيارت په پرهېز کې د شين چای ښښلو اجازه هم وه، کور ته چې راغلو، د نور فاميل د اوسېدو له اطاقونو هاخوا، جلا يو زوړ کوچنی اطاق و، تر څو د غوړو يا هم کتغ بوی راباندې ونه لګېږي، زما بستره يې هلته يوړه، لکه اختطاف شوی، شپه او ورځ تکي تنها پکې اوسېدم، فقط د ډوډۍ په وخت به يوه کوچنۍ د پراتې په اندازه مطلق بې مالګې او چکله ډوډۍ چا راوړه، وره کې به يې راکېښوده، واپس به زر تلل، ترڅو په جامو کې يې د کتغ بوی نه وي ورسره راغلی، زما اطاق کې خپور نه شي.

پرهېز سخت و، د لمړۍ ورځې ماښام زړه کې راتېره شوه: فکر نکړم دا وړۍ مې شړۍ کړې وې، له هغه نه چې پس له لس، پنځلسو ورځو يې ماته وم، ښه دا ده چې له سره ځان پرې خراب نکړم.

مګر بيا مې چې خپل او د مور، پلار تکليف، دغه راز مصرف کړو پيسو ته وکتل، لاحول والله قوة... مې ووېل له پرېکړې مې واپس تېر شوم، پرهېز ته مې دوام ورکړ، خو څنګه چې ملا وېلي و، د دوېمې شپې په يولسو بجو مې ناچاپه خالي ادرار زيات شول، په هر نيم ساعت کې يې تشناب ته د تللو ضرورت راته پيدا کاوه، عيني حال کې له پښونه د جمع شو اوبو په راوتلو سره مې داسې احساسوله لکه په پښو مې چې خورا زيات کوچني حشرات ګرځي، دې کړنې دوام لاره، تر سهاره مې پښې پوره پوره نرمې او کوچنۍ شوې، پنځوس فيصده پړسوب يې کېناست، همداسې ګرموالی، سوزش او درد يې هم تر ډېره ارام شول، څنګه چې ګهيځ وختي د غوړيو او کتغونو بوی نه وي، له همدې موقع نه په استعفاده، ورغلم تر کړکۍ مې د کورنۍ په غړو د پښو د ښه کېدو زېرى وکړ، دوی چې راووتل، پايڅې مې راپورته کړې، تر ډېره حده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښو په ښه کېدو زښته زیات خوشحاله شول، خو لا هم پوره نه وې ښې، د ادرارو زیات والي دوام لاره، خو نسبت تېرې شپې ته څه کم شول، ولې بیا هم د عادي حالت په پرتله زیات و، د ورځې په اوږدو کې هر یونیم ساعت وروسته د مثانې د تخلیې اړتیا راته پیدا کېده، بالاخره د هفتې په تېرېدو سره پښې جوړې روغې شوې، وزن مې له (۶۲) کېلو څخه (۵۴) کیلو ګرامه ته راښکته شو، سره ددې چې پرهېز مې ډېر سخت و، په غوړو، مالګه او بېلا بېلو کتغونو پسې مې سترګې رالوېدې، خو چې روغو پښو ته به مې وکتل، بیا به مې د پرهېز په وړاندې مورال لوړ شو.

ما اورېدلي په سترګو پردې یا له ناخاپي ډېرې خوشحالۍ راځي، یا هم د ناخاپي سخت خفګان له وجې، په همدې وخت کې زما په سترګو هم پردې راغلې، کوم چې د جبران په پار یې تر ننه عینکې په سترګو کوم.

نور نو والله علم چې زما د سترګو پردې هم د کالونه اوږد مهالې او سختې ناروغۍ نه د ښه کېدو له نهایي خوشحالۍ راپیدا شوې، که د سخت پرهېز له وجې مې په بدن کې ځینې ویټامینونه او مدني مواد کم شول، په پایله کې یې سترګې خرابې کړې؟ خو په هر حال پس له پنځلسو ورځو مې کرار کرار عمومي وضعیت خراب شو، ان تر دې چې ۲۳ ورځې وروسته له جګېدو ولوېدم، بدن مې ضعیفه شو، په سترګو مې تیارې راتللې، غوږونه مې دف شول، فشار مې نهایي ټیټ و، یوخوا مرګ حال وم، بلخوا مې پرهېز نشوی ماتولی، چون زښته ډېره خواري مې کړې وه، اوس نو صرف د ګوتو په شمار ورځ پاتې وې، خو دې وخت کې نادره دا وه، چې هغه په سرطان ناروغۍ اخته ګاونډۍ مو وفات شوه، کوم چې د نوموړې ملا له دم سره ښه شوې وه او موږ یې هم ورلېږلې و. کله مو یې چې د مرګ په اړه پوښتنه وکړه، د ملا له دم او پرهېز سره لمړی ډېره ښه شوې وه، ان تر دې څنګه مې چې مخکې ووېل، د کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کارونو يې لاس پورې کړی و، خو له پنځلس ورځې پرهېز کولو وروسته بیا د بدن له ضعیفۍ ځای په ځای شوې وه، مګر لا يې هم پرهېز تر اخيره رسولی و، اما بدبختانه په دېرشم ماښام د پرهېز له ماتولو سره يې ناروغي د پخوا په پرتله ډېره په زور کې پرې راګرځېدلې وه. سره ددې چې د دويم ځل لپاره يې ملا ته بيا هم وروستلې و، پسه او پيسې يې تحويل کړي و، مګر دا ځل يې کومه نتيجه نه وه ورکړې، پس له پرهېز ماتولو پنځمه ورځ يې ختمه کړه، په ګور يې دې نور وي.

زه صرف له پرهېز ماتولو وروسته پنځمه ورځ مړ نشوم، نور عيني کيسه له ما سره هم وشوه، د پرهېز په دېرشم ماښام مې لمړی د ملا له توصيې سره سم د مېښې په غوښه پرهېز مات کړ، ميلمانه مو لرل، بيا مې له دوی سره وريژې او ګُرمه وخوړل، د ډوډۍ تر خوړلو لږ ځنډ وروسته، ناڅاپه ډېرې سختې تندې واخيستلم، پرله پسې مې د ګيلاس، ګيلاس اوبو غريزه راپارېده، پوه شوم چې کار مې خراب شو، ولې بيا هم احتياط مې کاوه، زياتې اوبه مې نه څښلې، اما بدبختانه هنوز هم شېبه په شېبه مې بدن درنېده، ساعت لا نه و تېر چې په پښو کې واپس پړسوب راښکاره شو، لنډه دا چې تر سبا ماښامه خپل پخواني حال ته ورسېدې، په دې سره زه او د کورنۍ غړي مې ټول ډېر سخت خفه شو، چون واړه زحمتونه، تاوانونه او راتوکېدلې نوې هيلې، خوشحالۍ مو يو ځل بيا په سيند لاهو شوې.

که څه هم زه بايد د پرهېز ماتولو په سبا بيا ملا ته ورغلی وی، ځکه چې ورغوښتی يې وم، خو د وفات شوې ګاونډۍ حال ته مو په کتو، چې له موږ زيات زحمتونه پرې تېر شول، دوه ځلې ورغله، نسبت موږ ته ډېر مالي تاوان يې هم وشو، مګر هېڅ فايده يې ورته ونه کړه، همدا و چې نور موږ هم درنه تېره پرې راواړوه، دويم ځل ورنغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:**

همدا کیسه مې یوه ورځ د علي آباد روغتون یو داخله متخصص ډاکتر ته وکړه. ډاکتر د افسوس په پار موسکی شو، پسې زیاته یې کړه: کوم چې ستا او ستاسو د ګاونډۍ ښځې ناروغي لمړی ورسره ښه شوې، دا د ملا د دم، دعا او زیارت نه، بلکې ټول اثر د پرهېز دی، ولې کله چې انسان نور له هر نوعه خواړو پرهېز شي، یوازې بې مالګې چکله ډوډۍ او د جوش اوبو څکلو ته کیني، په ډېره چټکۍ سره یې وجود کې د ویټامینونو او مدني موادو په کمېدو سره وینه نرۍ او بډوډو کې یې جریان زیاتېږي، نتیجه کې یې د ادرارو د حجم ډېرېدو باعث کېږي.

پس بدن کې د وینې جریان او ادرارو زیاتېده خپله ځینې ناروغانوته د صحت د ښه کېدو احساس ببښي، خاصتاً ستا په شان هغه ناروغانو ته چې بدن کې یې پړسوب وي. بلخوا څنګه چې د ویټامینو او مدني موادو په کمېدو سره بدن د بې سبکۍ او ضعیفۍ خوا ته ځي، همداسې په بدن کې شته ناروغي هم ضعیفه کېږي، ولې چې هره ناروغي په بدن کې د شته مدني موادو او ویټامینونو له یوې نوعې نه په تغذیه کولو سره پایي او ځان قوي کوي، د بېلګې په ښه لکه د شکرې ناروغي چې د بدن په قندي موادو پایي، یا هم لکه د فشار ناروغي چې د وینې په غوړو او مالګه مسته وي، همداسې هره ناروغي د بدن په غذایي موادو کې خپله غذا لري، پس کله چې انسان خواړه پرېږدي، د بدن د عمومي ضعیفۍ ترڅنګ ناروغي یې هم د غذا پرې قطعه کېدو له کبله ضعیفه کېږي، ناروغ یې منفي اثر ډېر نه احساسوي، فکر کوي چې ښه شوم، درحالې کې چې ښه نه وي، د ناروغۍ ویروس موقت له فعالیته لاس اخیستی وي، له لوږې خپله ګېډه موښي، تر څنګ یې د دویم ځلي حملې لپاره هم ښه پوخ کمین نیولی وي، کله چې پرهېز مات شي، ناروغي ډېر زر خپله انرژي پوره کوي، مګر انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ضعيفي تر ډېره وخته نشي جبران کولای، همدا ده چې ناروغۍ ته دا ځل ناروغ له پخوا ډېر کمزوی په لاس ورځي، له موقع نه په استفاده سم يې سابه ور په مالګه کوي، چې زياتره وخت د ناروغ د مرګ سبب کېږي.

دې ظالم ملا به ستا او ستاسو د ګاونډۍ ښځې په شان له څومره نورو ناروغانو په دې دوکه پيسې شکولې وي، په څومره نورو خورانو به يې يوه مياشت نوه نيولې وي؟ والله علم څومره به يې وژلي وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داغ لګول

یوه ورځ له کوره راووتم، د تفریح په پار د څو دقیقو په مخه کارته سخي بازار ته مخامخ د غره لمن کې پاسنیو کورونو ته ختلو سیمټي زینو کې کېناستم، ټکک مې ترخنګ کېښودل، څو شېبې وروسته یو پوخته ساله سړی له ښکیه راغی، سلام یې راواچاوه، د دمې جوړولو په پار مې له څنګه کېناست، د خبرو لهجې ته په کتو یې، دی هم وردګ و، د ټککو او پښو د پړسوب په لیدو سره مې یې د ناروغۍ په اړه رانه وپوښتل، په لنډو کې مې د مریضۍ د اوږدې مخینې او د ډېرو دواو پرې کولو سره سره د نه جوړېدو ورته ووېل، سړي کړل: چې دومره زیات وخت یې وتلی او هېڅ دوا نه ده پرې لګېدلې، بیا نو راځه توکل په الله ج یوه زما هم ومنه!

- څه؟

- زموږ د یو کلیوال پښې عین ستا په شان پړسېدلې وې، درد یې کاوه، ته خو ښه یې که په ټککو هم وي، تر دې ځایه راتللی شې، هغه ځای په ځای کور پروت و، ستا په شان د دنیا دواوې یې وکړې، پرې ونه لګېدې، بله ورځ یو هزاره چا ورښودلی و، کله چې ورغلی، په پښو یې داغونه ورته وهلي و، همغه یې شوه سړی جوړ او روغ شو اوس هم سعودي کې دی.

د داغونو لګولو په ذریعه د درملنې خبره مې نوې واورېده، د طریقې په اړه مې یې ترې وپوښتل، سړي وېل: چې هر څوک یې نشي وهلی، دا کار ډېر کم او خاص ماهرین لري، دوی پوهېږي چې دا ناروغي څه ده او باید د بدن په کومه برخه کې وداغل شي؟ که ضرورت وي څو داغونه پرې لګوي، لمړی د داغ لګولو مخصوص سیخ اور ته نیسي، ښه یې ګرموي، ان تر دې چې سر یې سره سکروټه شي، بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه خاصو کلماتو په ویلو سره د بدن په هغه مشخصه نقطه ایږدي؛ همغه ساعت یې ناروغ په فایده پوهېږي، د څو ورځو په تېرېدو سره ښېخي جوړ روغ کېږي.

بالاخره همدې کارته سخي کې د وزارت زراعت شاته د یو هزاره وطندار د داغ لګولو د خورا مهارت په ستایلو سره یې د کور آدرس هم راکړ.

څو ورځې وروسته مې له دویم ورور عبیدالله سره په موټرسکیل ورغلم، هزاره کاکا ډېر سپینږیری او ضعیفه و، یو زاړه تیاره اطاق ته یې ننه یستلو، وېل یې: کمیس دې وباسه پړمخې څمله، دده د حکم سره سم بې کمیسه پړې مخې په وچ غولي پرېوتلم، اول مې یې شاه ښه رامالش کړه، بیا مې یې د ملا مهرې هره یوه جلا جلا په غټه ګوته تخته کوله، وېل یې: هرې مهرې چې درد وکړ، ماته ووایه، له پاسه څلورمه مهره یې چې تخته کړه، لږ درد پکې تېر شو، غږ مې پرې وکړ: دغه مهره یو څه درد کوي!

هزار کاکا په فارسي کړل: خو، خو، اینه شارګ مرض تان پیدا شد.

عبیدالله ته یې وېل: هر دو پاهایې شان محکم بګیر که شور نخوره!

عبیدالله مې پښې ښې کلکې ونیولې، خپله هزاره کاکا مې په ولیو ګونډې راووهلې، ښه صحیح یې مُحکم کړم، خو لکه څنګه چې د ګرم سیخ په وسیله د داغ لګولو کیسه راته شوې وه، دې سرې سیخ نه ګرماوه، په یو بل ډول، له سیخ نه په سخته طریقه یې د ناروغ بدن داغه؛ د شمعې موم موادو ته ورته، یو قسم غلیظه او سرښناکه ماده مې یې په خوږمنه مهره کېښوده، بیا یې اور ورواچاوه، څنګه چې تاسو پوهېږئ، هېڅ بشر د اور د سوځېدو تاب نه لري، زما حال هم یو خدای ج لیده، خو دا چې یوخوا عبیدالله او هزاره کاکا ډېر کلک نیولی وم، بلخوا ما هم که هر څو زګیروي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریادنونه وکړل، مګر ډېر زوړونه مې نه وهل، ترڅو اور له خپلې شاه وغورځوم، چون زه له خپلې ناروغۍ ډېر تکلیف وم، د درملنې په نوم هره سخته به مې په ځان زغمله، ترڅو موثره تمامه شي.

شاوخوا یوه دقیقه یې اور زما په شاه پرېښود، د مهرو له پاسه د یوې اوسپنیزه سیکې په اندازه پوست مې یې ډېر ژور راوسوځاوه، ان چې راجګ شوم کمیس مې واغوست هم درد او سوخت یې له زغمه لوړ و، ترې راروانیدو سره هزاره کاکا بیا عبیدالله ته مخاطب شو، ویل یې: بازار کې پیدا کېږي، یوه ټوټه د وینده (ناخسي) پسه لم واخلئ، د یوې هفتې لپاره هر سهار یې په داغ شوي، ټپي ځای لړ، لړ ورموښئ، یعني پرې غوړه وئ یې، په همدې سره مو یې شکرانه ورکړه، له دروازې یې راووتلو، خپل کور ته چې راغلم، لا یې هم مست سوخت او درد کاوه، مازیګر مو له قصابۍ یوه ټوټه د وینده پسه لم هم راوړه، د هزاره کاکا له توصیې سره سم دوه سهاره مې د داغ په زخم وموښلو.

ما فکر کاوه چې ممکن دا د لم پرې وهل به یې زر جوړه وي، ولې حقیقت کې خبره برعکس وه، د وینده پسه لم لا زخم بلولو، فکر کوم د داغ لګونکو په اند د زخم له بلولو نه یې هدف دا وي، ګویا څومره چې د داغ ټپ د اوږدې مودې لپاره پاتې شي، په هغه اندازه زیات جراثم او د بدن زهري مواد ترې وځي، چې په پایله کې یې ناروغ کس ښه کېږي.

پس همدا و، سره ددې چې ما له دوه ځلو زیات پرې ونه واهه، خو بیا یې هم داغ په زخمي ناسور بدل کړ، سربېره له دې چې په پخوانۍ ناروغۍ یا د پښو په درد او پړسوب مې یې هېڅ فرق ونکړ، د داغ له زخم سره لا په لوی جنجال واوښتم، دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمې، درى مياشتې يې دوام وکړ، په هېڅ نوعه دوا نه ښکېده، اکثريت وخت مې اودس په اوداسه کاوه، چون اوبه يې وهلې د اودس ماتولو سره سره کالي يې هم رابلمازه کول، زېرپېراني به پرې سرېښبېده، ببخي زيات ورسره تکليف وم، بالاخره ښه و اخير له يوې يوناني دوا سره وچ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شکر درې ملا

مور ته مې یوې سالنګۍ ښځې د کابل په شکر دره ولسوالۍ کې د یو نوي راپیدا شوي ملا ډېرې غورې کړې وې، چې ګواکې ډېر سخت ناروغان ورسره ښه شول، پیسې نه غواړي، خدای او وس هر څو شکرانه مو چې ورکړه...

خلاصه د مور مې یې ډېره هیله ورته پیدا کړې وه، کور ته چې راغله، د ملا په اړه د ښځې له خولې اورېدلي ټول صفتونه یې وکړل، پسې زیاته یې کړه: چې دومره وګرځېدو، شکردره خو لنډه ده، حتماً باید دې ته هم یو ځل ورشو، درحالې کې چې زه په دې وخت کې ډېر زیات ناروغ وم، ان له ټککو هم خبره وتلې وه، ښېخي جګېدی نشوی، چپرکت کې ځای په ځای پروت وم، حتا په پروتو مې هم بدن ډېر زیات درد کاوه، له دې کبله مې د شکر درې ملا ته له تلو انکار کاوه، بلخوا کور مو د غره بغل کې و، موټر دروازې ته نشوی راتللی، لاندې کوڅه کې به درېده، تر لاندې کوڅې ورتله ډېر راته سخت و، درېیم ورور مې هارون چې نوی، نوی یې د ځوانۍ په درشل قدم ایښی و، وېل یې: تر موټره دې زه په شاه کوم، یو خوا خو مې په هارون باور نه و، چې سم به مې ورسوي، بلخوا بدن مې ډېر سخت نازک شوی و، مَزې معمولې به چې د چا لاس راباندې ولګېده درد به یې کاوه، په شاه کولو کې خو طبعاً ډېر فشار پرې راتله، نو له دې درده مې هم ویره لاره.

بالاخره مور راباندې زور شوه، هارون ته یې ورپه شاه کړم، موټر روان شو، ډرېور د هارون ملګری او دده په سن یو نوځوان هلک و، کوز د کوڅې اخیر کې یې یو بل ملګری هم راپورته کړ، دوی دری واړه د مخې سیټ کې ناست وو، لږ چې لاړو، ښه مسته سندره یې په لوړ غږ پلې کړه، زه او مور مې شاه سیټ کې غلې ناست و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندره د بچه بازۍ او ښایسته هلکانو په ستاینه راڅرخېده، مست ساز او شپیلک یې ورسره وهل، هارون او ملګرو یې خوند ترې اخیست، یوې نیمې ټپۍ یا سروکي به لا زیات خوند ورکړ، موسکي به شول، غلي به یې یو بل په څنګل سره ووهل.

که څه هم له یادولو دې پاتې نه وي، هارون څه وخت وروسته بیا بغلان کې د امریکایي اشغالګرو په خلاف، له یو جهادي ګروپ سره یو ځای شو، په دې سره یې د څېرې د تغیر سربېره، فکر هم ډېر بدل شو، صوفیتوب او تقواء یې غوره کړل، له سندرو سره خو تر ننه پورې مخالفت ښیي.

ولې هغه وخت یا ملا ته زما د بېولو په مهال دده او ملګرو یې د نو ځوانۍ لیونۍ دوره وه، هېڅ فکر کې نه ورګرځېدل، چې ګویا مور یو سخت ناروغ د علاج لپاره ملا ته بار کړی، که کوم واده کې په ورا روان یو؟ نه یې هم دا زړه کې ورتېرېده چې اخیر خو مور راسره ده، شرم دی.

په همدې مستو سازونو او سندرو کې د ملا تر کوره ورسېدو، له موټره د راکښته کېدو په مهال هارون بیا غوښتل چې په شاه مې کړي، خو زما پوښتنې خوړېدې، ور په شاه نشوم، یو لاس مې د هارون او بل مې یې د ملګري وحیدالله په غاړه وراچاوه، کرار کرار د ملا کور ته ورننوتلو، ناروغان زیات و، تر څو چې نوبت رارسېدو، په انتظار خانه کې منتظر شو، ډېر وخت وروسته نوبت راورسېده، ملا مې د ناروغۍ په اړه ځینې اولیه پوښتنې رانه وکړې، بیا یې یو تعویذ، څو ځاښتونه راته ولیکل، شیږ دانې یې تیارې په کاغذ لیکل شوې پلتې راکړې، هر سهار له بدراو سره یو ځای دود کېدې، فکر کړم لږ یوناني دوا او د پښو د مالش لپاره تېل یې هم راکړل، څلویښتمه ورځ یې بیا وروغوښتم، نور مو د ملا له کوره حرکت راوکړ، له هغې خوا هم د ښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستو سندرو او سازونو په بدرګه راغلو، ملا راکړی تعویذ، څابنتونه، دواوې مې د دده له توصيې سره سمې وکارولې، خو کومه فايده يې ونکړه، څلويښتمه ورځ هم بيا ورنه غلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لنګر نجلۍ

د سهار چای څښنلو په مهال مو د دوستانو له جملې يوې ښځې له کمپنۍ نه زنګ راوکړ، تر سلام کلام وروسته يې وېل: داسې خبره شومه چې لنګر کې ( لنګر د وردګو چک ولسوالۍ کې د يوې سيمې نوم دی ) د يوې نجلۍ په ټول بدن غيبي د الله ج نومونه ليکل شوي، دغه نجلۍ چې اوس هر ډول ناروغ دم کړي، ورسره ښه کېږي، ومې خندل ورغبرګه مې کړه: دا به هسې آوازه وي؟

خو دا جدي وه، وېل يې دروغ نه ده، د مقدمې په بڼه يې پسې زياته کړه: داسې وېل کېږي نومړې ان له ماشومتوبه ډېره ديندراه او خدای دوسته نجلۍ وه، تل به په اوداسه ګرځېده، ټول وخت يې په تلاوت، نفلونو او الله ج په ذکر تېره وو.

يوه شپه چې د جمعې شپه وه، تر دوو بجو يې تلاوت او نفلونه کړي، پس له دوو بجو په اوداسه ويده شوې، سهار چې راپاڅېدلې، له لمانځه کولو وروسته د رڼا په خپرېدو سره يې خپلو لاسونو باندې د الله ج ليکلي نومونه ليدلي، په وارخطايۍ يې مور او د کورنۍ نورو غړو ته غږ کړی، چې ګويا په لاسونو مې خپله د الله ج ليکلي نومونه راپيدا شوي، د کورنۍ غړو يې چې ورته کتلي، په مخ يې هم د الله ج نومونه ليکل شوي، چې نوره يې پلټلې وه، په ګېډه او د بدن په ځينې نورو اندامو يې هم موجود و، زر يې د جومات ملا امام ته وروستلې، ملا ورته ويلي: دا د وارخطايۍ او تشويش خبره نه ده، مبارک دې وي، تاسو ډېر بختور يئ، چې دغه شان د نيک صالح او الله ج ته ګران اولاد په تحفه يې نازولي يئ؛ دا بي بي د الله ج له ډېرو نژدې او خاصو بنده ګانو له جملې ده، ځکه چې الله ج تل په خپلو نيکو او هغه بندګانو کې چې ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوب وي، داسې نښې او علایم راڅرګندوي. دا بي بي چې له دې وروسته هر ډول سخت ناروغ دم کړي، ان شاءالله د الله ج په حکم سره به جوړ او روغ کيږي...

نور مو د دوستۍ ښځې خبرې جړې وړې شوې، بالاخره تماس يې راقطعه شو. خو زه يې په مطلب تر پايه ورسېدم، ددې بېچاره سره اصلاً زما غم و، چې ګواکې ته هم زر ځان ور ورسوه، مګر تر څو يې دا خبره کوله، تماس يې ياري ورسره ونکړه، نه پوهېږم څه ستونزه وه؟ له دېخوا زما زنګ هم نه ورتلو.

ولې په ټول کې د لنګرۍ نجلۍ په بدن غيبي د الله ج د نومونو راپيدا کېدل او بيا د نجلۍ له دم سره د هر ډول ناروغانو جوړېده، هسې خندونکي شعايات او د خلکو دروغ آوازې راته ښکاره شوې، سر مې پسې ونه خوړاوه، خو د څو ورځو په تېرېدو سره دا خبره بېخي عامه شوه، د څو نورو کسانو له خولې مې هم واورېدل، چې پوښتنه مې يې وکړه، د نجلۍ په بدن رښتيا د الله ج نامونه راپيدا شوي و او ناروغان يې دمول.

مور ته مې کړل: راځه ورشو که دم يې کار وکړ، کنه؛ پسرلی دی حداقل د وطن يو سپک چکر خو به مو شي.

بله ورځ يې زه تر مخ شوم، مور مې راپسې کړه، چون ډېرى وخت به چې کوم ملا، زيارت يا ډاکتر ته تلم، سره له دې چې د کورنۍ کوم بل غړی به مې راسره و، حتا تنها به هم تللی شوی، مور ته به مې هېڅ اړتيا نه وه، خو ما به بيا هم کوشش کاوه چې راسره بويې ځم، بس هسې به مې زړه پرې تکيه و، پس په دې ورځ مې هم د مور تر مخ د پاخه سرک له پاسه ټکټکو لکه د آس د پښو نالونو ټک، ټګ آواز کاوه، د موټرو تم ځای ته راغلو، يوه کرولا کې کېناستو، له څه باندې يو ساعت مزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته، يې د لنګر په سيمه کې ښکته کړو، د سرک تر څنګ دوکان مخکې ناست سړي نه مې د شفابخشې نجلۍ د کور پوښتنه وکړه، سړي يې کور راوښود، وړاندې په ډاګ کې لويه کلا يې وه، دروازه مو ورټک ټک کړه، يو ځوان راوواته، له سلام او ستړي مشي وروسته مې ورته کړل: ناروغ يم دا پښې مې وينې چې ډېرې زياتې پړسېدلې، درد هم کوي، له دې ټککو پرته نشم ګرځېدلی، ستاسو کور کې چې د کومې خورکۍ په بدن د الله ج نومونه پيدا شوي او له دم سره يې ناروغان ښه کېږي، زه او مور مې هم ورته راغلي يو، ترڅو دم مې کړي، که الله ج مې يو سبب ورسره وکړي!

ځوان مو تر مخ شو، وېل يې: راځئ! کلا ته چې ننوتلو، زموږ په يو ډېر نيک کليوال مو سترګې ولګېدې، دده چې راپام شو، لوی، لوی قدمونه يې راوخيستل، ډېره دوستانه او له محبت ډکه ستړي مشي يې وکړه، موږ مخکې نه و خبر چې دا زموږ کليوال ددې کورنۍ زوم دی، دده سره د شناخت له مخې کورواله و، موږ ته د ناروغانو نه، بلکې ميلمنو په سترګه وکتل، يو ځانګړي اطاق ته يې ننيستلو، کنه شور ماشور يې راتلو، فکر کړم هاخوا خپل نوبت ته له منتظر ناروغانو هم کوم اطاق ډک و.

څو دقيقې وروسته يو ماشوم چلمچي او کوزه راوړل، د مور مخې ته مې يې چلمچي کېښود، مور مې ډېر ورته ووېل: ډوډۍ نخورو ماړه يو، چې راتلو کمپنۍ کې مو چای وخواړه، مګر د کور واله ډېر قدردانه او ميلمه پال خلک و، زيات ټينګ شول، ډوډۍ يې راباندې وخوړه، کچالو يې پخ کړي و، يخې تروې (شړومبې) يې ورسره راواخيستلې، سره له دې چې موږ رښتيا ماړه و، خو د وطني شړومبو برکت و او کچالو يې هم ښه پاخه کړي و، واقعاً سم خوند يې وکړ، د دسترخوان له ټولېده وروسته يې چای هم راباندې وڅښلو، بيا يې هغه دم کوونکې نجلۍ ته غږ وکړ، د څو شېبو په تېرېدو سره نجلۍ د سلام په اچولو اطاق ته راننوتله، تقريباً د لس، دولسو کالونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ وه، په مخ او لاسونو يې لکه په خامو يا کم رنګه نکريزو زېړ ته مايله سره ډېل، ډېل ليکونه شوي و، ښه به چې ورته متوجه نه شوې، د الله ج نوم دې نشوی پکې صحيح کولای، دا چې نجلۍ وه، زه يې مخ ته ډېر ځير نشوم، په لاسونو يې سورولي او کرښو الله، الله ته ورته ښه لرله، يعنې شفاف يا واضح (الله ج) نه و ليکل شوي، صرف د الله ج د لفظ ليکلې ښې ته يې يو څه تمايل لاره.

خو په هر صورت پوشتۍ ته مې تکيه کړې وه، پښې مې له توشکې ښکته د غولي منځ ته وروغځولې، نجلۍ دری ځله لنډ، لنډ دمونه پرې ورچوپ کړل، څو دقيقې پس د خداپيامانۍ په کولو سره ترې راروان شو، ماښام کابل ته راوسېدو، که څه هم تر سبا بلې ورځې مې لږ طمعه وه، مګر پښنو بيا هم وېل: چې نه قربان! ولا کې دې ښې کړې و، د لويو لويو پيرانو دې زور راته ونه رسېده، په نجونو خو مو منه که يو ويښته هم وخوځوې.

البته چې نمک حرامي هم نشي، او ددې په خاطر هم توجيهات نه ورته لټوم، چې ګويا موږ ته يې ډوډۍ راکړه او قدر مو يې وکړ، نه! بلکې عموم کې مې چې وليدل، دغه کورنۍ واله شډل پډل ساده پښتانه او په زړونو پاک کليوال خلک و. يعنې زه فکر کړم، داسې نه وه، چې دا دوئ له خلکونه د پيسو شکولو په پار کومه تګماري جوړه کړې وه.

کيدی شي دا کتاب مې يونيم د جلدي ناروغيو متخصص ډاکتران هم ولولي، دوی پوهېږي، خدايزده خبره به مې په ځای که بې ځايه وي؟ زما په اند دا ممکن کومه جلدي ناروغي وي، د نګريزو خام رنګ ته په ورته رنګ او د الله ج د نوم لفظ (الله) ته په تمايله ډېلو کرښو به د انسان په بدن راڅرګندېږي، چون له هغې نه پس ما بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم واورېدل، د کوم بل چا په وجود هم عیني د الله ج لیکلې بنې ته ورته زېړرنګه پیرړې کربښې راپورته شوې وې، نور نو والله علم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملا ګونګي ته دويم ځل ورتګ

عبيدالله له ډېره وخت بېکارۍ خورا خسته شوی و، بله ورځ د دندې پيداکېدو د تعويذ په پار يو ملګري يې ميدان ښار ته نژدې نرخ ولسوالۍ کې يو ملا ته وروستلی و، په ملا باندې د تعويذ کولو په دويمه ورځ تصادفي زموږ د دوستانو له جملې يو شناخته کس زنګ ورته کړی و، نوموړي په يوه دولتي شرکت کې کار کاوه، عبيدالله يې هم وروغوښت، همدې شرکت کې يې له ځان سره په دنده وګماره، علاوه ددې چې معاشات يې لوړ و، څه نورې د اضافه کارۍ او بخششتۍ پيسې هم لاس ته ورتلې، ډېر پکې خوشحاله و، يوه ورځ په رخصتۍ کور ته راغی، غالباً د مني موسم و، زه ډېر سخت ناروغ وم، پښو مې هېڅ زور نه اخيست، ان له اطاق نه تشناب ته هم خپله نشوی تللی، نه د بل چا له مرستې پرته جګېدلی شوی، ددې وضعيت په ليدو مې راته مخاطب شو:

- لالا! ميدان ښار کې د ملا ګونګي په نوم يو ډېر ښه ملا دی، زښته ډېر ناروغان ورځي، ورسره ښه کېږي، پرته د ناروغانو له علاج د چا چې څه ورک وي، غل ورته ښايي، څوک چې بې کاره وي کار نه ورته پيداکېږي، تعويذ ورته کوي، سم له لاسه پکار کېږي، همداسې په چا چې پېريان ناست وي ترې جګوي يې...

که خوښه دې وي؟ سبا به زه او ته هم ورشو، خدای ج مهربانه دی که يو ځل ته هم ورسره ښه شې.

د ملا ګونګي د نوم په يادولو سره يې ماته د شينوارو د زيارت شپه رایاد کړه، په سخته ناروغۍ او خفګان کې يې خندا راوسته، بيا مې په لنډو کې کيسه ورته وکړه، چې ګواکې ملا ګونګي ته زه ډېر مخکې ورغلی يم، هغه وخت ته وړوکی وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شینوارو ته يې د شپولي بابا په نوم زيارت کې د شپې کولو لپاره ولېږو؛ دغه راز شینوارو ته د تللو، زيارت کې د وېرېدو او په نيمه شپه ترې راتښتېدو ټول جریان مې ورته بیان کړ.

ده هم وخندل، خو لا يې هم ټينګار کاوه، چې سبا يوځل بيا ورځو، هغه وخت ځکه نه يې ورسره ښه شوی، چې زيارت کې دې شپه نه ده کړې ترې تښتی يې، کنه اوس به ښه وې.

سبا يې يو ډرېور ملګری سره له موټره راوغوښت، نرخ ته روان شو، د ډاکټر اشرف غني د واکمنۍ لمړۍ دوره وه، ډرېور ملګری يې سالنګی و، په لارو يې د خپلې باتورۍ او تورزنۍ غورې کولې، خو د ميدان ښار له چوک نه چې د نرخ په سرک وروګرځېدو، د سيوچ بولټ په سر يې وړوکی دری رنګی ملي بيراغ درولی و، لاس يې ورتېر کړ، بيراغ يې راواخيست، د چوکيو په قات کې يې تخته کړ، وېل يې: هاخوا طالبان دي، که يې وليد، ولاکه مو د مړي او ژوندي پته ولګېږي.

له کابل نه تر ميدان ښاره، دده د باتورۍ غورو او دلته له طالبانونه دومره وېرې ته په کتو يې، موږ وخندل، ورور مې لږ ټوکې هم پرې وکړې.

نرخ ته چې ورسېدو، د ملا په دروازه او د کلا تر مخ پټيو کې يې همغه شان ګڼه ګونه وه، کوم چې لس دولس کاله مخکې ما ليدلې وه، ډېر زيات، ناروغان خلکو ورته راوستلي و، په دوی کې ډېری داسې ناروغان و چې په شاه يې راوړي و، ځينې ليونيان يا عصبي ناروغان و، يو خو داسې چور ليونی پکې و، چې په دريو پايوازانو يې هم نشوی تکيه کولای، دغه راز پيرياني ناروغان هم زيات ورته راوستل شوي و، دروازې ته مخامخ پټيو کې چا څادر، چا کمپلې او فرشونه هوار کړي و، دری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور ښځې، نارينه له خپلو ناروغانو ګرد چاپېره ناست و، د نوبتونو ورسېدو ته يې شېبې شمېرلې، مور هم د ناروغانو په ليست کې خپل نوم وليکه؛ شاوخوا پنځوس ناروغان رانه مخکې و، فکر مې نه کاوه، چې نن به نوبت راورسېږي، ځکه چې تر دې دمه يې ايله پروني پاتې ناروغان کتلي و، نن‌ني پنځوس خو ټول ځای په ځای پاتې و.

بيا ښه و ورور مې کومه لاره جوړ کړه، زه يې په عاجلو ناروغانو کې ورتېر کړم، ملا ته چې ورغلو، وېرېدم، څو هسې نه اوس بيا د شينوارو زيارت ته د تلو راته ووايي، يا که پېريان يې رښتيا تابع وي، له زيارت نه د هغه بل ځل تېښتې مې يې نه وي خبر کړی، بې آبه به مې کړي.

خو کله چې ورغلم، ويې نه پېژندم، له ده او پيريانو يې هغه پخوانۍ کيسې پاکې هېرې وې، نه ما ورته ووېل چې يو ځل پخوا هم راغلی وم.

مړوند مې يې په لاس کې ونيوه، بل لاس يې زما په سر او مخ څو ځل راکش کړ، بيا يې دواړه لاسونه له سينې لرې او يو بل نه د ډېرې فاصلې په لرلو سره د دعا په بڼه نيولي و، د څو شېبو لپاره يې له ځان سره په نيمه نيمه ژبه څه ويل، شاوخوا دوې دقيقې په همدې حالت کې پاتې شو، وروسته يې لاس راټول کړل، له جيب نه يې دوه نوي قات کړي کاغذونه راويستل، ورور ته مې مخاطب شو، څه يې ويل، خو مور يې په خبره سم نه پوهېدو؛ همدا و چې يو بل کس راوړاندې شو، ورور ته مې يې کړل: ملا صاحب وايي ستا په ورور ظالمانو ډېرې سختې کوډې کړې، اوس مې يې اثر له منځه يوړه، نور تاثير نه پرې لري، دا تعويذ او څاښت هم واخله چې بيا يې پرې تازه نکړي، تعويذ ته درې سپين، يو د چرم پوښ وکړئ، په غاړه کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورواچوئ، څاښت په پاکو اوبو کې حل کړئ، اوه ورځې هر سهار پس له لمانځه یو، یو ګیلاس وروڅښئ.

عبیدالله تعویذ او څاښت ترې راواخیستل، جیب ته یې لاس کړ، هغه وخت یو خوا نوی ځوان و، بلخوا یې دنده ښه وه، ډېر د پیسو کیسه کې نه و، نه پوهېږم زر وې، که دوه زره روپۍ یې د ملا د واسکټ په څنګ جیب کې ورکېښودې، فکر کړم د آغا صیب لقب یې ورته وکاره و، د مننې ترې کولو سره غلی په موسکۍ او عذرانه ژبه یې د هغه جادو کوونکي د ورښودو غوښتنه ترې وکړه.

ملا وخندل وېل یې: کوډې مې یې درته خنثا کړې، بیا یې نشي کولای، نور په کس پسې مه ګرځه، عبیدالله لا هم ټینګار کاوه، چې ګویا څه ورته وایم نه، صرف چې ویې پېژنم.

ولې ملا بیا هم ورونښود، کور ته چې راغلو مور مې تعویذ راته وګانډه، څاښت یې پاکو اوبو کې جوړ کړ، که څه هم زما ډېر یقین نه ورته کېده، خاصه د شفاء هیله مې نه ترې لاره، مګر د کورنۍ د ځینو غړو مو په توکل د خدای ج سره، څه سترګې وې ورته، خاصتاً عبیدالله ډېر خوشبین و.

دغه راز لکه پخوا مې هم چې څو ځل کوډې یستلې وې او بیا زما په شمول د کورنۍ غړي مو د شناخته خلکو او دوستانو له جملې په بعضې کسانو بدګومانه و، چې ګواکي دا کوډې هرومرو پلانکي کړې، بل به وېل چې نه له پلانکۍ پرته، د بل چا کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې خدای ج دې ښېنه وکړي، دا ځل مو هم په ډېرو خورانو ټاپې ووهلې، تورونه مو پرې پورې کړل، خو شپې، ورځې، هفتې او میاشتې تېرې شوې، مګر په ناوروغۍ کې د خنثا شو ګوډو، هېڅ کوم د ښه والي اثر رامعلوم نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرګ غوښتنه

سره ددې چې د داخل او خارج ډاکترانو ځواب راکړی و، په سلګونه ملایانو، زیارتونو حکیمانو.... مې هم درملنه ونشوه، ولې بیا هم تر هغو چې کابل ته نه و راکډه شوي، زړه مې نه و مات، ناروغي مې د څه وخت موقته میلمنه بله، خپله راتلونکې مې ښکلې پیشبیني کاوه، خوا او خاطر کې نه راتېرېده، چې د تل لپاره به همداسې ناروغ پاتې شم، حتا د وخت په تېرېدو سره به لا له بدبتر او د یو معیوب انسان په صفت به د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار یم، پرله پسې او یو تر بل سختو جسمي او رواني سکنجو سره به مخ کېږم.

اما کابل ته په راتلو سر څنګه چې محیط هم بې اغیزې نه وي، د یو کس په کړو وړو او فکر کې تغیر راولي، بلخوا د طبیعي پروسې له مخې د عمر په زیاتېدو سره د انسان عقل او افکار پخېږي، د خیالي رنګینې نړۍ او هوسونو په ځای حقایق درک کوي.

همدا و چې زما هم کرار کرار فکر بدلېده، د خپلې راتلونکې په اړه مې اندیښنه زیاتېده، د پخوا برخلاف ډېره خرابه مې تصوروله، چې په پایله کې یې نه یوازې د لنډ وخت په تېرېدو سره د بدن غوښې رااوبه کړې، بلکې خوی خصلت مې یې هم کاملاً راتغیر کړ، چون مخکې ډېر اجتماعي وم، میلمه مې خوښېده، له ملګرو سره د ناستې پاستې زیات علاقه مند وم، د کلي کور دوستانو په ښه او بده کې ګډون او همکارۍ خوند راکاوه، مګر تر دې وروسته له ژونده د یو لاس مینځلي ناروغ په شان زړه کې هېڅ زور نه نشو راپاتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې د نيازبيک د کوچۍ په کيسه کې مې يادونه کړې، يو قسم انزوايي حالت ته ولاړم، ان د خپل فاميل د غړو مجلس او خبرې به هم راباندې بوج کېدې، څو به چا مجبور نه کړم، د کور په مشورو او پرېکړو کې مې هم ځان نه د خيلاوه، دې وضعيت دوه درې کاله دوام وکړ، نور مې کورنۍ هم له همدې حال سره عادت شوه، چا کار نه رالاره، نه يې کومه اضافي خبره راسره کوله، دوی ټول په يوه دسترخوان سره راټولېدل، زما ډوډۍ مې يې اطاق ته رالېږه، په همدې اصطرابي او انزوايي حالت کې مې يوه ورځ مور راته وېل:

- زويه! په تا پسې ورونه دې نور ښه د واده کولو سن ته رسېدلي، خو لمړی ستا حق دی، د يو غريب سړي د نوم په اخيستلو سره يې زياته کړه: ښه لور يې ده، باور لرم چې ترې ويې غواړو، په نيمه خوله يې راکوي!

- نه مورې! زه واده نه کوم، زما لخوا اجازه ده، هر څوک او هر چېرته يې چې ورته کوې، نورو زامنو ته دې وادونه وکړه!

دې فکر وکړ چې ګواکې د ياد سړي لور ته يې ددوی د ډېر غربت او خوار ژوند له کبله خوښه ونه شوه، ورغبرګه مې کړه:

- نه مورې! دغه خبره نه ده، غربت عيب نه دی، موږ هم خانان نه يو، اصلاً زه چې تر څو ښه نشم، که د وخت د پاچا (ډاکتر اشرف غني) لور کورته راپسې راشي، هم نه يې کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- احتياجېږې زويه! ترڅو به دې زه او پلار درته ژوندي و، ته به له مور سره اوسې؟ واده وکړه، يو دوه اولاونه به خدای ج درکړي، څو چې مور شته يو، په همدې ګډ کور کې به رالوی شي، بله ورځ به دې د ورونو محتاج نه يې!

- ستا له مهربانۍ او له ما سره نهايي همدردۍ قربان مورې! مګر واده ډېر لوی مسوليت دی، تر هغو چې د يو ښه خاوند او پلار په صفت د ښځې او اولاد ټولو مسوليتونو او حقوقو ته د رسيدګی باور مې په ځان نه وي پيدا کړی، داسې واده نه کوم لکه...... (مثال کې مې زمونږ شناخته يو معيوب کس ورته ياد کړ) چې د ښځې او بچيانو يې ټول عمر د نورو خلکو په خيراتي زاړو لباسونو کې تېر شو، د کلي کور په عشرونو او زکاتونو پايي!

- نه زويه! چيټې چورتونه مه وهه، تر هغو چې مور ژوندي يو، هېڅ کله به ان شاءالله ستا ښځه اولادونه له چا کم نه شي، نه به د چا زاړه واغوندي، نه به هم وږي شي!

- ستانه بيا هم مننه مورې! مګر ټينګار مه کوه، تنها زه بس يم، چې ستاسو يا کورنۍ د اوږو بار يم، هېڅکله به نه د کورنۍ پېټی نور دروند کړم او نه به هم ماته په تقدير کې ليکلي عذاب کې يوه بې ګنا ښځه او ماشومان کالونه په دې نيت راسره وکړوم، ترڅو راتلونکي کې زما خدمت وکړي، چې چاته احتياج نشم. نه! توکل په الله هر څه چې راکېږي، کېږي به، بل څوک په دې اور کې نه راسره ډاډه کوم!

- بې عقل کېږه مه زويه! ګوره يو وخت به مې ددې خبرو آرمان وکړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که همداسې ناروغ وم مورې! خو هېڅکله به يې ارمان ونه کړم او که چېرې الله ج ښه کړم، بيا به وګورې، ان شاءالله داسې ښځه به وکړم، د چا خبره چې جوړه يې نه وي او که نه ښه کېږم بيا نو د ناروغۍ زياتېدو او پرمختګ ته په کتو مې، لمړی فکر نه کړم، چې نور ډېر د ژوند کولو چانس راکړي، ولې بيا که ژوندی هم وم، هر حال مې چې و، يوازې خپل غم به مې وي، په ښځه او بچيانو خو به مې سترګې نه سوځي!

مور مې پوه شوه، چې په خپله خبره کلک دی، له يوې شېبې چوف پاتې کېده وروسته، په نمجنو سترګو جګه شوه.

څه وخت پس يې بيا هم همدا خبره راته وکړه، مګر زما لخوا دا ځل هم ځواب منفي و.

بالاخره پوره يقيني شوه، چې نه قانع کېږي، دغه و چې نور مې په ما پسې ورور همايون ته لاس په کار شوه، پايله کې يې څه وخت وروسته د کوزدې ګل ورته راوړه، په دې سره اعلاوه ددې چې ما خپله واده کول نه غوښتل، مور ته مې بار بار ځواب ورکړی و، لا هم پښيمانه نه وم، ولې بيا هم واقعاً ډېر بد اثر يې راباندې وکړ، ورور مې ښه هلک دی، په کوزده او خوشحالۍ يې نه وم خفه او نه مې نيت پرې بد و، زما مې يوازې په خپل مظلوميت زړه ودردېده، تر بل هر وخت مې د خپلې ظالمې ناروغۍ زياته بې رحمي احساس کړه.

اما بيا هم ظاهراً مې په ټول توان هڅه کوله، ترڅو د راتولو دوستانو، ميلمنو په وړاندې ځان نورمال وښايم، مګر زړه مې سينه کې غېږې ارادي غلې غلې اوښکې څڅولې، دوامدار يې ژړل، هسې له خپل نصيب نه زياته ګيله راته ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په هر حال د انساني فطرت له مخې د وخت په تېرېدو کرار کرار ورسره عادي او واپس خپل حالت ته راوګرځېدم، درې کاله وروسته مې دویم ورور عبیدالله کوزده شو، دا هم بې اثر نه و، خو د همایون د کوزدې په اندازه نه. دغه راز خویندې هم واده شوې، همایون او عبیدالله جدا شول، په کور کې لوی تحول رامنځ ته شو، زما د غبږ اورېده او له ما سره په ناروغۍ کې همکار ډېره برخه د کور غړي مې له سترګو پنا شول، ددې وضعیت د بدې اغېزې راباندې پرېوتو نتیجه کې مې د کم وخت په تېرېدو سره ناروغي یو په درې شوه، د پښو سربېره پړسوب ګېډه هم لاندې کړه، دواړه سږي مې له اوبو ډک شول، نفس مې په ډېر فشار اخیست، د اوږدې مودې لپاره یې بستره کې ځای په ځای وغورځوم، ان په یو اړخ او بل اړخ به مې هم مور او راپاتې دوو کوچنیو خویندو اړوم، رااړوم؛ د سختې ځان دردۍ له وجې روغ لیونی وم، کوم اندام به مې چې ناپامه لږ هم وخوځېده، ته وا د تبر ګوزار پرې وشو، غېرې شعوري به مې په ډېر لوړ غږ چیغه تر خوله ووتله، د شپې لخوا مې مور اطاق کې راسره پرېوتله، د نورو شپو په شان یوه شپه مې د سخت درد په مهال ناڅاپه جګه چیغه له خولې ووته، مور مې ویده وه، له وېرې یې پورته ټوپ کړل، راویښه شوه، له ټولې مورنۍ مینې او مهربانۍ سره سره، په وېرېدلې او وارخطا غږ یې راغبرګه کړه: آ مرګ زړه مې دې له پردې ویست، خدای ج دې نور رانه واخله!

ملامته نه و، چې هره مور وی دا خبره به یې کوله، چون مور که هر څو د مهربانۍ او شفقت لوی غر وي، بیا هم انسان دی طبعاً یو نیم وخت به بې حوصلې کیږي، د شپه او ورځ ځار، قربان تر څنګه یوه نیمه ترخه به هم کوي.

بلخوا سربېره ددې چې زه په خوږو کې نسبتاً تکړه یم، ډېر زګیروي او فریاد مې عادت نه دی، حتا پرې شرمېږم، یو قسم بې غیرتي مې یې محسوسه وم، خو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيغې مې کاملاً له اختياره وتلې وې او داسې چيټې چيغې هم نه وې، ان د څلور طرفه ګاونډيانو په کورونو کې به يې ازانګې جوړې کړې، راسره ناارامه کړي مې و، باوري يم که ښکنځل يې نه وي کړي، نو دا خو به يې حتماً لحظه په لحظه وېلي وي چې: نور دې خداى ج پخير په مخ رڼا کړه، چې دا غوږونه مو درنه آرام شي.

د سختې ناروغۍ علاوه، ډېر وخت، يعنې څه باندې يو کال بستره کې د ځاى په ځاى پرېوتلو له وجې مې د شاه پوست له توشکې سره سولېدلی و، څو لوی لوی زخمونه پکې جوړ شوي و، که څه هم مور مې له جنډونه يو ډول ګردې ګردې منجولې ورته جوړې کړې وې، په داسې شکل به مې يې د شاه تر تخته رالاندې کولې چې زخمي برخې به له ځمکې په لړ راجګېدو سره ډېرې په توشکې نه لګېدې، ولې بيا هم خورا زيات سوخت به يې کاوه، څنګه چې دې حالت ته په کليواله ژبه د ناروغ لګېدل وايي او دا اصلاً د ناروغ ۹۹ درجې خطرناک حد ته د رسېدو زنګ دی.

پس کورنۍ مې زما لپاره هم د کفن او زامو د راتړلو تر لتې پورې د مرګ تيارى نيولي و، ما هم له دې يوه شپېه نه تحملېدونکي وضعيت نه د وتلو په پار، د هر زګېروي او هرې چيغې سره ګډ د کايناتو له ستر واکمن نه زر تر زره د مرګ او ارامۍ غوښتنه کوله، مګر الله ج وېل چې نه، ته راځه دا فلم اوږد دی، دومره زر به خلاص نه شي، لکه ته يې چې غوښتنه کوې، يا يې د کورنۍ او دوستان د پاى ته رسېدو شپېې شمېرې.

همدا و چې پس له څه کم او زيات دوو کالونو يې د فلم اوږد والي او د صحنې بدلېدو ته په داسې عجيب او غريب ډول زمينه مساعده کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه خور او اوښى مې تازه امريکا ته تللي و، اصلاً دوى چې تلل، زه په همدې سخت اصطراري حالت کې وم، اوښى مې سر خلاصى سړى دى، ده زما حالت درک کړى و، له رسېدو سره سم يې يو قسم انرژي زا او د اصطراب يا استرس ضد ګولۍ (تابليت) راته راوليږل، د دوا په پيلولو سره مې په ډېره چټکۍ د اندامونو درد او ذهني فشار مخ په کمېدو شو، پنځمه ورځ چېرکټ کې راکېناستم، بله ورځ مې پښې راوځړولې، همداسې په لسم سهار ودرېدم، بالاخره د مياشتې تر اخيره مې د جوړه ټککونو په مرسته قدمونه واخيستل، همداسې ورځ تر بلې مې د قدم وهلو ساحه زياتېده، تر دې چې د کارته سخي بازار ته راښکته شوم، يو نيم مازيګرى به ژبې يا کوم پارک ته وتلوېدم. د جمعې په ورځ به مې هڅه کوله چې د افغان ادبي بهير په غونډو کې ګډون وکړم، همداسې کابل ښار کې ميشت دوستانو کره مې تله راتله پيل کړل، البته دا درمل داسې نه و چې زما د اوږد مهاله ناروغۍ اساسي درملنه يې کړې وى، د پښو پړسوب او ګېډې پړسوب مې يې کېنولى وى، يا مې يې له سرو اوبه تخليه کړې وى، نه بلکې صرف ورځنۍ انرژي يې پوره کوله او عصبي فشار يې کماوه، چې په نتيجه کې يې انسان ته د څو ساعتونو ايلا يوې ورځې لپاره د عضلاتو قوت او رواني ارامتيا ښله، معنا يوې ګولۍ ټول ټال تر بېګا کار کاوه، سهار به مې بله خوړله، ښه و بوتل يې لوى و ۳۰۰ ګولۍ يې لرلې څه کم د يو کال دوا وه، سربېره له دې چې د نوي ژوند د راښلو سبب مې شوې، لږ وخت کې يې له هغه سخت اصطرابي او کوما حالت نه راويستلم، مګر بيا هم بې ټککو نشوى کرځېدلى، چون څنګه چې دوا يوازې تسکيني وه، کوم چې وړاندې مې ووېل، فقط ورځنۍ انرژي يې عياروله، د ناروغۍ بنستيزه درملنه کې مې يې کوم رول نه لاره، پس د پښو او ګېډې پړسوب په خپل ځاى و، د زياتو اوبو پکې جمع کېده له وجې مې بدن دروند و، بلخوا زيات وخت بستره کې د پرې وتلو له کبله مې د پښو او ملا عضلات هم لنډ شوي و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا و چې شاوخوا دوه کاله په ټککو وګرځېدم، ايله مې د بدن پلې (وژې) لږ رانرمې شوې، اګر چې ملا مې تر اوسه پورې شخوالى لري، پوره نيغ نشم درېدلاى، ولې بيا هم الحمدالله وروسته له يونيم، دوه کالونو مې ټکک هم کېښودل، البته لا هم زيات نشوى ګرځېدلى، يوازې کور او چارچاپېر نژدې محيط کې به ارام ارام تاوېدم، نفس تنګي مې ډېره زيات وه، علي اباد روغتون ته ولاړم، ډاکترانو راته ووېل: ابن سينا صدري روغتون ته ولاړ شه، دلته له سږو نه اوبه نه يستل کيږي، صدري روغتون کې هم ډاکتر هسې له ځان راتېر کړم، يو دوه قسمه دوا يې راته وليکه وېل يې: سږو کې دې اوبه کمې دي، په پايپ يستلو ته يې اړتيا نشته، له دوا سره ښه کيږې، که څه هم په خبره يې خوشحاله شوم، خو داسې نه وه، دوې درى ورځې مې يې دوا وخوړه، کار يې نه ورکاوه، مجبور شوم کوټه سنګي کې د يوريولوژى د ځانګې د يو متخصص ډاکتر شخصي کلينک ته ورغلم، نوم مې يې هېر دى تخلص يې امرخيل و، د سيلو طرف ته د کوټسنګي د پله اخير کې ښي لاس ته يې کلينک و، نه پوهېږم دوه سوه که دونيم سوه يې فيس شو، څه کم او زيات پنځه سوه افغانى يې د اکسرې شوې، د تلويزوني معاينې يې خدايزده څو رانه واخيستې، د معايناتو تر تکمېلېدو وروسته يې خط راته وليکه وېل يې: ورشه دا علي اباد روغتون کې نکريوال ډاکتر ته وښيه چې بستر دې کړي سبا به دې له سږو اوبه وباسي.

ورغبرګه مې کړه:

- ډاکتر صاحب! زه درى ورځې وړاندې ورغلى وم، علي اباد روغتون کې د سږو اوبه نه ايستل کيږي.

راغبرګه يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يو ستا ورتلل دي، يو زما ورلېږل، ته ورشه که څه مشکل و بيا ماته زنګ وکړه.

د ډاکتر خط مې چې علي اباد روغتون کې راپه ګوته شوي ډاکتر ته وښود، زر زر يې دوسيه راته جوړه کړه بستر يې کړم، په سبا مې يې سږو کې د جمع شو اوبو د تخليې په پار د شاه له طرفه د پوښتيو تر قات د يوې غټې اوږدې ستنې په وسيله يو پايپ سږو ته تېر کړ، شاوخوا دوه ليتره اوبه يې ترې راويستې، په دې سره يوه اندازه د بدن د سپکوالي تر څنګ، نفس تنګي مې هم څه ښه شوه، خو متاسفانه د سږو همدا لار شوه، نور که په بستره کې هم نه وم پروت، هرو شپږو، اوو مياشتو کې به يو ځل له اوبو راډکېدل، نفس به يې راقيد کړ، پس مجبور وم چې بيا، بيا روغتون ته ولاړ شم او تخليه يې کړم، خو په ټول کې ددې واړه مشکلاتو سره سره دا حال مې پاچاهي ګاڼه، چون هر څو که پښې او ګېډه لا هم زيات پړسېدلي و، سږو کې اوبه جمع کېدې، مګر د هغه دوزخي حالت نه راوتلی وم، چې له درده مې ساه نشوی اخيستی، شپه او ورځ به مې چيغې وهلې، ننني وضعيت مې د الله ج ډېره لويه لورينه او د نوي ژوند موندلو په ښه غنمت ګاڼه.

ممکن د امريکايي درملو اغېز به هم و، خو تر ډېره مې د نوي موندلي ژوند د خوشحالی په پايله کې هغه له دې سختې ناروغۍ وړاندې راته پيدا شوې د منزوي کېدو مفکره يا رواني ستونزه هم له منځه ولاړه، يو ځل بيا مې په درون کې له دوستانو، ملګرو سره د ليدنې، ناستې ولاړې او مجلس کولو وچې چينې رالندې شوې، همداسې پس له اوږدې مودې وقفې مې د مطالعې له کتابونو ګردونه ټکوهل، يو نيم شعر به مې ليکه، د نيمګړي رانه پاتې ناول او نورو ادبي ليکنو په بشپړولو مې قلم راواخيست. ددې علاوه له شعر او شاعرۍ، ليکوالۍ سره د پخې مينې له مخې اکثريت وخت به د ځينې اديبانو ملګرو کار ځای ته ورتللم، دوی به مې کور ته راغوښتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفريحي سيمو کې به کېناستو، د ادب په اړه هر اړخيز نظريات او شعرونه به مو سره شريکول، موقعت ته په پام، کله به ځينو ښکلي حنجره لرونکو ملګرو په ګډ غږ کې کومه سندره پرې واخيسته، نوې او جالبې ټپې به يې پکې اچولې، سم خوند به يې وکړ، زياتره وخت به مو مجلس د کوم ليکوال په نثر، ناول يا لنډه کيسه متمرکز و، د ځان پوهاوي يا درس ترې اخيستو په پار به مو يې په خلاص لاس خوبۍ او نيمګړتياوې بيانولې.

البته نه يوازې هغه وخت اوس مې هم د ناستې پاستې د ملګرو ډېره برخه ادبپال ځوانان دي، له دوی سره مينه او ملګرتيا مې نه يوازې د ادبي همفکرۍ له مخې خوښه ده، بلکې په تېر شاوخوا درې نيمې لسيزې تولنيز ژوند کې مې د هر مسلک او بېلا بېل فکر لرونکو خلکو سره د وخت تېرولو په اساس، ډاډه ويلی شم، چې نسبت نورو عامو وګړو ته، ادب پال يا ليکوالان او شاعران حتا کوم څوک که خپله شاعري او ليکوالي هم نه کوي، يوازې ادب ذوقه يا د ادب، ليک لوست، مينوال هم اوسي، اکثريت يې ډېر نرم او له مينې ډک زړونه لري، دوی تر ډېره مثبت فکره وي، مقابل کس اسانه درک کولای شي، خبرې، کړه وړه يې په اخلاص او صداقت ولاړ وي، د نورو په درناوي سره خپل درناوی ساتي.

بناءً بې صحتۍ ته مې په کتو، نوموړو ادب پالو ملګرو به مې زما هم خورا زيات خاطر ساته، دا و چې زړه مې ورسره تړلی و او تر ننه مينه ورسره لرم.

خو ځنګه چې وېل کېږي: شاعري او ليکوالي يوه ذوقي مسله ده، د مالي ضرورتونو د پوره کولو او ژوند مخ ته وړلو لپاره د نورو انسانانو په شان هر شاعر او ليکوال هم اړ دی، چې د ادب پالنې سره خوا کې يو بل کار او بار وکړي، دغه و چې له ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هم د يو سپک عايد پيدا کولو غم پيدا شو، هغه عايد نه چې د کورنۍ اړتياوې مو پرې پوره شوې وی، چون زما صحت لا هم د دومره درانه بار د پورته کېدو نه و، الحمدالله ورونه او پلار مې و، د کور غم د دوی په غاړه و، له ماسره يوازې د خپل جيب خرڅ غم و، يا هم د هغه اندازه پيسو پيداکولو په هڅه کې وم، کوم چې رحمان بابا وايي:

هسې نه چې په دنيا پسې زهير يم

د دلبرو صـــــدقې لره يې غواړم

خو دا چې يوخوا مې لا هم د وخت مقيده او چا تر لاس لاندې دندې اخيستلو او رسيدګي ورته کولو توانايي په ځان کې نه ليده، بلخوا زما غوندې کسانو لپاره تر ټولو اسانه کار دوکاندرۍ کې مې هم له ننه څو کاله وړاندې ماتې خوړلې وه، کوم چې د اوس په پرتله هغه وخت مې صحت هم څه ښه و، دغه و چې بيا مې زړه نشوی ورته نيولی او نه مې دا وخت پيسې لرلې، چې په دوکان يا کوم بل کار مې بندې کړې وی.

بالاخره ورور مې عبيدالله په کوټسنګي کې د مبايلونو ترميمګاه يا ورکشاف لاره، له ده نه مې د ياد کسب د راښودلو غوښتنه وکړه، عبيدالله مې غوښتنه په ورين تندي ومنله، حتا تشويق يې هم کړم، زما صحت ته په پام وېل يې: تر څو دې چې په چوکۍ د کېناستو تاب لاره، کېنه کار زده کوه، چې خسته کېدې يا دې په پښو فشار راتلو، بالښت شته، د مېز شاته آرام څمله، هر کله دې چې وضعيت ښه کېده، بيا راځګېږه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې پسې زياته يې کړه: ته که جسماً هر څو ناروغ او بې انرژۍ يې، خو ذهن دې ماشاءالله ښه دی، ان شاءالله ډېر زر به يې زده کړې، بيا د کارته سخي بازار کې يو وړوکی دوکان ونيسه، يو ساعت کار کوه، بل ساعت ارام پرېوځه، دمه دې جوړوه، ټوله ورځ کې چې يوازې دوه ساعته هم کار وکړې، دومره پيسې پيدا کولای شې، چې ستا اړتياوې او جيب خرچ پوره کړي، په خبره يې خوشحاله شوم، همغه و چې هر سهار به ورتللم، څنګه چې ده راته ويلي و، تر هغو چې چوکۍ کې د کېناستو انرژي به مې لرله، ناست به وم، کار مې زده کاوه، چې د پښو پړسوب او سوخت به زيات شو، يا به مې ژبه وچه شوه، پوه به شوم چې د بانديني بدن اوبه ښکته ولاړې فشار ټيټ شو، زر به له چوکۍ راښکته شوم، لاندې په فرش به پرېوتلم، پښې به مې هم په کوم شي لوړې ورواچوې.

هر کله به مې چې وضعيت ښه شو، بيا به ورجګ شوم، په همدې ډول مې تقريباً يوه نيمه مياشت ورسره تېره کړه، د عبيدالله سربېره د دوکان شريک يې وحيدالله هم ښه هلک و، د کار اړوند ډېرې پوښتنې به مې ترې کولې، دغه و چې ددې يوې نيمې مياشتې په لړ کې مې دومره کار زده کړ، چې نور مې کرار کرار د خپل دوکان جوړولو ته وزر سوځېدل.

خو بدبختانه په همدې حساس وخت کې يوه شپه دولس بجې د خوب په مهال مې پرته له کوم دليله ناګهانه ډېره سخته ساه بنده شوه، تقريباً ان د کوما حالت ته يې ورسولم، د کورنۍ غړو مې بيا هم موږ ته نژدې علي اباد روغتون ته يوړم، ډاکترانو اکسجن راته بند کړل، په دې سره مې څه ناڅه دمه جوړه شوه، سبا يې ډېر معاينات راباندې وکړل، خو کوم خاص تشخيص يې پيدا نکړ، روغتون کې له پنځه ورځې بستر وروسته، د ډاکترانو پرېکړه دا شوه، چې کوم نوی مشکل نه دی، نفس تنګي يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سابقه ناروغۍ له وجې ده، په سږو کې د اوبو جمع کېدو له کبله یې د سږو نسجونه تخریب شوي، اکسجن نشي جذبولی، ناروغ باید د رګونو متخصص ډاکتر ته واستول شي، تر څو د هغه بندو رګونو درملنه یې وکړي چې د اوبو د ویش سیستم یې مختل کړی، په دې سره به بیا سږو ته اوبه نه داخلیږي، خپل فعالیت ته به راوګرځي.

دغه و چې علي اباد روغتون ته څېرمه د کابل پوهنتون د طب د پوهنځۍ مربوط، د زړه او سینې د ناروغیو انستیتیوت ته یې ورولیږم، د یاد انستیتیوت سر طبیب یو ځوان ډاکتر و، د زړه د جراحي په برخه کې یې تخصص کړی و، نوموړي مې چې معاینات وکتل، یوه ډېره عجیبه او نوې خبره یې وکړه، وېل یې: ته اصلاً هېڅ د رګونو مشکل نه لرې، له زړه چاپېره پرده دې کلکه او ډبله شوې، د زړه فعالیت یې محدود کړی، دا د پښو، ګېډې پړسوبونه او ساه بندي دې ټول له دې کبله دي، د درملنې لپاره یې یوې لویې جراحي ته اړتیا ده، چې د سینې هډوکي یا قفس په بشپړ ډول پکې خلاصیږي او زړه بهر رایستل کیږي، د کلکې شوې پردې ترې لرې کولو وروسته زړه واپس په خپل ځای اینښودل کیږي، هډوکي او عضلات پسې ګنډل کیږي، ډاکتر خپلو خبرو ته دوام ورکړ وېل یې: که څه هم د زړه په جراحیو کې تر ټولو خطرناکه او پیچلې جراحي ده، ولې که کامیابه شوه، ان شاءالله د پښو او ګېډې پړسوبونه، ساه بندي همداسې نورې ټولې ستونزې به دې ورسره حل شي.

ددې خبرې په اورېدو مې له بدن نه سور تاو پورته شو، پرته له څه وېلو مې څو لحظې ډاکتر ته حیران بریان وکتل، وروسته مې ورته ووېل: ډاکتر صاحب**!** زما دا ناروغي خو له ډېرو کالونو پخوانۍ ده، د کابل د ډاکترانو له خوب راکولو، وروسته پاکستان او هند ته هم تللی یم، مګر تر اوسه یوه ډاکتر نه و راته وېلي چې ګویا ستا مشکل د زړه دي، دا پړسوبونه او ټولې ستونزې دې له همدې وجې دي. بلکې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل چې دا د لمفديما په نوم يو نوعه د رګونو ناروغي ده، په بدن کې د اوبو د ويش سيستم تخربېه وي، چې په پايله کې يې اوبه د ناسم مديريت له وجې د وجود په ځينو برخو کې جمع کېږي، پړسوب رامنځ ته کوي او له بده مرغه د نړۍ په سطحه طبابت يې تر اوسه په درملنه کې پر دی، يعني يوه ناعلاجه ناروغي ده.

ډاکتر مې دې خبرو ته هېڅ ارزښت ورنکړ، د هندي او پاکستاني ډاکترانو خبره يې غيرې مستقيم نقد کړه، مانا په خوله يې څه ونه ويل خو له څهرې او انداز نه يې داسې ښکارېده، چې هندوان او پاکستاني يې زما د ناروغۍ په سم تشخيض کې ناتوانه يا غلط شوي وګڼل، په خپله خبره يې تاکيد وکړ.

يو خوا د خوشحالۍ خبره وه چې په تېر څلور ويشت کاله درمليز دور کې مې د لمړي ځل لپاره يو ډاکتر پيدا شو چې زما د اوږد مهاله او سختې ناروغۍ د بشپړې درملنې خوشبيني يې راکړه؛ بلخوا زما دوې نيمې لسيزې رنځ ځپلي خورا ضعيفه بدن او دومره لوی او خطرناک عمليات ته په کتو، له سلو رګونو مې په يو رګ کې هم نه تېرېده، چې ژوندی دې ترې ووځم، عمليات دې کامياب شي، عيني حال کې بل لوی شک او تشويش مې دا هم و، چې ايا رښتيا مخکني ټول ډاکتران به زما په تشخيص کې غلط شوي وي؟ که دا ډاکتر په بله ولاړو؟ هسې نه اوس مې ناکې سينه راچاک کړي، زړه راوباسي، بيا نه پرده کلکه وي، نه يې د زړه فعاليت محدود کړی وي؟

همدا و چې له ډاکتر نه مې يوه ورځ وخت وغوښت، مازيګر مې د مشورې په پار د واتساف له طريقه د ډاکتر صاحب احسان الله درمل سره اړيکه وکړه، د ځينې معايناتو عکسونه مې ورته ولېږل، درمل صاحب په لنډو کې ځواب راکړ ويل يې: زه د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داخله امراضو متخصيص يم، د جراحي په برخه کې د همغه جراح خبره معتبره ده.

دا چې د مرګ او ژوند موضوع وه، د درمل صاحب تر مختصر ځواب وروسته، فوراً له يو بل ملګري او کليوال ډاکټر سره مو تماس کې شوم، که څه هم نوموړي په کومه ځانګړې طبي رشته کې تخصص نه دی کړی، يوازې عمومي طبابت يې ويلی، کيسه مې ورته وکړه، په ډېر جديت او خوشبينتيا سره يې راغبرګه کړه: داسې ښکاري چې د ناروغۍ نښه دې پوره شوې؛ هوش کوه چانس له لاسه ورنکړې، روغتون ته حتماً ورشه، تر هغو چې يو ډاکټر سل فيصده د يوې ناروغۍ د تشخيص په اړه ځان مطمين نکړي، هېڅ کله دومره لوی اقدام نشي کولای، چون طبابت د الله ج په وړاندې ډېر ستر مسوليت دی، جراحان خو بيا ښېخي زيات مکلف دي، ترڅو دقت وکړي، ولې چې ډېره کمه اشتباه يې د يو انسان د مرګ سبب کېږي، پس ډاډه اوسه هره وېره او تشويش دې له زړه وباسه، مه د ډاکټر په تشخيص شک کوه، چې ګويا پاکستانيو، هندوانو يا نورو ډاکترانو ولې دا تشخيص ونشو کولای، چې يوازې دا يو ډاکټر وايي؟ درحالې کې چې افغاني ډاکتران نسبت هندي او پاکستاني ډاکترانو ته دومره پوهېږي هم نه.

ډاکټر د خپلو خبرو په ځواب کې زياته کړه: نه داسې نه ده، اصلاً دا زموږ او ستاسو منفيګرايي ده، چې په خپلو ډاکترانو باور نه لرو، کنې واقعيت کې موږ او تاسو الحمدالله ډېر تکړه ډاکتران لرو، دا چې ځينې ناروغان نورو هېوادونو ته اړ کېږي، د ډاکترانو نه، بلکې د ځينې طبي تجهيزاتو او معايناتو کمی دی، خو کوم تشخيصونه چې کېږي، په هغو کې هېڅ شک او شبهه نشته، بلخوا ته له نن نه شاوخوا ديرلس، څلورلس کاله وړاندې هند او پاکستان ته تللی يې، هغه وخت هند او پاکستان کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن په سويه د زړه د وضعيت چک کولو دقيقه ايکوګرافي، سی تي سکن او نور معاينات نه کېدل؛ دويم دا چې هغه وخت ستا يوازې پښې پړسېدلې وې، ګېډې دې پړسوب نه لاره، سږو کې دې اوبه نه جمع کېدې، نفس دې نه تنګېده، مانا د نن په شان دې ناروغي اوج ته نه وه رسېدلې، پس څومره چې د ناروغۍ علايم کم وي، تشخيص يې هم سخت وي، څومره چې ناروغي پرمختګ کوي، تشخيص يې اسانه کېږي، لهذا اوس چې دې ډاکتر پس له څه باندې شلو کالونو کوم تشخيص کړی، يو قوي دليل يې ستا د ناروغۍ شدت هم کېدی شي، په تکراري بڼه يې کړل: سبا حتما روغتون ته ورشه، انشاءالله روغ او جوړ به شې، هېڅ تشويش ونکړې، څومره چې خطرناک تصورېږي داسې نه ده، اوس طبابت مخکې تللی، د سينې خلاص عملياتونه ډېر اسانه شوي، خو پام دې وي هر ډاکتر يې هم نشي کولای، کابل کې يې د ګوتو په شمېر کوم ډاکتران چې کولای شي، هغه يې په خپلو شخصي روغتونونو کې کوي، له ناروغ نه څلور تر شپږ لکه افغانۍ اخلي، ستا خوشبختي دا هم ده، چې له ډېر سيله رحمه ډاکتر سره مخ شوی يې، زه فکر کوم ستاسو اقتصادي وضعيت، شل کلن درد او خور مو يې درک کړی، له مخې يې په دولتي روغتون کې د عملياتولو درته ويلې، پس يوه ذره غفلت ونکړې.

د کليوال ډاکتر ملګري مشوره که څه هم علمي نه، بلکې دده نظر و، خو تر ډېره تسکيني او قناعت بخش وه.

بېګاه مې د کورنۍ پرېکړه هم دا شوه، چې ګواکي سرې خو هسې هم مړ دی، توکل په خدای ج، عمليات به يې وکړو، څنګه چې ډاکتر وايي، الله ج مهربانه دی چې رښتيا يې همداسې د کامله صحت سبب شي، دغه و چې سبا له چای څښنلو وروسته روغتون ته ولاړو، د جراحۍ د ګروپ له مشر ډاکتر سره مې د عمليات د موفقيت خبره شريکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، ډاکتر مې پلار ګوښه کړ، د عمليات په لوړ خطر يې سر ورخلاص کړی و، چې ګويا دا ډېره ستره جراحي ده، د سينې قفس په بشپړ ډول پکې خلاصېږي، زړه بهر رايستل کېږي، څو ساعته وخت اخلي، ان ورته ويلي و چې ستا د زوی اوږد مهاله رنځ ځپلي او ضعيفه بدن ته په کتو، د عمليات په جريان کې يې تر اتيا فيصده د مرګ احتمال شته، پلار مې د موافقيت په پار ګوته ورته ايښې وه، دوسيه يې راته واچوه بستر يې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سینې چاق کول

څنګه چې د زړه د ناروغۍ د تشخیص او د ډاکتر په خبره یوې ډېرې سترې جراحۍ ته د اړتیا مقدمه مې وړاندې وکړه، دلته یې د جراحۍ جریان او پایله درسره شریکوم.

د بستر اطاقونه کوچني و، هر اطاق ټول ټال د دوو ناروغانو ځای لاره، زه یې چې کوم اطاق کې بستر کړم، دویم ناروغ یې هم نه لاره، یوازې وم، د روغتون اصول داسې و، له عملیات مخکې کوم ناروغ به چې زما په شان خپله تر تشنابه تللی او راتللی شوی، پایواز یې نه ورسره پرېښود.

پس څنګه چې تنهایۍ کې په انسان د شیطان غلبه زیاته وي، زما به هم څلور ویشت ساعته تمرکز په خپل عملیات و، د ډاکتر د خبرې اړوند زما ضعیفه بدن، د عملیات ستروالي او اتیا فیصده د مرګ خطر ته په کتو، خوا خاطر کې مې نه تېرېده، چې بیا دې دنیا ته سترګې ترې راوغړه وم، موبایل کې مې یوه نیمه سندره چې لرله، یا مې کوم شعر دیکلومه کړی و، ځینې نور زما د ذوق شیان چې له څو کلونو مې پکې جمعه کړې و، ټول مې حزب کړل، د کورنۍ لپاره مې د وصیت په پار یوه نوې ویدیو پکې وکړه، له ما سره د دوې لسیزې ناروغۍ په مهال د ایستلو زحمتونو او همکاریو د منني ترې کولو تر څنګ مې، له الله ج د زیات اجرونه ورکولو دعا ورته وکړه، دغه راز څنګه چې په ژوند کې هېڅ انسان بې خطا او بې ګناه نه دی، د کورنۍ په شمول مې له ټولو دوستانو د خپلو هغه خطاییو بښنه وغوښتله، چې د دوی د آزار او اذیت سبب شوي وي، یعني په ټوله معنا مې د مرګ تیاري ونیوه، په دنیا پاتې ژوند مې یوه اونۍ یا هم د عملیات د نوبت راسېدو تر ورځې همدا شپږ، اوه شپې ګاڼه، که څه هم په تېرو څلورویشتو کالونو کې مې د همدې ناروغۍ له کبله مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دوه ځله بېلا بېل عملياتونه کړي و، سختي مې ليدلې وې، بار بار له مرګ سره مخ شوی وم، خو دومره بې جرئته يا د چا خبره بې غيرته شوی نه وم، فکر کړم دلته يو خوا مخکې له مخکې د ډاکټر خبرې ډېرې وېرونکې وې، بلخوا اطاق کې تنها وم، هېڅوک نه و راسره چې حد اقل څه نا څه تسليت يې راکړی وای، يا له يوې بلې خوا غږېدلی وای، د څو دقيقو لپاره مې يې فکر په خپل مرګ له فوکس نه بل خوا ګرځولی وی.

دغه و چې د عمليات د ورځې تر راسېدو پورې دا شپږ، اوه شپې ډېرې سختې راباندې ترې شوې، د چا خبره نژدې يې له عمليات مخکې وژلی وم، د هرې ورځې په تېرېدو سره به زړه کې راتېرېده: پنځه ورځې مې په دنيا پاتې شوې، څلور پاتې شوې...

بالاخره د عمليات ورځ راورسېده، سهار ۹ بجې مې د جراحۍ په لباس، خولۍ او دستکشو ملبس دوه غبرګ ترېنر ډاکټران پېنو ته ودرېدل، وېل يې: راځه!

ورجګ شوم طبعاً هر انسان په ژوند کې ډېر ارمانونه لري، په داسې ورځ يا د مرګ د بلا ستوني ته د رسېده په وخت يې هر يو جلا جلا په زړه رااوري، دردوي يې. زما هم د نورو ارمانونو تر څنګ يو لوی ارمان دا و چې همدا کتاب مې اويا فيصده ليکلی و، په پاتې دېرش فيصده رانه پاتې کېدو يې ډېر خفه وم، ولې بيا هم څنګه چې په هر ليکوال، شاعر خپلې ليکنې او شعرونه ډېر ګران وي، لوی ارزښت ورته لري، پس که هر څو نيمګړی و، ومې نه لورېده، چې هغه اويا فيصده ليکلی متن مې دې هم زما له مرګ سره له منځه ولاړ شي.

دا و چې په همدې حساس وخت يعنې عمليات خانې ته د قدمونو اخستلو په جريان کې مې زر زر د موبايل فولډر خلاص کړل، ډاکټرانو نارې وهلې: زر راځه! ما مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروور عبيدالله مخ ته د موبايل سکرين ور نيغ نيغ کاوه، ورته کړل مې: دا مې د خپلې ځلورويشت کلنې ناروغۍ په اړه ځينې خاطرات ليکلي، که څه هم وخت ياري ونکړه، بشپړ مې نشوی کړلای، ولې بيا هم کم او زيات اويا فيصده مې راټول کړي، که چېرې ما له نننې عمليات نه بيا دنيا ته سترګې راونغړولې، همدې روغتون کې د نننې مرګ کيسه مې هم پسې ورروليکه، هر کله دې چې وس وشو، بيا دې که د يو کتاب بڼه ورکړه، ډېر به دې مننداوی يم.

طبعاً په ده به مې هم خبرې بد اغيز کړی وي، ليکنې ته يې وکتل، له څه وېلو پرته په پټه خوله يې موبايل رانه واخيست، جيب ته يې واچاوه، د خداپيامانۍ په کولو سره، زه عمليات خانې ته ترې ننوتلم، دی وربنکته شو، د روغتون د انګړ په چمن کې مو د کورنۍ غړو فرش هوار کړی و، ځينې نژدې دوستان مو هم راغلي و، څنګه چې ما ځان مړ ګڼلی و، دوی هم زما بې انرژۍ وجود، د عمليات لوی والي او د ډاکتر وېرونکو خبرو ته په کتو، نوي سلنه د مرګ د سپيره غږ او لس فيصده د عمليات د کاميابۍ د زيري په هيله دعاګانې په خوله منتظر ناست و.

عملياتخانه کې په چپرکټ له پرېوتلو سره سم مې ډاکترانو لاسونه د چپرکټ دواړو څنګونو ته د وزرونو په شان وتلو برخو کې کلک راوتړل، زړه کې مې زر، زر د الله ج اسماء او کليمې وېلې، چون له ملايانو مې اورېدلي و: کله چې يو څوک د کليمې په ويلو سره ويده شي، بيا د کوم لامل له وجې د همغه خوب په حالت کې مړ شي، الله ج به يې مستقماً جنت ته ولېږي، پس څنګه چې بې هوشي هم خوب ته ورته وضعيت دی، زما هم هيله وه، چې که په کې مړ شم الله ج به مې ددې اذکارو د ويلو په وجه وبښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تر څو مې ایات کرسي یا ځینې نورې کلیمې بشپړه ولې، د انستزي سپرې انتقالونکی ماسک یې په خوله او پوزه راکېښود، نور په ځان نه یم پوه شوی، د ډاکترانو په خبره د بې هوشۍ راکولو سره اذکار هم غېرې ارادي له خفیه حالت نه رانه په جهر شوي و، زما د کلماتو له بشپړېدو وروسته مې ډاکترانو د سینې په چاقولو شروع کړې وه.

یو زمان و چې غوږونو کې مې شراررر شو، د څه نور وخت په تېرېدو سره مې د ډاکترانو خبرې واورېدې او د یو ډېر سخت درد احساس مې وکړ، غوښتل مې چیغه وکړم، خو خولې کې مې د اکسجن دوه غبرګ نسبتاً ډبل پایپونه سږو ته تېر شوي و، غږ نه ترې وتلو، یو ډاکتر بل ته وېل: ته وګوره ناروغ ژوندی دی؟ په مخ پرته لته مې یې پورته کړه، ما سترګې وغړولې، تر څو پوه شي چې بې هوشي مې تللې، سخت درد احساسوم، خو ډاکتر مې د سترګو په غړولو هېڅ باک رانه وړه، لته یې واپس په مخ راوچوه، ملګري ډاکتر ته یې وېل: ژوندی دی.

ان دا مې احساس کړه، چې عملیات خلاص شوی، اخیري مراحل یې دي؛ نه پوهېږم برمه به و، که څه و؟ د ګنډلو یا کوک ترې یستلو لپاره یې د پوښتیو هډوکي پرې سوري کول، ډېر بد آواز او له حده زیات درد یې کاوه، څنګه چې خوله، ستونی بند و، فریاد او نالښت خو مې نشوی کولای، ممکن بدن به مې خوځولی وي، د مشر ډاکتر غږ مې واورېده، وېل یې: زر زر کړئ، ناروغ په هوش راغی، زړه کې مې ویل چې: کور دې ګډ مشه، اوس نه، نیم ساعت مخکې په هوش راغلی یم، ودې وژلم.

ولې بیا هم تر هغو چې سینه یې راګنډله او پس له عملیاته د زخم وینه او چرک پکې راتلو لپاره یې چې پایپونه په ګېډه کې د پوست د سوري کولو له لارې زخم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتېرول او بيا يې ترڅو نوموړي پاپيونه له پوست سره ګنډل چې ونه خېژي، ډېر وخت يې ونيوه، سم قيامت يې راباندې تېر کړ، ددې هر څه له کېده پس يې تړلي لاسونه راخلاص کړل، په ټولو سره يې د عمليات له چپرکټ نه راواخيستلم، نقليه تذکره کې يې عاجل بسترخونې ته راوړم، له خولې مې يې پاپيونه ويستل، د اکسجن، نبض، او وينې فشار معلومولو له دستګاګانو سره مې يې بدن وصل کړ، په يو لاس د وينې، بل کې يې د سيرومو له ستنو (کنولونو) راته لګولو وروسته، جراح ډاکتر نوکريوال ترېنر ته ووېل: په ده به دې ډېر پام وي، که څه مشکل پېښ شو، بيا زنګ ووهه، دوې نيمې بجې دي، ناوخته ده زه چېرې کار لرم.

د دوو نيمو بجو له يادولو يې پوه شوم، چې ورځ تېره شوې، ماسښين دی، لاندې انګړ کې کورنۍ او منتظر دوستان مو هم خبر شول چې عمليات يې پخير تېر شوی، سړی ژوندی دی، له عمليات خانې يې عاجل بسترخونې ته راوړی، هڅه يې کړې وه، چې راشي خو ډاکترانو اجازه نه وه ورکړې، يوازې عبيدالله راغی، په څېره يې خوشحالي خوره وه، وېل يې څنګه يې؟ د سترګو په اشاره مې پوه کړ، چې ښه يم، دوې شپې عاجل خونه کې وم، دربيمه يې د عمومي بستر لمړني اطاق او چپرکټ ته مې يې راواستوم، د بېلا بېلو دواګانو تر څنګ، دری وخته يې د درد پيچکاری راته لګولې، نور ښه وم، يوازې اکسجن مې کمېدل، پنځه دقيقې مې هم د اکسجنو ماسک له خولې او پوزې نشوی لرې کولای، مګر بيا هم په ټول کې خوشحاله وم، د بدن پړسوبونه ورځ تر بلې کمېدل، ډاکتران هم خوښ و، ډېره لويه او خطرناکه جراحي يې کاميابه شوې وه، خو له بده مرغه پس له لسو شپو په داسې حال کې چې بدن مې لا هم ۷۰ فيصده پړسوب لاره، په ټپه ودرېده، له دې نور نه کمېده، ډاکترانو يو ځل بيا د زړه د فعاليت معلومولو ايکوګرافي معاينه راته وليکه، د ايکو راپور کې راغلي و، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه فعاليت نسبت له جراحۍ وړاندې حالت ته ښه شوی، خو لا هم ضعيفي لري، ناپاکه وينه پوره نشي راټولولی، پس ډاکترانو په دې ډول د قناعت راکولو هڅه وکړه، چې ستا زړه ډېر کالونه د کلکې شوې پردې تر فشار لاندې پاتې شوی و، اوس چې آزاد هم شو، کاپي فعاليت ځکه نشي کولی، چې د ډېر عمر لپاره د بشپړ ډکېدو او خالي کېدو د ممانعت له وجې، خپله د زړه عضلات هم لنډ او ضعيفه شوي، صبر او وخت غواړي، تر راتلونکو شپږو مياشتو به يې ان شاءالله کرار کرار دا ستونزه هم خپله حل شي، نورمال فعاليت به پيل کړي.

که څه هم د ډاکترانو خبره تر ډېره هسې تسکيني راته ښکاره شوه، باور مې نه کېده، ګوګل کې مې چې د خپلې ناروغۍ په اړه پلټنې وکړې، د داکترانو خبره رښتيا وه (چت جي پي ټي) هم راته ووېل چې د زړه د کلکې شوې پردې جراحي يو دم نه، بلکې کرار کرار يعني اکثريت پس له دريو تر شپږو مياشتو يې بشپړه مثبت اغېزه راڅرګندېږي، په دې سره مې بيا هيله پيدا شوه.

ګېډه کې مې د بسته شو دوو پايپونو سره ډېر په عذاب وم، نه هسک کېدی شوی، نه ټيټ، نه هم د شپې لخوا په اړخ اوښتی شوی، کوم چې يو کې د ښي سږي جمع شوې اوبه بهر خلتې ته راوتلې، بل کې د زخم پس مانده وينه راتله، ښه و د وينې واله پايپ څو ورځې وروسته وچ شو، مګر دې بل د سږو پايپ ډېر وخت دوام وکړ، ان په ۳۶ مه ورځ يې چې له روغتون نه رارخصت کړم، کور ته مې هم راسره راوړه، د قدم وهلو يا ګرځېده په مهال به مې بې خلته لاس کې راسره نيولې وه، هرو پنځو شپږو ورځو کې مو يو ځال تخليه کوله، تکليف يې زيات و، بله ورځ مې حمام کاوه، د ګېډې په پوست کې يې چې په کومو کوکونو کلک کړی و، هغه وشکېدل، پايپ له سږي نه يو څه راوښوېده، خو لا هم اوبه پکې راتلې، پوره نه و خطا شوی، تر سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ګزاره ورسره وکړه، سبا سهار بيا روغتون ته ورغلم، ما فکر کاوه چې ممکن واپس يې راوګنډي، چون د سږي اوبه لا نه وې وچې، هره ورځ تر ۱۰۰ سي سي پورې اوبه پکې راتللې، مګر ډاکتر چې وليده، خدايزده مخکې له مخکې په کوم بل څه غوسه و؟ که ماته غوسه شو چې ګواکې ولې دې احتياط نه دی ورسره کړی؟ ځکه چې پرته له کومې پوښتنې يا څه ويلو همدې دهلېزه کې مې يې په ولاړو له ګېډې پايپ کش کړ، ويې ايستلو، د پخواني پانسمان خيرن بنداژونه او پلستر مې يې له ګېډې راپټ کړل، سره غونډ يې کړل، د پيپ د ځای په زخم يې کېښودل، ماته يې وېل: لاس پرې کېږده، کلک يې ونيسه، چې اوبه ترې رانشي، هغه مخامخ اطاق کې په يو چپرکټ پرېوځه.

دده د وېلو سره سم بنداجونه مې په زخم کلک ونيول، راپه ګوته شوي اطاق کې د مخې په چپرکټ پرېوتلم، زما هيله وه چې نوموړی ډاکتر به ستن، تار او د پانسمان وسايل راپسې راوړي، لوی زخم دی، لمړی به يې يو، دوه کوکه وګنډي، بيا به مکروب ضد دوا پرې ووهي، په نوي او پاکو بنداژونو، پلسترو به يې راته پانسمان کړي.

اما داسې ونشول، هغه ډاکتر خدايزده په کومه ولاړو، يو نرس يې راولېږه، پرته له ګنډلو او مکروب ضد دوا پرې وهلو يې نوي بنداژونه په خيرن زخم کېښودل، پلستر يې پرې کش کړ، وېل يې: څه صحيح شو.

سامانونه يې ټول کړل لاړو، زه له اخيره پسې راجګ شوم، چې کتل مې زخم سم نه و بند شوی، له ساه اخيستلو سره يې خوړ، خوړ آواز کاوه، هوا ترې وتله ننوتله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



واپس د نرسانو اطاق ته ورغلم، دا ځل يې ښه ډېر بنداجونه او پلستر پرې ولګول، ان تر ملا مې يې هم راتاو کړل، هواکشي يې بنده کړه.

نور راساً کور ته راغلم، دوا مې خوړله، د ډاکترانو د راکړې هيلې اړوند تر شپږو مياشتو د ناروغۍ د تدريجي ښه کېدو په طمعه شپې، ورځې تېرېدې.

د همدې کتاب ددې وروستۍ برخې ليکنه مې هم د شپږو مياشتو لپاره، يعني د عمليات د وروستۍ پايلې تر رامعلومېدو ځنډولې وه، بالاخره هغه شپږ مياشتې هم پوره شوې.

اما له بدمرغه صحت کې مې د ډاکترانو د خبرې اړوند کوم تدريجي ښه والی رانغی، ان هغه د عمليات په اولو شپو ورځو کې چې تر کومه ښه شوی وم، په هغه حال هم پاتې نشوم، واپس مې د پښو پړسوب څه زيات شو، روغتون ته ورغلم، ډاکتر مې چې له شپږو مياشتو وروسته د پښو پړسوب تقريباً په خپل پخواني حالت وليده، د زړه د وضعيت حال چکولو په پار يې د ايکوګرافي د معاينې پارچه راته وليکه، د معاينې راپور مې چې ورته راوړه، وېل يې: فعلاً ستا زړه کې خاص مشکل، نشته، نورمال فعاليت کوي.

ورغبرګه مې کړه: چې زړه کې مشکل نشته، بيا دا د بدن پړسوب ولې په خپل حال دی؟ تا خو ويل چې د زړه پرده دې کلکه شوې، د زړه کار يې محدود کړی، نفس تنګي او د بدن پړسوبونه دې ټول له دې وجې دي، که تر جراحۍ ژوندی ووتلې، په بشپړه بڼه به صحت ياب شې؟

کړل يې: معايناتو کې دې همداسې راغلي و، چې ګويا د زړه پرده کلکه شوې، خپله دنده په درست ډول نشي اجرا کولای، خو دا چې وروسته له جراحۍ او پردې لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو هم ستونزه حل نشوه، نه يوازې ستاسو ځور، تکليف او مصارفو ځای ونه نيوه، بلکې ستا د صحت او لاس نيوي لپاره زموږ هڅې او زحمتونه هم بې نتيجې شول.

د ډاکتر خبره ډېره دردونکې وه، خو څه مې ويلي وی؟ زړه ماتی يې له معاينه خانې راووتم، د عمليات ناکامي او د ناروغۍ په خپل ځای پاتې کېدل مې د تل په څېر يو ځل بيا دا هر څه خپل نصيب او د الله ج يو بل ستر ازميښت وګاڼه، د اجر د شتون په اميد مې يې خپل خفګان کابو کړ.

اګر چې ناشکري نشي، د بدن د پړسوب په کموالي او سينه بندۍ کې مې د عمليات يوه اندازه فايده همدا اوس هم محسوسه وم، اما نسبت د عمليات لويوالي، تکليف او خطر ته دا ډېره جوزي فايده ده.

خو په هر صورت د کتاب د وروستيو صفحو په بنه خپلې خبرې به په دې واقعيت راټولې کړم، چې که هر څو شاوخوا دونيمې لسيزې يا تقريباً ټول عمر په يوه سخته ناروغۍ مبتلا وم، ددې وروستي عمليات په شمول ډېر دردونه، تکليفونه مې وګالل، بار بار يې تر مرګ پورې راورې کړم، ولې بيا هم له الله ج خوښ او راضي په دې يم، چې مقابل کې يې د خورا صبر او حوصيلې راکولو سره سره، په ډېره مهربانه او صيله رحمه کورنۍ هم نازولی وم، دوئ تر اخيره زه خپلې ناروغۍ ته يوازې پرې نه ښودم، د مور او پلار سربېره فرد، فرد خويندو ورونو مې نهايي عزت او خدمت وکړو، خورا زحمتونه يې راسره ويستل، ان د خپلې خولې د ډوډۍ، لباس او اوليه ضرورتونو پيسې يې زما په درملنه ولګولې.

لمړی خو دې الله ج ماته صحت او وس راکړي، چې عوض کې يې د مشر زوی، مشر ورور يا لالا په صفت واپس د دوی په خدمت، ناز، مينه او خوښي ورکولو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زړه تڼاکه وچووم، دويم قدم کې يې له ماسره د کړو نيکيو او ايستلو زحمتونو په بدل کې، د کايناتو له ستر مالک نه په دواړو جهانونو سر لوړي، خوښ او آرام غواړم.

خو ددې هر څه سره سره څنګه چې وپل کېږي: روغ صحت نيمه پاچاهي ده، اصلاً ماته دا خبره هم د خندا وړ ده، چون زما له ديدګاه د صحت په مقابل کې نيمه پاچاهي بېخي ناچيز شی ده، د يو ناروغ په صفت، زه وايم نيمه څه، حتا له ډېرو پاچاهيو هم زيات څه دي.

باور وکړئ، ماته که همدا شيبه الله ج ووايي، چې ايا ددې ټولې دنيا پاچاهي درکړم، که صحت؟ يقيناً زه به پرته له فکر کولو، په ډېر جديت او لوړ غږ د صحت ناره وکړم، باوري يم چې د بل هر سخت او اوږده مهاله ناروغ انتخاب به هم صحت وي.

منم په دنيا کې هېڅ څوک جوړ او ناجوړ بې ستونزو، کړاونو نه دي، مګر څه چې په دايمي سختو ناروغانو يا معلولو کسانو تېرېږي، روغ خلک يې تصور هم نشي کولای.

زه رحمان د خدای ج بنده يم دا مې حال دی

چې بنده د بل بنده شي څه به بې حال وي؟

ناروغان او معلول کسان تل احتياج او د نورو ترحم ته ناست وي، پس ولوکه هر څو زما په شان مهربانه کورنۍ، دوستان او ملګري ولري، بيا به هم له حده زيات درد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې پرې تېرېږي، ولې کله چې يو انسان د ناروغۍ يا کوم بل عذر له وجې ونشي کولای، خپلې اوليه ستونزې خپله حل او ضرورتونه پوره کړي، هرو مرو به د خوارۍ خوا ته ځي، نور انسانان په هېڅ صورت نشي کولای، چې خپلو اړتيا و ته د رسيدګۍ تر څنګ د اوږد مهال لپاره، د يو بل اړ کس اړتياوې هم ورسره پوره کړي، ولوکه هر څو خواخوږي يې وي او نه انساني فکر دا ايجابوي چې د اوږدې مودې لپاره يې دې يو چاته پام وي او د مهربانۍ نظر دې پرې ولري، انسان د طبعيت له مخې هر څه سره عادت کيږي، معنا لمړی که يو څه ډېر مهم او جدي هم ګڼي، خو د وخت په تېرېدو کرار کرار ورسره بې پروا کيږي، بالاخره له پامه يې لوېږي، ان هغه يې که د کورنۍ يو ناروغ يا معلول کس هم وي، ممکن ليدلي مو وي ځينې کورنۍ ډېرې شتمې وي، روغ کسان يې ښه په عيش او نيش کې ژوند کوي خو يو معذور کس پکې خوار وي.

پس زه هم له نورو ناروغانو او معذورو کسانو استثناء نه يم، د خپلې کورنۍ د ډېرو صيله رحمه، مهربانو غړو، دوستانو او خواخوږو د خواخوږۍ سره سره، ډېرې ګرمې او سردې مې هم وليدې او وينم يې، له کورني او فردي ژوند هاخوا په ټولنيز ژوند کې زياتره وخت د ځينو کسانو د ډېرو بدو برخوردونو او ناانساني چلندونو هم په زړه ذرې ذرې يم، کوم چې مخکې مې يې د يوې بلګې په ښه د پوهنتون د معاون د چلند کيسه درسره شريکه کړه.

د ناروغۍ له وجې مې بار بار د ټوکو، مسخرو او خنداګانو کربه شوی يم.

له دويمې خبرې سره اول دا پيغور خو د ډېرو تر خوله راوتلی چې خدای ج پېژندلی يې چې داسې يې کړی يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز له دومداره ناروغۍ يا معلوليت سره طبعاً پوره پوره مالي احتياج او بې خرڅي هم تړلې وي.

مطلب يو معلول يا زما په شان اوږد مهاله ناروغ چې نه مري، نه ژوند کولای شي، دوی نه يوازې له خپلو بدني دردونو او تکليفونو کړېږي، بلکې له روحي اړخه هم په کورني او ټولنيز ژوند کې له ډېرو چلينجونو سره مخ وي، ډول ډول رواني شکنجې ورکول کېږي، خاصتاً زموږ او تاسو په جګړه ځپلي، وروسته پاتې هېواد او ټولنه کې.

بلخوا ناروغي د نورو ستونزو په شان همغه يوه ستونزه پورې محدوده نه پاتې کېږي، هره ورځ د ژوند نورې برخې تخريبوي، نوې نوې ستونزې زېږوي.

ځواني له سړي يوسي تور وېښته له سړي يوسي

کرار کرار اخته وي وخت هر څه له سړي يوسي

که څه هم درويش دوراني صاحب په پورتني بيت کې د وخت له جبر نه شکايت کړی، خو زه وايم: وخت قربان شم، نسبت ناروغۍ ته څه ترحم او صيله رحمي لري، حداقل يو دری څلور، لسيزې مهلت سړي ته ورکوي، ناروغي بېخي ظالمه ده، په ډېره چټکۍ سره، ځواني، انساني وقار، هيلې اميدونه او هر څه له سړي لوټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناءً ناروغۍ ته د لسګونه نورو ستونزو د زېږون د ځانګړتيا له مخې يې د ستونزو مور هم ويلی شو.

پس وروستۍ خبره دا چې، که صحت مو جوړ وي؟ بدن او ژوند کې مو د ستونزو مور نه وي لنګه؟ له شک پرته، تاسو د صحت په نوم د يوې نهايي سترې هستۍ مالکان ياست، له الله ج ډېر ډېر شکر ګزاره اوسئ او تر څنګ يې کلي، کور، ټولنه کې له ناروغانو او معلولو کسانو سره تر خپله وسه همدردي مه هېره وئ، يوازې يوه خوږه خبره او په ورين تندي سلام مو هم د دوی لپاره ډېر څه دي.

وما علينا الا البلاغ مبين

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله ده چې سوء تفاهم نشي، د کتاب د لیکوال په حیث د خپلې اسلامي عقیدې او اخلاقو له مخې ټولو واقعي او نیکو علماؤ، ملا امامانو ته د ټولنې د سترګو او حضرت پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د وارثینو په صفت، پوره پوره درناوی او احترام لرم. نوموړي کتاب کې چې د ملایانو په اړه کوم حکایات راغلي، هدف هغه ملایان دي چې د ملایانو له نوم نه په استفادې سره یې زموږ د ټولنې غریب او ناپوهه وګړي په بېلا بېلو ډولونو لوټول/لوټوي. چون هېڅ کوډګر او ټګمار نه وایې چې زه کوډګر یا ټګمار یم، بلکې دوی ټولو د ملایانو او بزرګانو په نوم فعالیت کاوه/کوي.
ممکن کتاب کې به مو لوستي وي، یا به یې ولولئ، په دې لړ کې د بعضې نېکو او واقعي مولوي صاحبانو، ملا امامانو په اړه هم یو نیم نقل قول راغلی، کوم چې په شرعي طریقه دم او دعا یې کول/کوي. دا چې بیا زه یا نور ناروغان ورسره شفایاب کېدل، یا نه کېدل، هغه بېل بحث دی. دلته یې ما له کمې، زیاتې پرته، د دم او دعا عیني طریقې یوازې د خپلو خاطراتو په پار را اخیستې دي.
دغه راز د کومو زیارتونو په اړه چې یکې راخي، زه یادو زیارتونو کې د دفن شویو شخصیتونو اړوند معلومات نه لرم، نه مې یې خدای (جل جلاله) مه کړه، کوم تحقیر کړی، نه یې د ځان حق ګڼم، نوموړی کتاب صرف زیارتونو کې د دفن شو مړو نه، زموږ د ځینو ژوندیو په بېلا بېلو، روا او ناروا طریقو د صحت یابی او نورو قسما قسم هیلو د پوره کېدو په تقاضا او غوښتنو راتول دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**